د لوړو زده کړو وزارت
کابل پوهنتون
د ښوونې او روزنې پوهنځی

# د اروا پوهنې ښوونځي

ليکوال: پوهاند گل رحمن حکيم

خټکو د بيارغونې اداره (کور)
Khatiz Organization for Rehabilitation (KOR)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ختیځ د بیا رغونې اداره (کور) د خپرونو څانګه، خپرنۍ لړۍ-۱۷

## د لوړو زده کړو وزارت
## د کابل پوهنتون
### د ښوونې او روزنې پوهنځی

# د اروا پوهنې ښوونځي

لیکونکی: پوهاند ګل رحمن حکیم
د ښوونې او روزنې د پوهنځي استاد

۱۳۷۸ هجري لمریز د کب میاشت/ ۱۴۲۰ هـجري سپوږمیز

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : د اروا پوهنې ښوونځي

ليکوال : پوهاند ګل رحمن حکيم

ليکګر :صديق الله بدر

خپرونکی : د کور د خپرونو څانګه

مهتمم : ډاکټر محمد فريد بزګر

شمير : ۵۰۰ ټوکه

د چاپ نېټه : ۱۳۷۸ هجري لمريز - کب / ۱۴۲۰ هـجري سپوږميز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه:

دا کتاب چې د «اروا پوهنې ښوونځي» تر عنوان لاندې لیکل شوی دی، زما د زیار او هاند نتیجه ده چې وروسته د کلونو تدریس، تالیف او د اروا پوهنې د بیلابیلو منابعو له مطالعې څخه، د محترمو پوهانو او مینه والو حضور ته وړاندې کیږي.

دا اثر د لومړي ځل لپاره په ۱۳۷۰ لمریز کال کې، د ښوونې او روزنې د اروا پوهنې د درېیمو ټولګیو لپاره ولیکل شو.

دا دی هغه اثر د ځینو اصطلاحاتو او کمي او کیفي بدلونو سره بیره د یوې مبسوطې سریزې په زیاتولو سره، په اوسني شکل واوښت. هیله ده چې په راتلونکي چاپ کې د نورو اصطلاحاتو، نویو طرحو او نظریاتو زیاتولو سره توفیق زما په نصیب شي.

په حقیقت کې د «اروا پوهنې ښوونځي» او پدیدې په هر وخت کې د بشري ټولنې او په خاصه توګه د څېړونکو او روزونکو د پام وړ وې، له ډېرې لرغونې زمانې څخه فیلسوفانو او ټولنپوهانو اروا پوهنه د ټولنې د فرهنګي ودې او پرمختګ لپاره یو بنسټیز عامل ګڼله او په دې ګروهه وو چې د ځان او په عامه توګه پرته د انسان له پېژندنې، نشو کولای د هېواد او ټولنې د پرمختګ او لوړتیا انتظار ولرو. د دې منظور د سرته رسولو لپاره د نړۍ نامتو پوهانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «ارواپوهنې د ښوونځيو» د موضوع ټاکنې او څېړلو د طريقو له پاره ځانګړي وړاندېزونه کړي دي. ځينو په ذهني د سپينو، د طبيعت په سپړلو او ځينو به په ذهني تصوراتو تاکيد کاوه.

په شلمه پېړۍ کې ارواپوهان په دوو ډلو وېشل کېږي. ځينې د تجربي ارواپوهنې او ځينې د عقلي او منطقي ارواپوهنې پلويان ګرځي. دا پېړۍ باید د ارواپي (رواني) ښوونځيو د پراختيا او پرمختګ دوره وشمېرل شي ځکه چې دې ښوونځيو د نولسمې پېړۍ د دوهمې نيمايي څخه بيا تر 1912 پورې په ډېرې چټکتيا سره، وده او پراختيا وموند، خپلې څېړنې يې په علمي بنسټ پيل او د زده کړې پروګرامونو ته يې لاره خلاصه کړه.

ليکوونکي زيار ايستلی چې د هر ښوونځي موضوع او د څېړنې او مطالعې طريقه په لنډه توګه توضيح او بيان کړي.

د دې کتاب سريزه فلسفي ارواپوهنه، د علمي ارواپوهنې د پيل او پوهيدو لپاره په نسبتاً لنډ ډول شرح کوي. بيا لومړی څپرکی د ارواپوهنې تاريخي سير بيانوي، دوهم څپرکی د تداعي ښوونځي په هکله چې ډېر لرغونی انګليسي ښوونځی دی او ځينې مطالب يې لا تر اوسه د تدريس وړ دي په زړه پورې تطبيقي مواد راټول کړي دي. دريم څپرکی د شعور په هکله د «جوړښت ښوونځی» تر عنوان لاندې د ذهن جوړونکي اجزاوو توکي (عناصر)، په هکله معلومات وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی د عمل د اصالت ښوونځی دی، دا ښوونځی د شعور یا ذهن په کارول او اړیکې یې د چاپېریال سره څېړي. پنځم څپرکی د سلوکي ښوونځي موضوع ده چې په ځانګړې ډول حرکت او د فعالیت کنټرول او اټکل دی. په علمي طریقه تر څېړنې لاندې نیسي. شپږم څپرکی د روانکاوی تر عنوان لاندې شعور په دوه ډوله یا برخو ویشي او د ظاهري سلوک اصلي عوامل د شعور په تیاره برخه کې لټوي. اووم څپرکی د ارواپوهنې دریم بُعد یا دریم قوت «د بشري ارواپوهنې» تر سرلیک لاندې د انسان د سلوک او فعالیت په هکله، د تجربتي او عقلي ارواپوهنې د اصولو او قوانینو په کارولو سره معلومات وړاندې کوي.

د دې لوستونکو د اسانتیا په خاطر زیار ایستل شوی چې د ارواپوهنې د اصطلاحاتو معادلې کلمې په انګلیسي، د مخونو او د کتاب په پای کې د یوې مجموعې په توګه په الفبايي ترتیب ولیکل شي.

په پای کې له محترم اسمعیل یون او صدیق الله بدرېچي د کتاب په ترتیب کې او همدارنګه له ښاغلي فرید بزګر نه چې په چاپ او خپرولو کې یې خاصه پاملرنه کړې، د زړه له کومې مننه کوم.

په درنښت

ګل الرحمن حکیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اروا پوهنې ښوونځي

د پوهنیزو آثارو خپرول د یوې ژبې او ملت د ودې او پرمختګ لپاره ډېر مهم دي. هغه وخت چې پر کابل پوهنتون د جګړې ناتار نه و خور شوی، نو ګڼ شمېر درسي او مرستندوی درسي کتابونه، مجلې او نور پوهنیز کتابونه یې خپرول. دغو آثارو پر خپل وخت د پوهنتون د محصلینو درسي ستونزې خړوبولې او د استادانو د پوهنیزو تجربو او معلوماتو په زیاتون کې یې کارنده رول درلود. د جګړې له کبله د کتابونو او پوهنیزو اثارو خپرول په ټپه ودرېدل. د پوهاند صاحب ګل رحمن حکیم دا علمي اثر هم لږ تر لږه د اتو کلونو په بهیر کې د چاپ جوګه نه شو.

دا اثر چې د اروا پوهنې بېلابېل ښوونځي راپېژني او پر یو شمېر نورو، اروایي مسایلو بحث کوي، د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي کې د یو درسي کتاب په بڼه تدریسیده، چاپ یې د نوموړي پوهنځي محصلینو ته خورا مهم و. د دغې اړتیا له کبله ما له پوهاند صاحب ګل رحمن حکیم سره د دغه اثر د چاپ په باب خبرې وکړې. استاد د دې کتاب یوه لاسکښلې نسخه ما ته راکړه. ما د هېواد ځوان لیکوال او شاعر ښاغلي صدیق الله بدر ته د خطاطۍ لپاره ورکړه. بدر صاحب په ډېره مینه په وړیا ډول دا کتاب خطاطي کړ.

د چاپ لپاره مې د هېواد له ډېر تکړه لیکوال او روغتیا پال ښاغلي ډاکټر محمد فرید بزګر څخه چې د علمي کتابونو له خپرلو سره ډېره زیاته مینه لري او تر اوسه یې پخپله هم ګڼ شمېر طبي، ادبي او نور پوهنیز کتابونه چاپ کړي دي، هیله وکړه، ښاغلي ډاکټر فرید بزګر زموږ هیله پوره کړه او دا پوهنیز کتاب یې پخپل لګښت چاپ کړ.

زه د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي محصلینو او پوهاند صاحب ګل رحمن حکیم ته د دغه کتاب د چاپ له امله مبارکي وایم او له ښاغلي صدیق الله بدر او ګران ډاکټر فرید بزګر څخه ډېره مننه کوم چې دا کتاب یې د چاپ جوګه کړ.

په مینه او درناوي

د پوهنیزو او ادبي کتابونو د خپراوي او د هېواد د فرهنګي بډاینې لیوال

پوهنیار محمد اسمعیل یون

۱۳۷۸/ لړم/ ۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# د خپرونکي سریزه

په خپله ژبه د پوهنیزو موادو (کتابونو، مجلو، ورځپاڼو، رسالو، خبرنو، اخبارونو، قاموسونو، اطلسونو، او نورو) نه موجودیت د دې سبب شوی چې افغانان نورو ژبو ته مخه کړي، که د دوی مجبوریت او اړتیا په خپله ژبه رفع شي، هیڅوک به بلې ژبې ته ترجیح ور نه کړي.

پوهه او د پوهې زده کړه دوامداره اړتیا ده، هیڅوک نه شي ویلی چې ګوندی ما فلانی کتاب او یا کتابونه ولوستل او اوس زه په هر څه پوهیږم. په دې مانا چې په یو کتاب یا یو څو کتابونو کې ټوله ننني پوهه نه شي راټولیدی. حتی د یوې ځانګړې څانګې یوه کوچنۍ برخه په یو یا څو محدودو کتابونو کې نه شي راټولیدی. د بېلګې په ډول، همدا اروا پوهنه به په نظر کې ونیسو، او یا همدا ستاسې په لاس کې کتاب به په نظر کې ونیسو، دا یوازې د اروا پوهنې د ښوونځیو په هکله غږیږي، خو د اروا پوهنې نورې برخې لکه د ویرې اروا پوهنه، د خوب اروا پوهنه، د هوښیارتیا اروا پوهنه، د ماشوم اروا پوهنه، جنسي اروا پوهنه، د ښځو اروا پوهنه، د بلوغ د وخت اروا پوهنه، د جګړه ځپلو وګړو اروا پوهنه، د وجود ژبه، د رنګونو اروا پوهنه، د مجرمینو اروا پوهنه، مصنوعي خوب او داسې په سلګونو نورې څانګې یې په یو کتاب کې راټولول ناشونی کار دی. نو افغانانو ته هم په مختلفو ساحو کې په مختلفو سویو د پوهنیزو موادو اړتیا ده.

له بده مرغه په دې اوږده تېل شوې جګړه کې چې زموږ د کور کوډلې له سولو پرته یې زموږ ټوله شتمني له خاورو سره خاورې کړه زموږ ټول د زده کړې کره سیستم هم ګډوډ شو. اوس باید ټول افغانان لاسونه سره راونغاړي او د خپل هېواد د بیا رغولو ته ملا وتړي، او په ځانګړي ډول د هېواد د ملا تیر او که ووایم بنسټیز عنصر یعنې پوهې ته ځانګړې پاملرنه وکړي. دا کار په یوازې ځان نه کیږي، لکه چې مخکې مې وویل افغانان باید سره لاسونه ورکړي او هر څوک د خپل وس په اندازه په خپل مربوط کار کې ونډه واخلي، چې دا کتاب د دغه عمل ښه بیلګه ده. قدرمن پوهاند صاحب د کتاب د لیکلو درونډ بار په غاړه واخیست، ښاغلي صدیق الله بدر په خپلو هنرزیرونکو ګوتو خطاطي کړ، د پوهنیزو او ادبي کتابونو د خپراوي او د هېواد د فرهنګي بډاینې لیوال ښاغلي محمد اسمعیل یون په وسیله کتاب ما ته راورسید، او موږ هم د خپلو ډیرو محدودو امکاناتو څخه په استفادې کتاب چاپ کړ، یانې هر یوه خپلې وسې کار وکړ، او دا کتاب یې د چاپ جوګه کړ.

نټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

قصه نوره نه اوږدوم، د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې خوږو محصلینو او دروند او قدرمن پوهاند صاحب ګل رحمن حکیم تــه د دې پــه زړه پــورې کتــاب مبــارکي وایم، او پــه ټولــه افغاني مینه یې د افغانستان د زده کړې او پوهې لوی کانون د کابل پوهنتون ته، چې ډیرې سختې شپې ورځې په تیرې شوي دي، ډالۍ کوم.

په دې هیله چې د دې کتاب هر لوستونکی دومرهٔ ستر شي، چې نور افغانان په ویاړ ووایــي، چې فلانی افغان دی، د سترګو تور محصله ستاسې د پوهنځي په څنــګ کــې د افغــان ســید جمال الدین مقبره ده، هغه یوازې د افغانانو ویاړ نه بلکې د سیمې ویاړ دی. زه غواړم چـــې د دې کتاب هر لوستونکی د سیمې ویاړ شي.

په خورا درنښت

ډاکټر محمد فرید بزګر

د ختیځ د بیا رغونې (کور) مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک

لومړی څپرکی ........ (۱)

فلسفي اروا پوهنه ........... (۱)

سقراط ....... (۴)

افلاطون ....... (۵)

ارسطو ..... (۷)

اپیکور .... (۱۲)

زینون .... (۱۳)

دوهم څپرکی ...... (۱۶)

د علمي اروا پوهنې تاریخي سیر .... (۱۶)

لومړی مرحله ....... (۱۶)

دوهمه مرحله ....... (۱۷)

دریمه مرحله ...... (۱۷)

د علمي طریقې نیمګړتیا (۱۹)

د نوي سیستم یا فکر پیدایښت (۲۰)

د اروا پوهنې د ښوونځیو فهرست (۲۲)

دکارت ......... (۲۴)

هابس ........ (۲۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د نولسمې پېړۍ اروا پوهنه (۲۶)

د ربیم څېړنې .... (۳۲)

د تداعي د اصالت لرغوني ښوونځي (۳۳)

د اصالت تداعي مخکښان (۳۷)

د اصالت تداعي متأخر ښوونځي (۳۹)

هربارټ (۳۹)

د هربارټ د پیدایښت له نظریې څخه ګټه (۴۲)

د زده کړې مرحلې د هربارټ له نظره (۴۳)

د ابېنګهوس د تداعي نظریه (۴۵)

د اصالت تداعي نني ښوونځي (۵۰)

تارندایک (۵۱)

د پاولوف شرطي .... (۵۴)

څلورم څپرکی: د شعور څېړونکي ښوونځي (۵۸)

د اروا پوهنې جوړښتي ښوونځي (۵۸)

د تیچنر د عقاید و اصول (۶۳)

د عمل د اصالت ښوونځی (۶۸)

د جېمز انګل څېړنه (۶۹)

د ژوند د بقا اصل (۷۲)

د جان ډیوي د څېړنو طریقه (۷۴)

ادراک د جان لاک له نظره (۸۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ویلیام جیمز اروا پوهنه «۸۲»

پنځم څپرکی «۸۶»

د سلوک د اصالت ښوونځی «۸۶»

د واټسن سلوکي نظریه «۸۶»

د سلوک علم د سکینر له نظره «۹۵»

د طبیعت او انسان اړیکې «۹۶»

د جبر او سلوک رابطه ....... «۹۹»

شپږم څپرکی «۱۰۵»

د گشتالت ښوونځی «۱۰۵»

د گشتالت څرنگوالی او اهمیت «۱۰۵»

د شکل او ځمکې نقش ....... «۱۰۹»

د گشتالت د ښوونځي قوانین «۱۱۱»

د جامعیت یا تعادل قانون «۱۱۱»

د مجاورت قانون «۱۱۲»

د مشابهت قانون «۱۱۳»

د پیوستون قانون «۱۱۳»

د نیک پیوستون قانون «۱۱۴»

زده کړه د گشتالت له نظره «۱۱۴»

د ادراک اهمیت په گشتالت کې «۱۱۵»

د بصیرت نقش «۱۱۶»

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سلوک او زده کړې اړیکې (۱۱۶)

دروند فضا (۱۱۹)

رواني چاپېریال (۱۲۱)

اووم څپرکی (۱۲۴)

د روانکاوۍ ښوونځی (۱۲۳)

اتم څپرکی (۱۲۷)

د ارواپوهنې درېیم قوت (۱۲۷)

هیومانیزم (۱۲۷)

بشري ارواپوهنه (۱۲۸)

اصطلاحګانې ( ۰ )

اخځونه (۱۳۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## سریزه :

## فلسفې او پوهنه

لرغونو یونانیانو په خاصه توګه له سقراطه څخه د مخه فیلسوفانو علم د کائیناتو په پیژندلو پیل کړ . د دې زیار ایسته چې د نړۍ راز درک او لومړی جوړونکې ماده یې پیدا کړي یا په بل عبارت له سقراط نه د مخه فیلسوفانو غوښتل پوه شي چې او وویني چې نړۍ له څه شي څخه جوړه شویده .

هر یو فیلسوف د یوه آر (اصل) پر اساس یو له دغو موادو څخه لکه اوبه ، هوا ، اور ، او خاوره د کائیناتو د کوچنۍ ذرې او لومړي واحد په توګه وپیژانده او لومړی عنصري سیستم یې را مینځته کړ دې فیلسوفانو به دا انګیرله چې د خارجي جهان ظاهري بڼه او صورت ترکیبي جنبه لري او ډیر پیچلی معلومیږي ، خو که تحلیل او تجزیه شي نو ساده او آسانیږي . دې پوهانو به دا ادعا هم کوله چې موږ خارجي جهان هغه وخت پیژندلی شو چې ترکیبي واحدونو ته یې ورننوزو د همدې ګروهې (عقیدې) پر اساس فزیکي څیړنې پیړۍ پیړۍ د اتم په حریم کې پاتې شي ، بیولوژي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هر ژوندي موجود (ارګانیزم) جوړونکې واحد ته سلول یا ژوونکه (حجره) وویله او د اروا پوهنې د فیلسوفانو له اصولو سره ساده تصور، احساس او د بنیادم سلوک، د ذهن د جوړونکي واحدونه، اصلي او (موضوع) نه ده، بلکې هغه شریکه طریقه ده چې په ټولو کې باید یو ډول وي. دوی په دې باور وو چې که موږ پوه شو چې پنځه (طبیعت) له ساده او یوځای څخه جوړه شوې دی، نو کولای شو چې د ترکیب (اجزاوو) د ترکیب له طریقه یې هم پیدا کړو او که اجزاوې ولرو نو کولای شو چې ټول (کل) هم د اجزاوو له ترکیب څخه جوړ کړو.

بله پوښتنه چې د فیلسوفانو ذهن او پاملرنه ځان ته راګرځوله دا وه چې څنګه کولای شو په حال او احوال وپوهیږو او پېژندګلوي پیدا کړو، دې پوښتنې په لومړي سر کې روحي او رواني بڼه نه درلوده او مطلب یې دا نه وو چې څنګه زده کړه کوو، بلکې د پوهنې صحت او اعتبار متوجه وه. خو هغه دې فلسفي بحث ورو ورو د اروا پوهنې د بحثونو لپاره لار پرانستله او دا پوښتنه رامنځته شوه چې څنګه زده کړه او پېژندګلوي ترسره کیږي، همدا ډول بحثونه د دې سبب شول چې په لومړنۍ یونان کې سوفسطایان را پیدا شي. نو ویلای شو چې سوفسطایان د معرفت د بحث مخکښې لار ویان دي. دې ډلې فیلسوفانو نوي اندونه او نظریات رامنځته کړل. په لنډ ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید ووایو چې همدوی د فلسفي بحث او علمي اړیکو ته چې د کائیناتو او بهرنۍ نړۍ په هکله و ، بدلون ورکړي او د انسان په باب یې راو ـ ګرځاوه چې عامه توګه دا یوه اړوایي یا رواني څېړنه توجیه او تعریفولای شو . دې پوهانو ، فلسفه د وسیلې په توګه وشمېرله او په دې باور شول چې نور باید د ژوند او هغې پایلې په هکله چې د حیات په فلسفه کې نغښتې ده و غږېږو . نو ځکه خطابې تدریس د یوې وسیلې او د ژوند د تجربې په توګه پیل شو . د همدې فلسفې پر بنا د دې فیلسوفانو له منځه د خطابې د ریتګرۍ مربیان راپورته شول او د عقل او ذکاوت په نقادي او د علم او پوهې په صحت او ورغوالي یې پیل وکړ . خو له دې فیلسوفانو څخه ځینو د ګټې لاره غوره کړه ، زښت او ځینې یې ، نرم او سها ستیه او بد او ناروالي ، نیک او ... روا ... شکاره او ورپېښول ، د هغې ورځې له غښتنې سره سم ، سوفسطایانو فصاحت او بلاغت د خطابې سره یوځای کړل . نو خطابه د ژوند غټه وسیله او د هغه وخت ډیر عالي هنر وګرځید . دوی به ویل چې موږ رښتني علم ته نه رسیږو نو باید د ژوند په علم او همداسې په تولنه کې د کامیابۍ او بریالیتوب په لار پوه او بریالي شو او دا بریالیتوب د خطابې په فن کې نغښتې دی دا نظریه لا اوس هم د ځینو تنیو اروا پوهانو له ګروهې سره برابره والی لري .

دې نظرېې سره سم د مسایلو عوارضو او تظاهر ته پاملرنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راګرځي ، د وضعي او جریاناتو پېژندنه د ژوند د ګټو په خاطر مطالعه او څېړل کېږي .

سقراط : په دغه زمانه کې وچې سقراط ( ۴۶۵ - ۳۹۹ م ) که څه هم له سوفسطایانو سره مخالف او د هغوی خطاوې او تېروتنې یې څرګندولې خو په یوه موضوع کې یې له هغو سره شریکه او مشترکه وجهه درلوده ، هغه دا وه چې انسان خو ځان و نه پېژني د کائیناتو په هکله باید بحث او مناقشه و نه کړي دې ځای کې د سقراط موخه دا نه وه چې موږ د نړۍ په احوال او علم نه شو پوهیدی . مطلب یې دا دی چې خلک باید پوه شي چې د ر ښتیا او حقیقت پیداکول او کشف په ځان پېژندنه او د ښو او خپو پالل انسان ته د ډیرې مقدمه او وسیله برابروي چې د نړۍ حالات او وضع تحلیل کړي . بل دا چې انسان باید خپلو همنوعو سره ژوند وکړي . نو ځان پېژندنه په څیړونو کې یو طبیعي امر او پدیده ده .

سقراط دا دعوه هم کوله چې انسان داسې پوهې ته اړتیا لري څکه چې همدا پوهه انسان ته څواکمنوي چې خپله دنده وپېژني او پرهیزګاري وکړي . د سقراط په ګروهه پرهیزګاري د پوهې معلول دی ، ټولې ناخوالې او بدبختۍ د ناپوهۍ او جهل نتیجه او ثمره ده . سقراط عقیده درلوده چې پوهه د انسان په فطرت کې بالقوه وجود لري او د پېژندګلوۍ هسته په بدن کې موجوده ده ، باید وده ورکړل شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سقراط به ویل چې انسان یې اخلاقي موجود دی ، همدې وینا هغه یې ممتاز او مشخص شخصیت گرځولی و .

سقراط به ویل چې دانسان په تحلیل کې باید هغو اړیکو ته چې د همنوعانو او د دولت سره یې لري پاملرنه وشي . دانظریه په یوه لحاظ دارسطو سلوک پیژندونکو له نظر سره یوشان ده ځکه چې د سلوک د پوهنې طرفداران پدې گروهه دي چې باید دانسان د آخذې د دستگاه ارتباط له محیط سره وڅیړل شي ولې باید پام ولرو چې د سلوکي پوهنې پیروان د فرد یا شخص فزیکي چاپیریال ته ډیره پاملرنه کوي ، خو سقراط تر هرڅه د مخه دانسان ټولنیز چاپیریال ته ډیر علاقمند و .

په دې ورو وستیو کلونو کې د اروا پوهنې علم هم دا طریقه وړاندې کړې چې ټولنیزه اړیکه مهم گڼي او اخلاقي مسئلو ته پاملرنه کوي ، له همدې کبله ټولنیزه اروا پیژندنه رامنځته شوه او لري نه ده چې د اروا پیژندنې په ټوله برخو څپل سیوری وغوړځوي .

## افلاطون :

پوهان پوهیږي چې د سقراط ډیر مشهور او لوی شاگرد افلاطون ( 428 - 347 ) دی . که فلسفه په مشائي او اشراقي وویشل شي نو افلاطون د دوهمې ډلې په سرکې راځي او مقام

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې لوړ دی ، دی لومړنی شخص دی چې د ذهن او ماد ې ، د بدن او نفس تر منځ یې توپیر وکړ او ثنویت یې را منځته کړ . په بل عبارت د انسان وجود ته یې د ثنویت په سترګه وکتل ، دا نظریه د تاریخ په اوږدو کې د فیلسوفانو د پاملرنې وړ وګرځیده او لا ویلی شو چې د د فلسفې اساسي بحث پدې محور څرخیږي .

افلاطون عقیده درلوده چې د معقولاتو نړۍ ډیره عالي نړۍ ده ، چې فرد کولای شي ځان پرې مشغول کړي او ډیر لوړ بشري امکانات له نظره تیر کړي . افلاطون باور لري چې دا د معقو -لاتو په سیر او د بهرنۍ نړۍ په مشاهده کې ، تصوراتو او اشیاو ته پام وګرځاوه او د دوی تر منځ یې توپیر پیدا کړ . دی ادعا کوي چې تصورات په عقل او شیان په حواسو درک او پیژندل کیږي . دی وایي چې معقولې چارې معتبرې دي او محسوس هغه دومره اعتبار نه لري دا اشاره هم کوي چې معقول امور کمال ته نږدې دي . او د کمال داسې حالت ښیي چې په هیڅ ډول په محسوساتو د درک وړ نه دي . د مثال په ډول د ښایست تصور بې زیانه دی او همیشه وي خو ښایسته شیان په بل ارتباط ښایست لري ، دا تغییر کړي ، ناقص دی او تلپاتې حالت نه لري . نو ځکه د افلاطون په نظر کامل ، ثابت مطلق او معتبر امورات ، عقلي امور دي او متغیر ، متحرک ، ناقص امور چې محسوسات دي اعتبار نه لري .

په بله وینا واقعي نړۍ ، معقول عالم دی او محسوس عالم هغه عالم صورت دی . ماده او شیان د تصوراتو محل دی .

افلاطون خپله له طبیعت د انسان څخه پیل او هغه یې د خپلې اروا پوهنې د بحث مقدمه او سریزه وګرځوله . افلاطون وویل د انسان د طبعي اصیل استعدادونه درجه بندي کیدی شي . د انسان تر ټولو اصیل استعداد ... او داخلي نیرو عقل دی چې ځای یې سر دی . دوهم استعداد یې ، جرئت او زړورتیا ده چې ځای یې په زړه کې دی او د انسان بل استعداد شهوت دی چې په نس کې ځای لري . افلاطون دا درې قوې د نفس اجزا ګڼي ، نو ځکه د هغه عقاید د ذهني استعدادونو د مکتب له طرفدارانو سره ورته والی لري . همداسې افلاطون فردي توپیرونه او د افرادو د استعدادونو ترمنځ توپیر ، تشخیص کړ او د جمهوریت په کتاب یعنې په مدینهٔ فاضله کې یې یادونه وکړه چې افراد باید خپلو استعدادونو سره سم کارونو ته منصوب او وګمارل شي . نو د دې اصل سره سم هغه خلک چې په عقلي لحاظ له نورو څخه لوی دی ، نو باید د حکومت په ډله او هغه خلک چې له نورو څخه زړور او ډیر جرئت لري د جنګیانو په ډله کې داخل شي او هغه خلک چې په ژوند کې یې له خوراک او خوب څخه په بل څه نه پوهیږي بنا یې د کسبیانو ــ بزګرانو ، کارګرانو او مریانو ډله جوړه کړي . د افلاطون د اروا پېژندنې یا اروا پوهنې دا اړخ په نوې اروا پېژندنې اغیزه لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

او علمي اعتبار یې لږ دی .

مخکې مو اشاره وکړه چې که فلسفه په مشايي او **اشراقي** برخو وویشو نو افلاطون د اشراقي فلسفې د سرکښه ده . نو اوس باید یادونه وکړو چې د هغه شاګرد یعنی **ارسطو** ( 384-322 ق م ) له یوه اړخ څخه د هغه رقیب او د هغه په مقابل کې ځای لري .

ارسطو د مشايي فلسفې مشر او هغه څوک دی چې د نړۍ د خلکو د عقایدو او افکارو محور یې په کلوکلو څرخولی دی .

دې بوه او عالم د خپل استاد نظر چې معقولات د بل عالم یا جهان څخه دی ، نه قبلوي او دا ادعا کوي چې ذهني یا عقلي امور هم د طبیعت په نظام کې د بل هر عادي امر یا پدیدې په شان دی . که ذهن او ماده یو د بل سره توپیر هم ولري نو هغسې توپیرونه دی چې افلاطون یې وایې . د ارسطو په نظر نړۍ باید د مادې او صورت په لحاظ توجیه شي . ارسطو په بل لحاظ هم د استاد له نظر سره اختلاف پیدا کړ . ده د خپل استاد په خلاف چې - حقیقت یې په کلیاتو او معقول عالم کې لټاوه د خپل عمر ډېر وخت د عالم مثل په څېر ګانه او دا یې ویل چې باید عیني ، واقعي او طبیعي چارو ته پاملرنه وشي نو ځکه د افلاطون نظر یې قبول نه کړ اولاً د هغه په رد ولواو ابطال کې یې زیار وکیښ او په دې باور شو چې مادې او صورت ترمنځ دومره واټن نشته او نه شو کولای هغه دوایه یو له بل څخه بېل او جلا کړو ځکه چې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بل سره تړلي او د دې یادونه یې هم وکړه چې صورت په مادي اجسامو کې څرګندیږي او ځانګړی جوهر نه دی . ماده په بالقوه توګه صورت دی . د صورت جلوه په ماده کې یا په بله وینا د مادې او صورت اتحاد عبارت له حقیقي شي څخه دی . د مرمر ډبره بالقوه مجسمه ده ، او مجسمه صورت دی چې د مرمر په ډبره کې څرګندیږي .

هغه تفسیر او توجیه چې ارسطو یې د علیت د قانون په برخه کې لري د هغه له ګړوهې سره چې د مادې او صورت په برخه کې یې لري اړخ لګوي او نښتي دي اړیکه لري .

ارسطو په دې ګروهه و چې صورت له مادې څخه جلا وجود نه لري خو یوه استثنا یې په دې برخه کې جایز شمېرله . هغه داوه چې ، کامل وجود ، غایي صورت او یا علت العلل ، مافوق د مادې له هستۍ څخه دی . نو ځکه باید صورت محض وي او ځکه چې ټول مادي چارې د خپل صورت د تشخیص لپاره ، په حرکت کې دي نو دا غایي صورت د ټولو مطلب او د ټولو امورو معبد دی او داسې هدف دی چې ټوله نړۍ یا جهان د هغه لوري ته په حرکت او تلاش کې دی . د دې اصل په بنیاد ټول طبیعي چارې حیواني نفس او د انسان طبیعت د دې غایي د مقصد لوري ته په خوځو او خېژو لګیا دي .

د ارسطو د اروا پېژندنې یو له اصولو څخه چې د دې عصر

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ارواړ پوهنې سره اړخ لګوي دا دی چې د ماديو صورت نسجونه سره اوبدلي او يو له بل سره اړيکي لري . ارسطو د دې مطلب په ايضاح کې وايي که بدن له سترګې سره تشبه کړو نو نفس يا روح يا اروا د ليدو سره شباهت لري .

په بله وينا د بدن او اروا نسبت لکه د سترګې او ليدو نسبت داسې دی . د بدن شته والی د نفس په خاطر دی، خو د نفس هستي د بدن سره تړلې ده او پوازې د بدن په وسيله کولای شو خپل تظاهرات څرګند کړو . اوس نو د نفس فعل او انفعال د جسماني فعاليت سره يو دی . هماغسې چې ليدل بې د سترګو له موجود څخه امکان نه لري ، د نفساني چارو فعاليت هم بې له بدن له شته والي څخه ممکن نه وي . د دې بحث څخه دا پايله راوځي چې ارسطو په دې ګروهه دی چې رواني فعل او انفعالات ، جسماني جنبه لري او د بدن د دستګاه پورې تړلی دی .

د نفس په هکله ارسطو په دې باور دی چې بايد د فنا نامنونکي او منونکي چارو ترمنځ توپير وکړو ، دی وايي چې جسمي فعل او انفعال د بدن په نيستي سره له منځه ځي يعني وجود يې د بدن د غړو په ژوندي پاتې کېدو پورې اړه لري .

خو د انسان په بدن کې ځاله د ذکاوت او هوښيارۍ هم شته چې فعل او انفعالات يې په بدن پورې اړه نه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان د هستۍ دا برخه تلپاتې او فنا نه منونکې ده، د ارسطو د فلسفې همدا برخه د مسيحي او وسطايي پېړيو د حکمايانو د منلو وړ وګرځېده او په کلو يې د هغو علمي بحثو نه اداره کړل.

سربېره پر پورتنيو نظريو، ارسطو د اروا پوهنې په هکله خاصه نظريه لري او د دې علم لپاره يې ځانګړې خدمت سرته ورساوه، دا هغه موقع ده چې د حافظې په هکله بحث کوي، د تداعي معاني مساله راڅېړي، اصول او قوانين يې منځ ته راوړي.

ځينې پوهان او د دې عصر اروا پېژندونکي دا تصور کوي چې «ډيويډ هيوم» انګليسي فيلسوف لومړی شخص و چې د تداعي معاني اصول يې را منځ ته کړل، خو داسې نه ده، لومړني ښوونکي او د لرغونو فيلسوفانو د سر سړي د دې اصولو ته پام نه وکړ.

ارسطو د تداعي معاني اصول د تضاد، شباهت او مجاورت د اصل تر عنوان لاندې د زمان او مکان په قيد سره منځ ته راوړل او هغه يې د پېژندنې تجربوي قوانين ونومول، ارسطو والي چې د تصوراتو د توجيه او د څرګندېدو د طريقې لپاره ځانګړي قوانين وجود لري، دا فعل او انفعالات په تصادفي توګه نه پيدا کېږي. دا دوه تصورونه يعنې د تداعي د اصولو توجيه او دا چې قوانين په نفساني چارو حاکم دي. څو پېړۍ وروسته د ارسطو څخه هم تر بحث او څېړنې لاندې راغلل او د نوي اروا پېژندنې په وده او پراختيا کې ډېر

اهمیت لري.

له ارسطو څخه وروسته دوو ډلو فیلسوفانو چې رواقیان او اپیکوریان نومیدل په اروا پوهنې عقیده درلوده او غوښتل یې چې د انسان له ژوند څخه ډېره زیاته ګټه وکړي .

اپیکور : Epicure (340-270 م) د دې مذهب بنسټ ایښودونکی عقیده درلوده چې د انسان پوهه د حس او تجربې پایله ده او د احساساتو او عواطفو څخه کلي مفاهیم او معقولات جوړیږي . په بله وینا کلي مفاهیم ټول د احساساتو محصول دي ، او له تکرار نه د محسوساتو صورت پیداکوي .
دې حکیم ، روح هم لکه جسم غونډې د کوچنیو او ظریفو زراتو ترکیب ګڼنه او په دې باور و چې وجود یې جسم سره تړاو لري.
نو له دې کبله ، ویره یې له مرګ څخه بې مانا ګڼله او ویل یې : « څوچې زه یم مرګ نشته ، کله چې مرګ راغی زه به نه یم » ، مباني فلسفه (۱۳۴۰ - ۵۲۴) مخونه .

د اپیکوریانو له عقیدې څخه داڅرګندیږي چې هغوی د انسان د طبیعي تمایلاتو تابع دي او په دې باور دي چې بشر باید د خپلې خوشالۍ لپاره د طبیعي غوښتنو متابعت وکړي .
دوی خیر او سعادت د لذتونو په ادراک کې ویني ، خو وایي چې خپله خوښي او لذت باید په پټو سترګو ونه لټوي او د خپل عقل او ذکاوت څخه کار واخلي ، ځکه داخوښي او لذت

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید موقتي نه وي . ( پوهنتنی اثر ) .

زنون : ( 360 - 262 م ) او د هغه شاگردانو او پیروانو ته رواقیان وایي . زنون له خپلې پلرنۍ ټاټوبې د قبرس له جزیرې نه اتن ته راغی او شل کاله د حکمت په زده کړې بوخت شو او په پای کې په یوه رواق کې چې پخوا د شاعرانو د تعلیم ځای و په درس ورکولو بوخت شو . نو له همدې کبله د هغه شاگردان او پیروان په رواقیانو مشهور او معرفي شول .

رواقیان په دې عقیده دي چې علم او معرفت یوازې د حس په واسطه نه حاصلیږي او د ذهن ځانگړې فعالیت هم غواړي . د همدې فعالیت او زیار په تناسب ، ذهني مرتبې او درجه هم لري . لکه وهم ، ادراک ، گمان او یقین . ژوندي موجودات پر سیره پر بدن یو ډول قوت او روح هم لري چې بدن سره بشپړ ارتباط لري . دا اروا په نباتاتو او حیواناتو کې ناقص او له خپل وجود څخه بې خبره وي . خو په انسان کې کمال ته رسیږي او د عقل په صورت څرگندیږي ، شعور پیدا کوي او له ځانه خبرتیا مومي . د نړۍ ټول موجودات لکه د بدن غړي یو غټ موجود جوړوي چې هغه خپله طبیعت دی او ځان ته روح یا عقل هم لري چې پر هغه حکومت کوي او له یوه جریان څخه بې خبره هم نه وي . نو ځکه د طبیعت په کار کې تصادف او پېښې نه وي . د نړۍ ټولې چارې او کړه وړه واجب او ضروري

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، ټولکه جبر هرچیرته حاکم وي . خو د دې سره ـ سره دا جبر، او ادي او د انسان اختیار ته ضرر نه پیښوي. داځکه چې کله چې انسان، له ناموس د طبیعت څخه، چې مظهر د عقل دی اطاعت وکړي، په واقعیت کې هغه د خپل عقل اطاعت کړی دی. یعنې د ده عقل، د عقل کل څخه چې پرټولو حاکم وي تو پیر نه لري، بلکه جز د هغه دی. (( پوره ته اتر ))

د رواقیانو په هکله تحقیق او مطالعه دا څرګندوي چې دوی د زهد، اعتکاف او رهبانیت پلویان دي. رواقیانو عقیده درلوده چې د سرکښ او یاغي آس یعنې نفس، جلب باید د عقل لاس ته ورسپارل شي، څو چې د پرهیزګارۍ او غایي هدف مرحلې ته ورسیږي.

د رواقیانو او اپیکوریانو په دوره کې اروا پوهنه د فلسفې جز حسابیده، خو د هغې دورې او اوسنۍ ارواپېژندنې ترمنځ لا شباهت شته دی. په هغه زمانه کې لکه اوس د ذهن د ترکیبي عناصرو په هکله څیړنه کیده، د ذهن او بدن اړیکې لکه همدا اوس د اروا پیژندنې مهم بحث وه.

د قرون وسطی حالت په هیڅ شان تې د دې جوګه نه وو چې علمي اروا پیژندنه وړاندې شي. داځکه چې په هغه زمانه کې ټول بحثونه نفس پورې تړلي او هغه یې هم د پلې نړۍ پوهه شمیره. سربیره پردې پر نفس اعتقاد هم جایز نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او وجود یې پر بنګاره حقیقت تشخیص کېده. د اروا او بدن د ثنویت فلسفه قبله ده او حقیقت یې د دین د سند له مخې منل شوی دی.

د هغه وخت پوهانو میخکله د مشاهدې له اصول او استقرا څخه کار نه اخیست، او بحث یې په زوره خو اکثر په تېره بیا د بدن او روح د ثابتولو لپاره قیاسي جنبه درلوده، د دې پوهانو هدف دا نه وو چې عیني شواهد پیدا کړي، بلکه هر وخت په منطقي اعتبار پسې ګرځېدل.

په لنډه توګه د دوی بحثونو لږ علمي اعتبار درلوده، د تعصب څخه خالي نه وو، او په لرغونو علومو یې هڅه ور ډېره نه کړل.

نو ځکه له دې به تېر شو او دې ته به پام راوګرځوو چې اروا پوهنه کله له فلسفې څخه جلا او علمي بڼه یې غوره کړه او په دې چټکتیا یې د ودې او پراختیا وموند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

## د علمي ارواپوهنې تاریخي سیر

د علومو د تاریخ په لحاظ ارواپوهنه د مستقل علم په توګه نسبتاً یو نوی علم دی چې وروسته د طبیعي علومو، کیمیا او بیولوژۍ څخه ښکاره او راپیدا شوه، او که هغې ته د فلسفې د جز په توګه وګورو نو باید د افلاطون زمانې ته ولاړ شو، مطالب او مسایل له هغه وخت څخه تر مطالعې لاندې ونیسو.

زما دا اثر اصلاً د ارواپوهنې تاریخ نه شرحه کوي یوازې - روانې مرحلې او نظرونه د نولسمې پیړۍ د پای او د شلمې پیړۍ د پیل څخه په ځانګړې او لنډ ډول بیانوي.

ارواپېژندنه د نوې فلسفې په تاریخ کې په تدریجي توګه تجربي بڼه پیدا کړه او ورو ورو طبیعي او تجربي علومو ته نژدې شوه تجربي ارواپوهنه له نیمایي د نولسمې پیړۍ څخه پیل او په ډېر سرعت او چټکتیا یې وده او پراختیا وموند. تجربي ارواپوهنې په دې ترڅ کې څو مرحلې تېرې او شا ته وغورځولې.

1 - لومړۍ مرحله یې د ویبر (weber)، فخنر (fechner)، هلم هلتز (Helmholtz)، او ویلهم ورنټ (wilhem wunt) په ظهور

(c) ketabton.com: The Digital Library

او څرګندیږي د پیل او په اروپا او امریکا کې یې تجربه ګاوې رامنځ ته کړې. دې څلورو کسو اروا پوهنې ته د فیزیولوژۍ له نظره کتل او د طبیعي علومو د طریقې او روش تر اغیز لاندې راغلې په دې کې روش او طریقه کې چې د وخت په مادي او میکانیکي فلسفې بنا وه د تمدن مفهوم او تاثیر ته پام لرنه وه شوې او د تعصب ښکار واخستل شو.

۲ - دویمه مرحله یې بریالیتوب یعنې د علمي طریقې په اصل پیل، څو د انسان د ژوند تغییر منونکي پړاوونه یې ته پام ونه ګرځول شي. دې مرحلې تر د ۱۹۳۰ تر دوهمې نیمایي پورې دوام وکړ. په دې مرحله کې د ژوند اروا پیژندونکو د علمي طریقې په قالب کې ځان مقید ولیده. نو د اروا پوهنې موضوع ته یې تغییر ورکړ. د علمي طریقې په کارولو سره عیني یا بیله لاس ته راوړي. پدې مرحله یا دوره کې اروا پیژندنه د موضوع په لحاظ محدوده کیږي. د سلوکي مکتب په ظهور او ودې سره مشهور سلوک او کړه د عکس العمل په سنجش کې اهمیت پیدا کوي.

۳ - په دریمه مرحله یعنې دلومړۍ نړیوالې جګړې له پیل: (۱۹۳۹ - ۱۹۴۵) نه (1960) ترلسیزې پورې د ژوند سطحي او موضعي څیړنې سرته ورسیدې او نسبي نتایج او موخې هم په لاس راغلې، خو د انسان پیژندنه په کامله توګه حل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه . په دې دوره کې د احصایې او ازمېښتو په مرسته دانشمندانو کار ونه په مقایسوي ډول یو د بل سره اندازه کول ، په همدې دوره کې د څېړنو لکه مدني ، اجتماعي اړوا پوهنه ، صنعتي اړوا پوهنه او دکوچنیانو اړوا پوهنې پراختیا وموند ، او د افرادو په هکله یې صرف د پرانده پېښو بیېنو او تخمین ځای و نیوه او برسېره پر دې د څېړونکو او نوښتګرو اروا پېژندونکو پام یې دې ته وګرځاوه چې لکه موضعي طب په طبابت کې نارسا دی نو د انسان په جزئي مسایلو هم څېړنه ناقصه ده . همداسې د ډیرې احصایوي څېړنې او تجربې هم په مشخص زمان او مکان پورې منحصر او مقیده وي .

د دې مرحلو د بهیر او تېریدلو په نتیجه کې د څېړنو منتقد بیو پام کامل انسان ته را وګرځید او د ارګانیزم اړیکه یې په کلي توګه په موضعي تجربو او بالعکس تر څېړنې لاندې ونیوه . د بیولوژۍ په لحاظ هم ورځ په ورځ معلومېږي چې که یو غړی په درد یا مرض اخته شي نو نور غړي هم په کړاو نه پاتې کیږي همداسې که د بدن یو غړی غبرګون ښکاره کړي د بدن نور غړي یا په کلي ډول ټول بدن په هغه کې شریک وي .

په همدې ډول د ټولنیزې اروا پوهنې او ټولنیز تمدن څېړنو ثابته کړه چې منتزع انسان ، منفرد او بیلازی انسان په نړۍ کې وجود نه لري یا نې د انسان پېژندنه په کلي توګه بې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنیز مدنیت د پېژندنې څخه امکان نه لري . په کلي ډول ، انسان ېې په موجوده زمانه کې خلقوي خو ریښنه یې په تېره زمانه او د لوړې په خلاقه تجربو کې نغښتې دي او راتلونکې زمانه جوړوي. (راتشه ، ۱۳۴۸ ، ۱۰-۹)

د علمي طریقې نیمګړتیا : په دې کې نه شته چې علمي او عیني طریقه د شخصي عقاید وڅخه ښه او لوړه ده خو باید یاد ولرو چې د فزیکي علومو د طریقې نقصان د بشري علومو په څېړنې او مطالعاتو کې ورځ په ورځ روښانه کېږي . نو څه باید وکړو ؟

د میتودولوژۍ مساله ډېره مهمه او په دې اثر کې نه ځائیږي. خو په لنډ ډول ویلای شو چې علمي طریقه یې له تمدن د بصیرت څخه د انسان پېژندنې له پاره نارسا او ناکافي ده . د دې امر دلیل دا دی چې لکه وویل شي : منتزع انسان یې له دې چې له نورو سره اړیکې ولري او یې له بې دې چې په تمدن کې ریښه ولري ، وجود نه لري . نو چې داسې ده ، باید داسې طریقه وکارول شي ، چې وکړای شي دا څو خواړې معما یا پدیده په ښه توګه وپېژني .

بل دلیل دا دی چې پوهان په دې عقیده دي چې تمدني تحول د بیولوژیکي یا حیاتي تحول ادامه یا وروستۍ برخه ده ، نو که دا اصل صحیح او قبول کړو نو ټولنپوهنه او میالوژي د انسان پېژندنې د وه اساسي ستنې او پایې دي.

دریم دلیل دا دی چې د انسان ژوند ، مرحلې او مرتبې لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

: په لومړي مرحله کې ، د انسان ژوند د بیولوژیکي تمایلاتو او کششونو معلول دی . په دوهمه مرحله کې ، د مدنیت اړتیاوې . په درېیمه مرحله کې د منطق او عقل او په څلورمه مرحله کې د ناڅاپي بصیرت معلول وي . د انسان دا مقامات اعتبار لري او دا ښیي چې په هره مرحله کې ځانګړي قوانین موجود او اعتبار لري . او په هره مرحله کې د پېژندنې طریقه باید په یوه انساني پوهه یا علم تکیه ولري په لومړي مرحله کې حیاتي طریقه د بیولوژیکي ، د نورو علومو د طریقو څخه ډېره اهمیت لري .

په دوهمه مرحله کې د ټولنیزې طریقه او په درېیمه مرحلې کې عقلي او علمي منطق او استدلال ښه وسیله او په څلورمه کې باید د نوښت او خلاقیت له قوانینو څخه کار واخستل شي . په پای کې کله چې انسان په « صورت د کل » وپېژندل شو نو باید یو جامع فکري نظام او یوه معتبره او با اعتباره طریقه رامنځ ته شي .

**د نوي سیستم پیدا ښت :** څنګه چې هر فکري سیستم د تېرو فکري تجربو او سیستم زېږنده ده او په ناڅاپي توګه نه رامنځته کېږي . نو هر فکري سیستم مقدمات لري او کله چې آماده او برابر شول منځته راځي . هر نوی فکري نظام که اروا پېژند نه وي او یا نوره پوهه ، په څو خصوصیتونو اتکا لري .

۱- لومړی داچې نوره پوهه او مفکر پیدا کېږي د متقدمینو افکار نده کوي ، هغه تجربه کوي او د هغو په فرضیو او اصولو شک کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویمه: نوې فرضیه او اصول راپیژني او اصولاً د نوي فکري مکتب بنسټ ږدي.

دریمه: دخبرې مشخصه طریقه تعینوي.

څلورمه: بیا ځانګه، موضوع او حدود یې ټاکي.

پنځمه: بیا دخبرې نتیجه او اهکل څرګند وي.

کله چې اروا پیژندنه له فلسفې څخه جلا شوه او دیوه ټاکلي علم په څیر را منځته شوه. نو په تدریج سره علمي تکوین پیدا کړ. نو ددې موجب شوه چې د پورته نظریاتو سره سم، داروا پیژندنې بیلابیل ښوونځي او نظریونه را منځته کړي په معمولي توګه د هر ښوونځي طرفداران په دې عقیده دي چې دانسانانو د فعالیتونو اوفکري یوازینۍ لار د دوی په څیر نو او د دوی د عمل په ساحه کې مسیر دی. وو دوړنې ...

په هر حال اروا پیژندونکي عقیده لري چې د مکاتبو وجود، داروا پیژندنې په وده او پرمختګ کې ډیر اغیز لري ځکه هر مکتب او ښوونځی چې یوه لاره ټاکلې ده په حقه کې ژوره څیړنې کوي او څه چې نوي پیداکړي د اروا پیژندنې حدود دوه ته پراختیا ورکوي. نو انسان باید د هر ښوونځي دعقایدو په منلوکې محتاط وي، ځکه چې پلویان یې کله کله د افراط څخه کار اخلي.

# دارواپوهنې

## د ښوونځیو نیولیک «فهرست»

۱- د اصالت تداعي ښوونځی[1]: دا یو لرغونی انګلیسي ښوونځی دی. د دې ښوونځي اصلي موضوع حافظه او زده کړه ده. له ۱۹۰۳ څخه رابدېخوا دې ښوونځي په روسیه کې د ځواب انګېزې بڼه ځانته غوره کړه.

۲- د ذهني جوړښت ښوونځی[2]: د دې ښوونځي سرچینه په المان کې وه. د دې ښوونځي رسمي فعالیت له 1879 نه پیل او اصلي موضوع یې احساس او د شعور جوړښت دی.

۳- د اصالت عمل ښوونځی[3]: دا ښوونځی په 1898 کال کې په امریکا کې په دې نامه ونومول شو چې اصلي موضوع یې د شعور د حالاتو توضیح او له هغو څخه ګټه اخستل و. د دې ښوونځي د فعالیت او موخو (اهداف) ساحه ډېره پراخه ده.

۴- د اصالت سلوک ښوونځی[4]: دا ښوونځی ۱۹۱۲ کال کې په امریکا کې رامنځته شو، په دې ښوونځي کې حرکتي فعالیتونه ډېر اهمیت لري.

---

1- Associationism  2. Structunatism

3- Functionalism  4. Beharioltism.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- دگشتالت ارواپوهنه[1]: دا ښوونځی په ۱۹۱۳ کال په المان کې رامنځته او اصلي موضوع یې درک دی.

۶- د روانکاوۍ ښوونځی[2]: دا ښوونځی په ۱۹۰۰ کال په اطریش کې منځته راغی او اصلي موضوع یې میل او د ذهن بې خبره یا تیاره برخه (ذهن ناګاه) ده.

څنګه چې لیدل کیږي دا ښوونځي د نولسمې پیړۍ په پای او د شلمې پیړۍ په پیل یانې د 1879 کال څخه تر 1912 کاله پورې منځته راغلي نو بې ځایه به نه وي که ووښتل شي چې دا څه علت او سبب و. د اخرې پیړۍ پیل د ارواپوهنې د نویو ښوونځیو په لحاظ تر ډېره حده ګټوره وه. نو که غواړو چې دې پوښتنې ته ځواب ورکړو له یوې خوا باید د علومو د نړۍ ځلاندې دورې ته ۱۹۰۰ کې نظر واچوو او له بل پلوه څنګه چې هر ښوونځی په واقعیت کې د تیر ښوونځي په مکمله اعتراض دی، نو ځکه د تاریخي سوابقو له نظره یو لوڅخه پرته د نویو ښوونځیو په ماهیت نه شو پوهیدلی. همدا سبب وو چې په (۱۷) پیړۍ یعنې د علمي نهضت[3] په پیل کې د کارت[4] (1596-1650) د وماس[5] د هغه وخت ارواپوهانو په مقابل کې چې د سکولاستیک[6] له ښوونځي څخه الهام اخستی وو، طغیان وکړ او په دې توګه یې د ارواپوهنې

---

1- Gestalt 2- Psychoanalysis 3- Ronasons
4- Rene Descartes 5- Thomas Hobbs 6- Scolastique.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو نوي نبروږي لور ته گام اوچت کړ. دکارت او هابس پرته له دې چې داروا پیژند نې په جلا کولو د فلسفي څخه زیار وباسي کوښښ وکړچي اروا پیژند نه دمادي او طبیعي علومو د پراختیا سره هماهنگ کړي، نو په دې ذهنیت دوی وغوښتل چې دخپلك نوي اصول او معلومات دانسان او حیوان دسلوك او فعالیت په هکله توجیه کړي. یاني دمغزی اعمال پرهغو اساساتو چې نن مغه ته انعکاس ویل کېږي استوار کړي.

دکارت: ددکارت له نظره انعکاس دسیالی مادي جریان دی چې داعصابو په مسیرکې له حسي اعضاوڅخه دمغزپه لور او بیا د مغزڅخه دعضلاتو لوري ته سیر یاتگ او راتگ کوي.

دکارت دروح مرکز مغز وشمیره او په دې عقیده وچې د انسان په هروگړي کې یو عاقله روح دی چې فکرکولای شي اومادي جنبه نه لري. دکارت داگروهه هم لرله چې حیوانات دتعقل قوه او توان نه لري، سلوك او حرکات یې کاملاً ماشیني او دبدن حرکاتو پورې تړلي دی. دکارت دعقلي مذهب لاروی دی. منطقي استدلال او عقل یوازینی عامل دمعرفت اوحقیقت دپیدا کولو وسیله گڼي.

هابس: هابس په دې لار کې د دکارت څخه هم یوگام پرمخ ولاړ او ټول اروایې کړه وړه یې د فزیکي حرکاتو معادل حساب کړل. هابس عقیده درلوده چې دخارجي یا بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحریکات د حسي الاتو په ملتیا جذب او بیا اعصابو، زړه او مغز ته رسیږي او د بدن داخلي حرکات منځته راوړي. وروسته دغه داخلي حرکات د سکون له اصل سره سم، د ذخیره‌یي یا ساکني انرژي په بڼه خاطرې او افکار جوړوي او باقي پاته کیږي. هابس دغه طغیان د هغې زمانې د متعارفو اروا پوهانو په مقابل کې یو اساسي قاطع پاڅون، خو د هابس نظریات په هغه وخت کې یوازې یوه طرحه وه او د اتلسمې پیړۍ، انګلیسي فیلسوفانو هغې طرحې ته پراختیا ورکړه او د اروا پوهنې د اصالت تداعي ښوونځی یې را منځته کړ. ودورث ر ۱۳۴۸ = ۷ - ۹،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نولسمې پېړۍ اروا پوهنه:

معاصرې چې د ګاليله په زمانه کې د طبيعي علومو قوانينو د هغه وخت د اروا پوهنې په پوهه او معلوماتو ژوره اغېزه وکړه. د نولسمې پېړۍ په سر کې دوو نورو علومو يانې کيميا او فيزيولوژۍ چې نوې وده او پراختيا موندلې وه په اروا پېژندنې تر اندازې زياته اغېزه وکړه.

لومړی د کيميا کشفياتو او بې سارې پراختيا، د فلسفې پوهان په دې اند کړل چې بايد د تحليلي اروا پوهنې سنورنې رامنځته کړي چې څرنګه کيميا پوهان غواړي چې د طبيعي بېلابېلو ترکيباتو عناصر پيدا کړي، دوی هم د انسان د شعور عناصر کشف او د هغو د کړو وړو او سلوک اصول او قوانين سره تاليف او تدوين کړي. دا کار په اروا پېژندنه کې يو نوې پوړۍ او جالبه طريقه وه او عملاً هم ښکاره شوه چې د اجرا وړ ده،

بل علم چې په اروا پوهنې يې ژوره اغېزه وکړه فيزيولوژي وه دا علم او پوهه د نولسمې پېړۍ له پيل څخه وروسته د يوه تجربوي علم په توګه ومنل شو او په لنډ وخت کې يې ځينې کشفيات سر ته ورسول چې په کلي توګه يې د اروا پوهنې له مسايلو سره تړاو درلود. لکه د حواسو د کار طريقه، اعصاب او مغز چې د اروا پوهنې عمده مسايل دي؛ د فزيولوژۍ پوهانو له خوا تر مطالعې او څېړنې

لاندې نیول شوی و. په دې ډول د فزیولوژۍ معلوماتو او کشفیاتو د اړوا پوهنې په کتابونو کې ځانګړی ځای او اهمیت درلود او د دې علم تجربي طریقې او روشونه د نوې تجربي اروا پېژندونکو له خوا ومنل شو. که څه هم د تجربي اروا پوهنې لومړی لابراتوار چې د علمي مقاماتو له خوا ومنل شو د ۱۸۷۹ کال څخه وروسته د الماني اروا پوه «وونت» په واسطه د لیپزیک په ښار کې پرانستل شو خو د نولسمې پېړۍ له پیل څخه د اروا پوهنې ډېر لابراتوارونه په ځانګړي توګه په المان او امریکا کې د فزیولوژۍ په «تجربه ځایونو» کې ایجاد شوي وو. چې په دې ډول ویلای شو چې نوې اروا پوهنه په ۱۹۰۰ کال کې یوه تجربي اروا پېژندنه وه.

د دې له پاره چې د دغه کال اروا پوهنه په سمه او بشپړه ډول شرح کړو نو په کار ده چې د دوو نورو علمونو یانې د عمومي بیالوژۍ «په تېره بیا د پرمختیایي فرضیې» او روان پژشکي اغېزې هم په اروا پوهنې ډېرې زیاتې کړې. د ۱۸۹۶ کال څخه را په دې خوا په عمومي بیولوژۍ، په ځانګړې توګه په پرمختیایي فرضیه کې ډېرې مسلې تر بحث او څېړنې لاندې نیول شوې وې چې نه یوازې د لرغونې اروا پوهنې له پاره بلکې د فزیولوژۍ او فزیک له پاره هم نوې وې.

د نولسمې پېړۍ د وروستیو کلونو څخه وروسته د داروین او ګالتون د افکارو تر اغېزې لاندې، نوې مسایل لکه: د توارث

(c) ketabton.com: The Digital Library

او محیطي لاملونو اغیز په فردي اروايي ودې، توکم (نژاد)، حیواني ارثي پېژندنه، فردي اختلافات او د اروا پوهنې داسې نورو مسایل د هغه وخت د اروا پېژندونکو په اغېزو او څېړنو (انتشاراتو) کې ښکاره شول. د لومړي ځل لپاره د ګروپ د اروايي حالاتو د اندازه کولو نوې طریقه د ان مینو په مرسته ابداع شوه او په موجوده تجربي طریقې سربېره، په اروا پېژندنه کې یو نوی څېړنې د نوي اروا پوهنې تر عنوان لاندې ورزیاته شوه.

بلې برخې د علم، چې د دې دورې په اروا پوهنې اغیزه وکړه روحیاتي طبابت (روان پزشکي) وه. په همدې خاطر د روان پزشکي تاریخ باید د فلسفي پېړۍ په اوږدو کې په ښه توګه وڅېړل شي. د خبرې د لنډوالي په خاطر دا کافي ده چې وویل شي په تېرو وختونو کې د رواني ناروغانو علاج د پیرانو خداشناسانو او خراب وو. خو په دې دوره کې د علمي اصولو په اساس پر ښه شو. په عامه توګه د دې پېړۍ رواني طبیبان په دوه ډلو وویشل شول، یوې ډلې به روحي ناروغۍ د رواني علتونو معلول او بلې ډلې به روحي ناروغۍ د بدني علتونو معلول شمېرل.

په بله وینا لومړۍ ډلې ته رواني علتونه مهم وو خو دوو همې ډلې به زیار یوست چې د هر غیر طبیعي سلوک یا خوځښت لپاره عصبي یا مغزي اختلال کشف کړي. که څه هم په یې د ول حبونو کې، ذهني اختلال کشف شوی و. خو پوهانو نه شو کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دا موضوع په ټولو روحي ناروغیو کې تعمیم او اثبات کړي چې په همدې طریقې سره به د بدني علتونو پلټونه یا نور بې له کوم علمي دلیله یې د ول مغزي نقصان د روحي ناروغۍ لپاره وړاندې کاوه.

د دې مسایلو او طریقو پیدا کیدل ورو، ورو د دې لامل شول چې د ارواپوهنې او فلسفې زوړ ارتباط یې د بل سره وشلیږي، او پوهنتونونه و توانیدل چې د ارواپوهنې څوکه د جلا او مجزا فلسفې څخه منځته راوړي.

د نوې ارواپوهنې طغیان د زړې ارواپوهنې په مقابل کې د علمي طریقو، فنونو، بیلګو او همداسې د علمي معیارونو اندازه د نظري او تیوریکي مسلو په پرتله بیخي ډیر وو. د بیلګې په توګه لرغونو ارواپیژندونکو به د زده کړې په هکله یوازې د حافظې په اثارو او د شخصي خاطراتو په تفسیر اکتفا او بسنه کوله. خو نویو ارواپوهانو به د تجربي څیړنې په موخه ټینګار کاوه.

د نویو ارواپیژندونکو د ۱۹۰۰ م له پاره د ارواپوهنې تعریف همداغه ډول انځوراني تعریف یانې «د هوښیارۍ یا شعور» و. اما عملاً به یې قدرتونه، توانونه، لیاقت او مهارتونه د هوښیارۍ د مختلفو حالاتو په پرتله ډیر شرحه او مطالعه کول. په بله وینا نویو ارواپیژندونکو په نظري لحاظ په تحلیلي ارواپوهنې چې د کیمیا له علم څخه یې الهام تر لاسه کړی وو عقیده درلوده چې پیچلي او مرکب افکار او عواطف یې د ساده او بسیطو عناصرو لکه احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذهني تصویرونه او ابتدائي اولومړنیو حسونو ترکیب باله. خو عملاً یې دا نظري هدفونه هیڅ ول او پام ورنه یې نه وړ ته کوله په نظري لحاظ دا اصالت تداعي ښوونځۍ، پیروان وو. خو عملاً یې جدي طرفداري نه کوله.

همدا اختلاف چې د نظري او عملي برخو، کلاسیک اصول او د څېړنو د نویو طریقو تر منځ پیدا شو. نو د نویو اروا پوهنې ندونکو لپاره یې ښه فرصت برابر کړ،

څو د اروا پوهنې د اساسي مسلو د صحت او سقم په هکله، یعني هوښیاري د اروا پوهنې د اساسي موضوع او د باطن یا نفس مشاهده (۱) د څېړنې د یوازینۍ طریقې تر عنوان لاندې، بحث او مناقشه کړي.

د شلمې پېړۍ په لومړي لسیزه کې نویو اروا پوهانو د سلوک موضوع ته چې « ښکاره شعور» پورې اړه لري، پام نه کوله او په خپلو تجربو او څېړنو کې یې د عیني طریقې څخه کار اخست. له بلې خوا هغه اروا پوهان چې د روان کاوي پلویان وو نو د « پېچلې یا تیاره شعور» څېړنې او مطالعې ته یې د « ښکاره شعور» څخه ډېر اهمیت ورکاوه او په دې عقیده وو چې د اروا پوهنې اصلي او ژوره څېړنه باید د شعور په دې تیاره برخه کې سرته ورسیږي.

نوي اروا پوهان د دې پوښتنې په ځواب کې چې آیا د تداعي

1 - Introspection.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطلق اصل، د زده کړې د نظريې او تيورۍ لپاره ارزښت لري که نه په دې عقيده دوچې د محرک او ځواب رابطه دا مسله ښه روښانه کوي.

دې اروا پوهانو د سلوکي پوهانو په څېر چې د انسان سلوک او عمل يې يوازې مجموعه د ساده او پيچلو عکس العملونو، ميرانده، د انتقاد ژبه خلاصه کړې وه او په دې باور وو چې په دې نظريه کې دا ګليتزم وحدت په نظر کې نه دی نيول شوی.

په همدې ډول نوي اروا پوهانو په هغې ډلې د پوهانو چې فکر کاوه د انسان «ښکاره شعور» يوازې د حسي عواملو ټولګه ده، چې په مختلف ډول سره ترکيب او تلفيق شوي، هم ايراد نيوه او په دې عقيده وو چې په دې فرضيه کې هم د کليت اصل يا ني وحدت او د انسان هويت له نظره لويدلی دی. دا اروا پوهان په دې عقيده وُ چې د انسان شخصيت د يوه کنه لري، چې ويې وحدت او بل يې هويت دی. هويت دا مانا لري چې وحدت نسبتاً د زمانې په اوږدو کې محفوظ وي خو شخص د احساس کوي چې هماغه انسان دی چې پرون يا پرو سږ کال و... او يا به سبا او بل کال تصمم، هماغه انسان وي او ضمناً په دې هم پوهيږي چې مانا او اخلاقاً د خپلو همنوعانو څخه متمايز دی. لکه چې په جسمي او بدني خصوصياتو کې له نورو څخه توپير لري. (سياسي: ۴۵).

مختلفه او متضاده فوې فرضيې ترڅېرې او انما يبت لانديې دي امکان لري، د دې فرضيې قوت او نا توانې يوه ورځ د د ير بحث، علي مدارکو او استدلال له کبله حل و فصل شي خو دا اروا پوهنې د بېلابېلو

۳۰ (ب)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبوونځو دارزښت په هکله به ګران کاروي چې په سکاره ډول تفاوت وشي

داځکه چې د یوه روحي سبوونځی

اهداف یې په ډېرو ستونزو او زیار وکړای شو چې په علمي دلایلو ثابت او یا رد کړو.

د یوه اروالي سبوونځي دارزښت د ټاکلو لپاره باید د هغه - ګټې او یا بې ګټې توب په نسبتاً اوږده زمانه کې ترڅېړنې او مطالعې لاندې ونیول شي. ترڅو سمې قضاوت او اطمینان حاصل شي.

# دریم څپرکی

## د تداعي د اصالت ښوونځی[1]

په نفسي اروا پوهنه کې د زده کړې موضوع ډېره مهمه مساله ده، په دې ورووستيو کلونو کې د لا جمله چې «څنګه زده کړه کوو» د تجربي او نظري اروا پېژندنې د څېړنې او تحقيق له مهمو مسايلو څخه يوه مهمه مسئله ده. د زده کړې بېلا بېل شکلونه لکه د نومونو يادول، د بې مانا کلماتو فهرست، د يوې معما د زده کړې طريقه، د ښه يا بد عادت زده کول، د يوې قيافې يا صحنې خيره حافظې ته سپارل او يا د مغې بيا پېژندل او توصيف کول او يا هم شپې نورې ورته مسئلې د وړې د څېړنې او تحقيق موضوعګانې دي.

خو د حيرانتيا ځای دی چې د اروا پوهنې په لرغونو کتابونو کې د زده کړې تر عنوان لاندې هېڅ فصل نه دی راغلی. لا وليام جيمز[2] په خپل غټ کتاب کې چې په ۱۸۹۰ کال کې يې د «اروا پوهنې اصول» تر عنوان لاندې بشپړ کړ داسې کوم فصل نه تدوين کړی او نه يې د زده کړې يادونه کړې ده.

---

1- Associationism. 2. James. W.

لرغونو ارواپېژندونکو یوازې د بیا په یاد راوړلو د هغو موضوعاتو او شیانو چې مخکې یې زده کړې وي، دغو تمایلاتو شرحه ورکړې ده. خو د زده کړې د عملیې په برخه کې یې کومه تجربه نه وه پیل کړې. دوی د زده کړې د عملیې په هکله، کلي فرضیه درلوده چې هغه د تداعي فرضیه وه. خو د دوی د دغې فرضیې مبدا او منطق د زده کړې عملیه نه وه، بلکې دوی یوازې د بیا په یاد راوړلو او تفکر ته پاملرنه کوله.

لرغونو ارواپېژندونکو د دې پوښتنې په ځواب کې افکار له کومه کېږي؟ دا ځواب ورکاوه چې افکار څنګه له جریان او تشکیل له تېرو، تجربو څخه جوړېږي، او احساس هم یو پر بل پسې راځي، لکه څنګه نو موږ افکار یو له بل سره یوځای او تړلېږي. دا د ارواپوهنې د تداعي د اصالت ښوونځۍ چې د انګلیسي ارواپوهنې یو زوړ ښوونځۍ دی، لنډه خلاصه وه چې وړاندې شوه.

## د تداعي د اصالت لرغونی ښوونځۍ

ځینې ارواپي یا نفسي پدیدې یا مسلې یو له بل سره داسې اړیکې پیداکوي چې د یوې حادثې پیداکېدل په صحنه د وجدان کې په چټکۍ سره هغه بله حادثه رایادوي د دغې حادثې ته تداعي یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

همخوانې وايي .

د دې ښوونځي اصلي ريښه د ومره لرغونې ده چې کولای شو هغه د ارسطو په کتاب کې چې د « حافظې » ترعنوان لاندې ليکل شوی دی، پيدا کړو .

ارسطو د حافظې په هکله يوه اساسي موضوع ذکر کړې يده، او ويلي يې دي چې هر وخت يوه موضوع انسان د بلې موضوع په فکر کې اچوي .

ارسطو د دې پوښتنې په ځواب کې « الف » د « ب » ته ور په يادکړي نو د الف او ب ترمنځ به رابطه څه شی وي؟ . وايي چې : دا رابطه به يا د شباهت . تضاد او يا د زمانې د مجاورت له کبله پيدا شوې او دې ته تداعي وايي . د بېلگې په توگه که يو څوک ووينو او د هغه په ليدو سره کوم بل شخص د ده په ياد شي نو له دې کبله به وي چې هغه دواړه يا ډير سره ورته دي، يا په کلي توگه يو له بل سره نږدې لري او يا دا چې هغوی موږ خوا سره يو ځای ليدلي دي. دې درې اړيکو ته د اصالت تداعي د ښوونځي انگليسي طرفدارانو « د تداعي قوانين » ويل . او کله هم دا درې اړيکې يې خلاصه کړې او د يوه قانون ترعنوان لاندې د « مجاورت قانون » نوم پرې ايښی دی.

د اصالت تداعي د ښوونځي يوه مخکښ چې توماس هابس نومېږي د ټولو افکارو، اصل او منشا « احساس » بولي . دا ځکه چې د ده په گروهه د انسان په ذهن کې هيڅ مفهوم نه پيدا کېږي څو په لومړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرکې د هغه يوه برخه يا ټول د حسي د رېځو يا حسي د ستګاه له خوا نه کسب يا حاصل شوي.

ځو چې انسان يو شي ټوله يا يوه برخه يې ځوانه وي لیدلی يا احساس کړی د هغه شي تصور يا تجسم نه شي د رلوډی، نو دا طبيعي خبره ده چې له ځواني دا سي تجسم څخه پرته نه شو کولی له يو تجسم يا تصور څخه بل تجسم يا تصور ته ورسيږو. نو ځکه ټول خيالونه يا انځورګري چې د انسان کې د حرکتونو يا جنبشونو حکم لري، او د هغو جريانات توبقا . ياوي‌ده دي چې د انسان په احساس کې جوړ او ترکيب شوي دي. له احساس څخه وروسته بيا د حسي ادراک او بيا د ذهني تصوراتو په صورت د وام پيدا کيږي دي او له منځه نه ځي.

هابس دا روايي مختلفو استعدادونو څخه يو ازي د دوه اصلي فعاليته مني دي، يو د بيا په ياد راوړلو احساس او بل تداعي دي چې دا په خپله په ياد راوړلو حکومت کوي. که څه هم هابس په خپلو ليکنو کې د «تداعي» کلمه چې نورو ليکوالو وروسته پيشنهاد کړه، نه ده کارولې خو کله چې له خيال پر دازيه نه خبري کوي وايي: دا فکار او تصويرونه چې دي د احساسونو اصلي پيوستون او پرله پسې والي تنظيم کړي دي. نو ويلای شو چې په واقعيت کې هغه د تداعي موضوع د مجاورت له طريقه بيانوي. هابس بيا دا د وايه فعاليته په يوه فعاليت کې خلاصه کوي او د يو ن ((حرکت))[1] نوم پرې ږدي.

(1) Motion.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هابس په آند یو بهرنی څیز زموږ په حواسو، چې نن هغه څیز ته انگیزه[1] (د مثال په توگه نوری امواج، د صوت ارتعاشات ...) توایي، تاثیر کوي. دا انگیزه د حسي دستگاه په مرسته د ارگانیزم داخل ته نقل کوي. څرنگه چې محرك یا انگیزه په خارج کې قطع هم شي. د بدن داخلي حرکت فوراً نه قطع کیږي بلکه د سکون له قانون سره سم په تدریجي توگه کمیږي، څو په پوره توگه ول له منځه ولاړ شي. په دې حساب اصلي جنبش هماغه احساس دی او وروسته پاتې جنبش تصویر او هغه اثر دی چې له هغه احساس څخه پاتې دی. په دې ترتیب څنگه چې د تصویرونو توالي له انگیزو څخه اوږد او دوام مداره دی. نو همدغه موضوع د افکارو د وروستي جریان منځته راوړي. په دې ترتیب سره هابس ټول اروايي مسایل، له فزیکي مفاهیمو او عباراتو په جامه لکه حرکت، د حرکاتو انتقال او سکون په اصل بیان کړیدي. اما وروسته هابس دې ته هم مجبور شو چې یو بل اضافي عامل هم د ارگانیزم په وجود کې ومني او هغه د ارگانیزم عکس العمل دی چې د انگیزې څخه وروسته د عضلاتي حرکتونو په واسطه څرگندیږي. څو د دې حرکت سمت یا لوری له باندې (خارج) څخه نقل نه کوي، بلکه د ارگانیزم له داخل څخه سرچینه اخلي. دا عکس العمل یو حرکت دی چې ارگانیزم یوه جسم ته نژدې کوي او یا له یوه جسم څخه یې لرې کوي او د اجتناب سبب یې گرځي. د بیلگې په توگه مینه د حرکت لومړی مرحله ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نڅدي والى سبب ګرځي او په زړه بدوالى يا تنفر هم د حرکت ابتدايي مرحله ده چې دلرې والي يا اجتناب سبب کيږي. ځينې تمايلات زمينه، لکه د ډوډۍ اشتها ذاتي او فطري ده خو ځينې نور ميلونه او مينې د اشياوو د خواصو له درکه کسب کيږي.

## د اصالت تداعي مخکښان

په اوولسمه پيړۍ کې نامتو انګليسي فيلسوف او روزونکي جان لاک[1] لومړی شخص وچې د عقل معلومات فطريت او زده کړې د اروايي نړۍ ذهني وړتياو له طريقه رد کړه. د هغه په نظر لږ افراد يا ټولنې ليدل کيږي چې يو شاني طبع، سرشت يا مشترک فکر او عقيده ولري د هغه په عقيده انساني ذهن د زيږيدلو په وخت کې د سپينې لوحې[2] په ډول وي، چې هيڅ ذاتي او فطري فکر په هغه کې نه وي تصوير يا رسم شوی. هر فکر او عقيده د تجربې او حواسو له طريقه پيدا کيږي چې د غه نوي فکري طرز د تجربه ګرايۍ[4] يا تجربي مسلک تر عنوان لاندې شهرت وموند د غه مسلک د افلاطون او دکارت «عقلي اصالت» يا خرد ګرايي[5] باندې مستقيماً حمله وکړه ځکه چې د غو دوو فيلسوفانو عقل د پوهې او معلوماتو سرچينه بلله. جان لاک زده کړه داسې ادراک باله چې د حسي تجربې له لارې لاس ته راځي. ځکه چې ذهن له ځينو نوو ځخه جلا دی، نو هغه چې درک کيږي يوازې د ځينو نوو تصورات[6] دي.

---

(1) Jan lock. (2) mental disicipline.
(3) tabula rasa. (4) empiricism. (5) rationalism. (6) Ideas.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاک افکار د ذهن واحدونه او تداعي يې د افکارو د پيوستون عامل باله. د هغه په عقيده افکار به يا ساده وي يا مرکب. د افکارو ترکيب يو له بل سره د ذهن يو فعاليت دی. چې په « ارواي کيميا » هم يا دېږي او وروسته د ارواي پيداښت[1] د نظريې سبب وګرځيد.

د دې لپاره چې ارواي تداعي منځته راشي نوجوان لاک په يو د ول داخلي حواسو هم عقيده درلوده، نو کله چې ذهن به حسي تاثرات پيدا کړل دا تاثرات به په مبهم ډول يو پر بل پراته وو. خو ذهني دستګاه سربېره پر دې چې د حسي تاثراتو د منلو توان درلود، دا توان يې هم درلود چې هغه و پېژني، اندازه يې کړي او تعميم ورکړي. يعني کولای شي چې د مجاورت، مشابهت يا ورته والی او تضاد له طريقه افکار او ذهني تصورات يو له بل سره پيوند کړي.

د لاک افکار او آثار د دې سبب شول چې ښوونه او روزنه دارواي ورزش يا ذهني دسپلين څخه، د عادت پيداکولو طريقې ته تغير ومومي د لاک افکارو، ارواپېژندونکو ته نوې لار پرانستله او د دې سبب شو چې له وراثت څخه محيط ته پاملرنه وکړي. د ښوونې او روزنې په لحاظ د لاک د نظريې مفهوم دا دی چې په مدرسه کې ښوونکی د کوچنيانو د ارواء معمار ان او جوړونکي دی. اصلي دنده يې د پوره ګرامرونو جوړول او اجرا ده. خو په دنده کې ښوونکی ښه عادتونه پيدا کړي.

---

(1) apperception.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زده کړې محسوسات د دې پرځای چې ذهني روزنې ته پاملرنه وکړي باید د حواسو روزنې ته پام وګرځوي .

د جان لاک دا نوې نظریه د زده کړې په منطق کې د عطف ټکی و . تر اوه لسمې پېړۍ پورې د ښوونکو او مربیانو کار دا و چې د زده کړې بخوانۍ نظریې تعبیر او تفسیر کړي ، یعنې ارواپې درزش او دسپلین به یې بیانا وه . دا نظریات د لاک د نظریاتو سره سره د اولسمې پېړۍ تر پایه پورې دوام درلوده

# د اصالت تداعي روښتی

## ښوونځی

د هربارت د پیدایښت نظریه :

هربارت(1) د سپینې لوحې د نظر سره د تړاو په خاطر چې د جان لاک له خوا طرحه شوې وه ، د نوې عملي ارواپوهنې بنیا دکېښود . دغه نظر د زده کړې په هکله له دې ځایه سرچینه اخلي چې هغه عملاً د ښوونې او روزنې په کار بوخت و ، نوځکه په ارواپوهنه کې یې په زړه پورې نظریې وړاندې کړې . او په خپل وخت یې د زده کړې نظام یا سیستم کې پراخ انعکاس وموند . هربارت ډېره مینه او علاقه درلوده چې انساني علومو اصول ، د فزیک او بیولوژۍ پر اساس بنا کړي . هربارت

(1) Johan Friedrich Herbart.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارواپوهنې ته د «ذهن کیمیا»[1] په سترگه کتل. نوله دې امله د ارواپوهنې نقش یې د افکارو په اختلاط او ترکیب یا ارواېي حالتونو کې[2] مطالعه ارزوي. ده به لکه یو کیمیا دان غوندې د ارواپوهنې څېړنه د افکارو او ذهني تصوراتو، د ترکیب، تحلیل او تجزیې پر اساس بنا کوله.

د هربارت د ارواپوهنې طرفداران د ارواېي حالتونو ارواپوهنه یو اصیل او مسلم حقیقت بولي چې په مستقیم ډول له محسوساتو څخه لاس ته راځي او په درې ډولونو څرگندیږي:
۱- حسي تاثرات. ۲- ذهني صورتونه او ۳- عاطفي عوامل خوشالي او خواشینې[3].

ارواېي حالتونه، د ارواېي فعالیتونو یوازینې عناصر دي، چې سره ترکیب شي نو ادراکي ذخیره یا د پیدا یښت خزانه[4] جوړوي او د فرد فکري مایه په هرزمان کې منځته راوړي. هر احساس او فکر هغه وخت درک یا پیدا یښت موږي چې ادراکي خزانې ته جذب شي. د هربارت په عقیده ذهن د ارواېي حالتونو ټولگه ده. په واقعیت کې د نویو ارواېي حالتونو درول یا جذب په تېرو ارواېي حالتونو، د ارواېي عملیې یا زده کړې د ایجاد سبب گرځي.
دغه په عقیده ذهن لکه دیگ ته ته چې په اوبو کې لامبو وهي او درېږي

---

(1) mental chemistry. (2) mental states

(3) Pleasure pain (4) apperceptive mass.

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه یې په اوږو کې پټه وي. د شعور یا وجدان په لاندې برخه کې ځای لري. هغه خاطرې چې په دې برخه کې ټولې شوې دي، زموږ تجربې تعبیر او تفسیر وي. زموږ احساس هم له پخوانیو تجربو څخه په کلي توګه مفهوم وي.

هربارت، ذهن په ښکاره یا روښانه شعور، تحت الشعور او د شعور د سرحد، تر عنوانونو لاندې په دریو برخو ویشي. هر خاطره یا تاثیر چې روښانه شعور (وجدان) ته لاره مومي. نو هر وخت خپل ځای بدلوي. په همدې شېبه کې امکان لري څو خاطرې یا خیالونه د شعور روښانه برخه ونیسي یا اشغال کړي.

بیا د دغو خاطراتو څخه امکان لري یو مرکز د پاملرنې کې واقع شي څېنې د روښانه شعور په آستانه کې وي او زیار باسي چې روښانه شعور ته داخل شي. د ذهن په لاندې برخه یا تحت الشعور کې د فرد د تېرې زمانې ادراکي فعالیتونه ټول شوي وي. هر یو د دغو افکارو یا تصوراتو څخه په مناسب وخت کې، روښانه شعور ته راګرځي هر وخت چې یو فکر یا خاطره په پرله پسې ډول روښانه شعور وجدان کې داخل شي نیمه وسته په ښه او اسانه صورت سره په یاد راوړل کیږي. هربارت د دې تجربې له کبله، د تکرار (تمرین)، په اصل باندې او د تداعي اساس یې داسې ول معرفي کړ، چې هر وخت که څو خیالونه او یا څېزونه یو له بل سره داسې اړیکې پیدا کړي چې وکولای شي لږ څه نوي افکار او تصورات په روښانه شعور یا وجدان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې منځته را وړي، دې پدیدې ته تداعي وایي .

## د پیدایښت د نظریې څخه ګټه په تدریس کې :

د هربارت په عقیده د زده کړې لپاره درې مرحلې موجودې دي:

۱- حسي مرحله ۲- حفظي مرحله چې د تصوراتو بیا جوړنه هم په دغه کې شامله ده . ۳- ادراکي مرحله .

فرد هغه وخت ادراکي مرحلې ته رسیږي چې وکړای شي د پوهنې ذهني تصوراتو په منځ کې ګډ صفتونه پیدا او بیا د بل تر منځه توپیر او کلي حکم او تعمیم سرته ورسوي .

د هربارت د پیدایښت د نظریې پر اساس، صحیح او سم عمل د صحیح او سم طرز تفکر څخه پیداکیږي . په دې کې شک نشته چې د میل او ارادې ریښه هم په تفکر کې شامله ده .

د هربارت د پلویانو له نظره د تدریس مهارت دا دی چې ښوونکی باید هغه افکار او تصورات چې غواړي زده کوونکي یې زده کړي، باید د هغوی د پاملرنې وړ وګرځوي . ښوونکی په ماشومانو کې د نویو تصوراتو د ایجاد لپاره چې د پخوانیو تجربو سره یې سمون او سازګاري ولري د کتنې (مشاهدې) له طریقه کولای شي د هغو لپاره داسې فکري حلقه[1] ایجاد کړي چې د ودې او روزنې لپاره یې مرسته وکړی شي . د ښوونکي هڅه باید دا وي چې نوې فکري حلقه د پخوانیو فکري حلقو سره سمون ولري .

(۱) circle of thought.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زده کړې مرحلې د هربارت له نظره:

هربارت او د هغه پلویان په دې عقیده دي چې په زده کړه کې منظمې او یو د بل سره اړونده مرحلې وجود لري، چې یو بریالی ښوونکی باید هغه وپیژني او کار ورڅخه واخلي. تدریس هغه وخت بریالی او گټور دی چې دا مرحلې په ځیر سره وڅارل شي هغه مرحلې دا دي:

۱- تیاری (چمتووالی)، ۲- د مطالبو وړاندین. ۳- مقایسه. ۴- تعمیم ۵- په کار اچول:

۱- تیاری: د دې لپاره چې په درس پورې تړلي افکار او تصورات د زده کوونکي په ښکاره او نه ښکاره شعور یا وجدان کې ایجاد شي، ښوونکی باید د تیرو زده کړو په تکرارولو سره شاگردان د نویو مطالبو د اخستلو لپاره چمتو کړي. د بیلگې په توگه د لامبو وهونکو ځینو ونو او د لامبو د قانون لپاره په کار دي چې لومړی د لامبو وهونکو اجسامو لکه بالون، د اوبو پوقانې، لرگي، کښتۍ او داسې نورو شیانو یادونه وشي.

۲- د مطالبو وړاندین: ښوونکی نوي مطالب او موضوعات د لامبو وهونکو احساس په شکل د تجسم او ښودلو په طریقه وړاندې کوي. د بیلگې په توگه، ممکنه ده زده کوونکو ته وښودل شي چې څنگه غوړي د اوبو په مخ او یا فولادي گلوله د سیمابو په مخ لامبو وهي.

۳- پرتله او تجربه: کله چې ښوونکی دوه لومړۍ مرحلې په ښه صورت سرته ورسولې وي نو بیا زده کوونکي وینې چې د نویو او زړو مطالبو ترمنځ شبا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هتوته وجود لري . له دې کبله ځواني او اوسني مطالب په ښکاره او روښانه شعور کې يو له بل سره اړيکې پيدا کوي . د تېرو او طبيعي ورته والي له کبله يو له بل سره پېوند پيدا کوي .

۴ ـ تعميم : په دې مرحله کې زده کوونکي زيار باسي چې د دوه ډوله مطالبو ترمنځ ګډ لاملونه د يو کلي حکم او اصل په صورت بيان کړي .

۵ ـ په دې ځای کې هغه اصل چې نوی زده شوی د ډيرو مطالبو د توضيح لپاره چې په لاسبو وصلو مربوط دي ، کارول کيږي . د اکار د مسئلو د حل له طريقه سرته رسيدلی شي . سبروونکی ممکنه ده له زده کوونکو وپوښتي ، چې کښتۍ له فولادو څخه جوړه ده ، نو ولې په اوبو کې نه ډوبيږي . يا دا چې د مسئلې په توګه له زده کوونکو څخه وغواړي چې آيا يو خاص شی په معين مقايقو کې لاسبو وصلی شي او که نه ؟

د هربارت پلويان زيار باسي چې نوموړي مرحلې د تدريس د کلي طريقې په عنوان وکاروي .

په واقعيت کې هربارت بايد د علمي او تربيتي اروا پېژندنې بنسټ ايښوونکی او مخکښ وپېژندل شي .

د هربارت طريقه په لومړي سر کې د وونټ[1] له خوا په المان کې او د تيچنر[2] له خوا په امريکا کې تعقيب شوه او د جوړښت ، ساختارګرايي سبروونکي[3] او حواسي د باطني يا نفسي طريقې[4] د راڅرګندولو او منځته راتلو

(1) wundt, w. (2) Titchener. E. B

(3) Structuralism (4) introspection.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرجبات يې برابر کړل .

د پورته بيان څخه څرګندېږي چې هربارت له يوې خوا د علم او معرفت سرچينه او منبع له بدن څخه د باندې بولي او د ذهني تداعي له کبله د زده کوونکي پوهه او معلومات پېژني ، نو بايد هغه د علمي تداعي ګرايانو مکتب وګڼل شي او له بلې خوا د هغه سپارښتنې او لارښوونې د علمي تجربو په پراختيا او د ذهني محتوا د تحليل او ترکيب په جنبشونو او فعاليتونو تمامي شوې ، نو کولای شو چې هغه د ساختګرايانو په قطار کې وشميرو ،

## دابينګهوس د تداعي نظريه :

معروف الماني ارواپوهاند وونکی ابينګهوس(1) په 1885 کال کې د خپلو څېړنو له کبله نه يوازې د زده کړې په مسئلې مرسته وکړه ، بلکه په زړه پورې اطلاعات او معلومات يې د هيريد(2) په عمليه کې هم په لاس را وړ . دا لومړی شخص و چې د حافظې د پېژندلو لپاره يې کتاب وليکه ، او د ارواپوهنې د اصالت تداعي د ښوونځي لپاره يې نوی دور پرانستله دې کتاب د تجربتي جنبې شريبه د تداعي د تشکيل او زده کړې عملي هم ترڅېړنې لاندې ونيوله . نو په دې خاطر هم نوی و .

دا رښتيا ده چې د لرغوني اصالت تداعي د ښوونځي پلويانو د تداعي سره سروکار درلود . خو هغوی د تداعي د تاثير موضوع ته ډېره پاملرنه نه کوله ؛ او دا يې نه غوښتل چې د تداعي د تشکيل په هکله څېړنه

(1) Ebbinghaus. H.   2- Extinction.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي. اما د نوي اصالت تداعي د منبع تګي پلویان لومړی ترهرڅه دې ته پاملرنه کوي چې د تداعی عملیه څنګه تشکیلیږي او بیا د تداعي ثبات او مقاومت د په یاد راوړلو له طریقه ان ما یسنبت کوي. د پورته افادې مانا دا ده چې د اصالت تداعي لرغونو پلویانو به د تداعي د پایلو او اغیزو له مخې څرګندول چې د قضیې علل وپیژني، خو د اصالت تداعي نویو پلویانو به د ښکاره لاملونو له مخې څرګندول چې د قضیې اغیزې او پایلې تر څیړنې لاندې ونیسي. ښکاره ده چې وروستی یا نوې طریقه بشپړه او باوري طریقه ده، یانې لرغوني ارواپېژندونکي به د معلول څخه علت ته، خو نوي ارواپېژندونکي له علت څخه معلول ته ځي.

د ابینګهوس تجربې طریقې څرګنده کړه چې هر څرګ څو ډوله حافظه لري لکه د اشکالو لپاره حافظه، د اعدادو لپاره، د نورو لپاره حافظه سمعي یا بصري حافظه او نور...

په بله وینا د هر چا حافظه څو اړخه لري چې د قوت یا ناتوانۍ له پلوه یو له بل سره متفاوته وي. اوس نو به کار دی چې د هر چا د حافظې د څرګندولو لپاره نورې دغه ډول له ان مینبنتونو لاندې ونیول شي. د بیلګې په ډول د زده کړې یا سمعي حافظې لپاره کولای شو چې څلور یا شل مانالرونکي یا بې مانا اصطلاحګانې وټاکل شي او هرې اصطلاح ته دوه ثانیې وخت ورکړل کیږي، بیا د وروستي اصطلاح له لیستلو څخه لس ثانیې وروسته له زده کوونکو څخه وپوښتل شي چې هغه اصطلاحګانې چې په حافظه کې پاتې دي، له یاده ووایي.. د دې ازمېښتي پایله

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید د هغو غبرګونو چې د دوی د څو سوو همنولو زده کول ترکوم ډ ان
مرینې د پایلې څخه په لاس راغلي او معیاري شوي دي، مقایسه او بیا تله
شي څو په دې پوه شي د دغې موضوع د ښې یا بدې حافظې په هکله قضاوت
یا حکم صادر شي . په دې ازمرینه کې دا لاندې شل اصطلاحګانې
کارول شوې دي :

ستن، یوه، خولۍ، کڅوړه، اوبه، پنځوسکې، نجلۍ، نقشه، ونه
عکس، کتاب، پیشو، چاقو، تناب، کور، جراب، کاغذ، غر، بڼ
او کیف .

اینګهوس په خپلو تجربو کې ولیدل چې د یو کرت قرائت کولو څخه وروسته یادې به یې جوړې د دغو اصطلاحګانو کومه اندازه شي چې زده شي، په دې برخه کې کومه ځانګړې عملیه چې په عیني ډول تعقیب شي نشته . دا عملیه تر هغه وخته تکرارېږي څو زده کوونکی وکولای شي د ۷۵ په سلو اوسط په سلو ترمنځه د اصطلاحاتو په زده کولو کې مهارت پیدا کړي .

اینګهوس او د هغه پلویانو د دې قانون او داسې نورو ورته قانونو څخه په استفادې سره یو کمي قانون رامنځته کړ او په وسیله یې د کړې منحني، چې نن هغه ټول پیژني، رسم کړ .

د «هیرولو منحني» په رسم سره دوی وکړای شو چې د دې کمي قانون ابتکار او مرغوبیت ډیر کړي .

د اینګهوس له زماني راهیسې د زده کړې په مطالعه او څېړنه کې د عیني طریقې څخه کار اخستل کیږي او د ډیرو نورو په زړه پورې شونیا طریقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندېزونه هم شوېدي. د دې اروا پېژندونکي په عقيده نښوونکي چې د تداعي موضوع بيانوي د مجاورت له طريقه توجيه کړي، ځکه چې مجاورت اساساً يو مساعد موقعيت دی، کوم قدرت يا قوه نه ده. مغه شرايط چې د زده کړې په حالت کې دي. تر ډېره حده د روابطو او تناسب په نظر کې نيولو سره، د کلماتو د تلفيق او ترکيب څخه ګټه او استفاده کوي.

د اېبنګهوس د تحقيق او څېړنې اصلي برخه دا وه چې روښانه کړي چې آيا د «هېرېدلو» موضوع يوه تدريجي عمليه ده؟


د دې هدف لپاره د زده کړې يوه معينه برخه د زده کولو له وخت څخه بيا د بېرته ورکولو تر وخته يعنې يوه زماني واټن، د متحول يا متغير شرط په عنوان انتخابېده، بيا د دغه شرط تغير او ارتباط د زده کړې په هکله ازمايښت کېده، پايلې وښوده کله چې موضوع ژر زده شوې وي ژر له ياده وځي، بيا وروسته سرعت د هېرېدو ورو وروکمېږي.

په بله تجربه کې د زده کړې ژوروالي يا سطحي والی، د متحول شرط په عنوان انتخاب شو، وروسته د څو کرته ازمايښتونو څخه ځرګنده شوه چې که هر څومره د يوې موضوع د زده کړې لپاره ډېر زيار وايستل شي پايله يا برخه يې داوي چې ژر نه هېرېږي.

په يوه بله تجربه کې اېبنګهوس، ازمېډونکي ته وايي چې د يوې موضوع د زده کولو څخه وروسته سم دم ويده شي او بل مېغ ئې ورل اروايي فعاليت بايد ونه کړي. نتايج وښوده چې په داسې حالاتو کې د هېرېدنې چټکتيا (سرعت) د دغه حالت په پرتله چې ازمېډونکی

دېنې پاتې شي دېر لږ وي .

د شپېتو کلونو په وروستیو کې ارواپېژندونکو دا تجربې، د هېرېدو د ماهیت پوهېدو لپاره په متفاوتو شرایطو کې بیا بیا تکرار کړل .




دابینگهوس معروفه منحني (۱۹۱۳) د یاد ساتلو او هېرېدو په شکله دا منحني د یاد ساتلو او هېرېدو د اړیکو ستر مثال دی .

# د اصالت تداعي نظرئ

## بنسټوونکي

د پاولوف(۱)، تارنډایک(۲) او نورو ارواپوهانو نوې تجربې او ازما یښتونو وښودله چې د پاولوف د تقویت فرضیه او د تارنډایک د «پاداش» فرضیه یوه ده او دواړه د تداعي د اثبات لپاره مشترک عوامل لري. تارنډایک لکه هربارت غوندې خپلې څېړنې د تداعي په رڼا کې د ذهني تصوراتو پر اساس بنا کړې او خپلو څېړنو کې یې فزیولوژیکي ارواپوهنې ته ځانګړې پاملرنه وکړه. تارنډایک عقیده درلوده چې مشهود سلوک د داخلي محرکاتو معلول دی. یعنې د داخلي محرکاتو اثر د باندینیو محرکاتو په پرتله ډېر دی. یانې داخلي محرکات د تمایل یا سایقې سبب ګرځي او ژوندی موجود فعالیت ته هڅوي. خو په زده کړه کې په کلي توګه دواړه داخلي او بهرني عوامل داخل دي. او زده کړه داسې عملیه ده چې دا دواړه سره پیوندوي. پارسا (۱۳۷۲: ۶۹)

**تارنډایک:** تارنډایک 1898 کې د خپلو څېړنو پایلې د حیواناتو د ذکاوت او سلوک(۳) په هکله له تکویني لحاظه، په یوه کتاب کې «د حیواناتو ذکاوت» تر عنوان لاندې نشر ته وسپارل. هغه د حیواناتو د زده کړې د مختلفو حالو د څېړلو لپاره له مختلفو وسایلو لکه پېچلي لارې(۴) یا معما امېزه جعبې(۵) او داسې

---

(1) Ivan.p.paulov . (2) Edward Lee Thorandike.

(3) Animal intelligence (4)- problem boxes
(5) puzzle ...

نور څه کار اخستل. تارندایک به هغه ژوي چې ازمایښتول، وږي کړل او بیا به یې په هغې پیچلو لارو کې چې د وتو لارو پای به ترې لیرې وو او پرانیستې به لار به د خوراک رسیدو ته خلاصه وه، خوشې «پیله» کړه، وږی حیوان به کله چې هغه صحیح لار خوړو ته وروسته د زیار ایستلو پیدا کړه، تشویقیده. د دې تجربې په جریان کې، حیوان ازاد پرېښودل کیده چې څو څو ځلې او طرح سره کار پیل کړي، خو د هغه سلوک او فعالیت به یې څاره او هغه وخت یې چې د ځل لومړی بریالیتوب له پاره لګولی و، ټاکید اوه، بیا به یې همغه ژوی په پرله پسې ډول ازمایښت کاوه او په منظم ډول یې د هغه سلوکي تغییرات او زماني کموالی، غذا رسیدو ته چې د حیوان د زده کړې او مهارت له کبله پیدا کیده ثبتاوه. په پای کې د دې اطلاعاتو په بنا یانې د ژوي پرمختګ، د ستونزې په حل کې، د «زده کړې منحني» ترسیم کړه او د حیوان د زده کړې او د عمل د څرنګوالي مدارک او شواهد یې په لاس راوړل.

تارندایک د دې تجربو څخه دې نتیجې ته ورسید چې حیوان په تجربو کې ځینې حرکات او کړنې د سمې یا بدې پایلې پر اساس «حذف» یا «انتخاب» وي او بیا هغه د «اثر قانون»(1) یا زده کړې په صورت داسې شرحه کوي: «هر عمل چې په یوه ټاکلي موقعیت کې د رضایت او خوښۍ سبب شي، هغه عمل د هغه موقعیت سره، تر هغه وروسته تداعي کیږي. یانې هر وخت چې

(1) The law of effect.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه عمل بیا منځته راشي ، ددې احتمال لږ دی چه هماغه عمل چې تېر کرت انجام
شوی و ، بیا تکرار شي ، برخلاف ددې که یو عمل په یوه ناکامي موقعیت
کې ، سبب د ناراحتۍ شي . په تدریج سره هغه عمل د هغه موقعیت څخه
انتزاع پیدا کوي یا نې که بیا هغه موقعیت منځته راشي ، ددې لږ احتمال
لري چې هماغه عمل مجدد د صورت ونیسي ،، .

بل قانون چې د دې قانون ضمیمه ده ، د مشق او تمرین قانون
یا د استعمال او عدم استعمال قانون دی . د دې قانون له کبله « هر
ځواب چې یوه موقعیت ته ورکول شي ، هغه موقعیت سره تداعي کیږي »
هر څومره چې دغه ځواب ، هغه موقعیت ته ډیر ، د تعداد په حساب ،
ورکړل شي ، په هماغه اندازه تداعي محکمه ده کلکه او مستحکمه وي
او هر څومره چې د نورو ځواب استعمال لږ وي ، تداعي ضعیفه کیږي .
دا د مشق او تمرین قانون ، هماغه لرغونی قانون ، د تداعي دی چې
د افکارو د ارتباط او تړاو په ځای د موقعیتونو ترمنځ په تړاو یانې
په انګیزه - ځواب اطلاق شوی دی . اما د ژوندو د زده کړې څېړنې
په وضاحت سره ښکاره کوي . چې د تمرین قانون د زده کړې ټولې
ستونزې نه حل کوي .

تارانډایک تقریباً ۳۰ کاله د زده کړې په هکله مسلسلې څېړنې او
ازمایښتونه سرته ورسول ، وروسته تر هغه یې انسان تر څېړنې
او مطالعې لاندې ونیو . په دې ازمایښت کې لویو نو زده کوونکو دې
معما آمیزه جعبو سره کار نه درلود خو امرینې ورکول کیدې چې

د مختلفو ځوابونو امکان یې موجود وو. که پوښتنه له بریالیتوب سره ترلې وه نو ازموونکي ته به د تشویق په توګه ویل کېده "صحیح ده" او که ځواب ناسم وو نو د توبیخ په توګه به ورته ویل کېده "غلط دی" یا فی په دې ازمایښت کې هم تشویق او توبیخ موجود و. ددې ازموینې پایلو وښوده چې د تشویق تاثیر په ځوابونو ډېر مثبت و. تارندایک ددې پایلې په اساس، د اثر پر قانون تجدید نظر وکړ او تشویق ته د توبیخ په پرتله ډېر اهمیت قایل شو. د تارندایک په آند د توبیخ حقیقي اثر دا نه دی چې ځواب له موقعیت څخه جلا کړي، بلکه حقیقي اثر یې دا دی چې زده کوونکی دې ته وهڅوي چې بل ځواب وازمايي او صحیح ځواب پیدا کړي. خو د تحسین او تشویق مستحق وګرځي او په دې توګه هغه صحیح ځواب په مثبته توګه د هغه له موقعیت سره تداعي شي. په واقعیت کې د سم ځواب پیدا کېدل، په اتفاقي ډول پخپله غلط او ناسم ځوابونه حذفوي.

تارندایک په خپلو مطالعاتو او څېړنو کې، د تداعي د فرضیې حدود پلوي کاوه او یا مفصي چې د ده څېړنه وه و وایي "د اړیکو او مناسبت"(1) فرضیې پلوی و. تارندایک په دې عقیده و چې ټولې تداعي ګانې د انګېزې- ځواب اړیکي یا رابطه لري. ددې لپاره چې د دوه ذهني تاثراتو او یا دوه فکرونو ترمنځ، تداعي ټینګه شي لوازمې مجاورت کافي نه دی مګر دا چې د ځواب په کېدو تمام شي.

(1) Connection.

انسان د ځینو ژونو پولرلو سره د حیواناتو په پرتله، پراخه اړیکې او ارتباطي سیستمونه پیدا کړلای شي. د انسان روحي لوړتیا د حیوان په پرتله په همدې ټکي کې نغښتې دی. په همدې خاطر د انسان ذهن[1] داسې تعریفوي: «ذهن یو ارتباط ورکوونکې دستګاه ده چې د انسان فکري، عاطفي او عملي ځوابونه د مغزو موقعیتونو سره چې مخ کېږي، مطابقت ورکوي».

## د پاولوف شرطي ځوابونه:

ایوان پطرویچ پاولوف نامتو روسي بیالوژست یو له هغو لومړنیو کسانو څخه دی چې تداعي معاني یا فکري تړاو ته یې په خپلو علمي آزمایښتونو کې تحقق ورکړ. ده د خپل کار لومړی درلس کاله په خپل لابراتوار کې د هضمي غدو، عصبي سازمان او رفلکسونو په مطالعه او څېړنه کې تېر کړل. د ده همدا په زړه پورې او ابتکاري تجربې، د دې سبب شول چې په ۱۹۰۴ کال کې د نوبل د جایزې په اخستلو بریالی شي. په ۱۹۰۲ کې د خپلو تجربو په سر ته رسولو کې داسې موضوع سره مخامخ شو چې وروسته له یو کاله ورځینو څېړنو اصول او روش ته بالکل بدلون ورکړ. پاولوف د سپي د لاړو د رفلکسونو د مطالعې لپاره یو اسباب جوړ کړی و چې د هغه په واسطه کېدای شو د حیوان لاړې چې د خوړو انګېزې څخه وروسته په خوله کې د څاب ترشحات لاندې تولیدېږي، اندازه کړي.

(۱) Mind.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاولوف په دې ازمایښت کې ولیدل چې په سپي کې د لاړو ترشح پخوا تر دې چې خواړه ورته ورسیږي، عملاً پیل کیږي. په دې ډول چې: یې اورې د خوړو د ظرف لیدل، یا ترڅ دې کېدل د هغه شخص چې سپي ته خواړه ورکوي، یا د راوړونکي د پښو اواز په مجاوره کوټه د دې سبب گرځي چې د سپي لاړې جارې شي.

اوس نو که د خوړو موجودیت د سپي په خوله کې یوه طبیعي انگېزه د سپي د لاړو د ترشح لپاره وي، د خوړو د لوښي لیدل یا د پښو اواز د دې رفلکس لپاره طبیعي انگېزه نه شي حسابېدی د غه ضرگونه یا د لاړو د ترشح ځواب چې سپي د خوړو د لوښي او یا د پښو له اواز څخه وروسته ښکاره کړی د قاعدې له مخې سپي وروسته له پرله پسې او اوږدو تجربو څخه کسب کړی وي. په تېره د خوړو د لوښي او یا د پښو اواز د سپي لپاره یوه علامه[1] نښه یا جنبه لري، چې خواړه ورته راځي.

پاولوف پوه شو چې د داسې علایمو او نښو موجودیت په هر موقعیت کې د حیوان په تطابق کې کارنده رول لوبوي.

په لومړي سر کې پاولوف دغه د لاړو ځواب ته د علامې څخه وروسته د اروایي ترشح[2] نوم ورکړ. خو پاولوف د سپي د لاړو اروایي ترشح د فرضیا ترڅنګ د هغه فزیولوژیکي فرضیاتو پر

---

(1) Signal. (2) Psyckie sicretion.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه دولوده، نو د پورته اصطلاح څخه یې لاس واخست او په ځای یې د شرطي رفلکس(۱) اصطلاح وړاندې کړه او علامت یا نښې ته یې شرطي انګیزه(۲) وویله. ښکاره ده چې رفلکس یا شرطي انعکاس بېرته زده شوو ځواب او ځواب ته غیر شرطي انګیزه ده چې هغې ته تقویت(۳) هم وایي.

د تقویت د قانون کشفول ستر خدمت دی چې نوې اروپوهنې ته د اصالت تداعي ښوونځي ته کېږده بیدې قانون ساحه او د عمل میدان په واقعیت کې ډېر لوی دی او هدف یې بیانونې د شرطي ځوابونو د غبرګون ټینګول نه دي. ممکنه ده د زده کړې په ټولو ډولو کې اغېزمن او صادق وي.

چارلز ادوارد سپیرمن(۴) انګلیسي ارواپوه (۱۸۶۳-۱۹۴۵) د ذکاوت مکمله ارواپوهنه د درک او استنباط او همداسې د څو لاملونو د پېښې ستونزو او مناسباتو پر اساس بناکړه. څو هغه څیله دا اروایي ندنې دغه سیستم د تداعي د ښوونځي په سترګه ونه کتل او لا انتقاد به یې کاوه چې د تداعي د ښوونځي پلویان په خپله فرضیه کې په عجیبه ډول خام دي. ځکه هغوی په داسې افکارو او فرضیاتو کې چې د ذکاوت پیدا کېدل، د نوي معرفت کشفول او د نوي مسئلو حل یې خوا ته پرېښي او عملاً بیانونې له حافظې سره سر وکاروي.

---

(1) Conditioned Reflex. (2) conditioned stimulus.

(3) Reinforcement (4) Charles Edward .S.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګشتالت د ارواپوهنې پلویان هم د تداعي د ښودنې پر پلویانو داسې انتقاد نه لري. او ویلای شو چې دګشتالت د ارواپوهنې علمي خدمت د اصالت تداعي ښودنې لپاره همدا دی چې د دوی دغه خلاقي وکړي. په هر صورت د تجربې تداعي ارواپوهنه کې د دې ښودنې د فعالیت په ساحه کې ستر خدمت نه سرته رسولی دی. د بېلګې په توګه د مساعدو یا نامساعدو شرایطو پیدا کول د حافظې په هکله د - زده کړې او هېرېدنې د منحني ګانو ترسیم، څېړنه د متقابلو تاثیراتو په هکله په تداعي کې د زده شویو ځوابونو (غبرګونونو)، انتقال له یو عمل یا موقعیت څخه بل عمل یا موقعیت ته، او داسې نور.

هیلګارډ[1]، رابنسون[2]، وودورت[3] او همداسې یې شمیر د اصالت سلوک پلویان د اصالت تداعي جز حسابېدای شي. ولې ټول تداعیان په هیڅ صورت سره د اصالت سلوک پلویان نشي کېدای. د تداعي ښودنې د زده کړې او په یاد ساتلو فرضیه ده، خو د اصالت سلوک ښودنې کاملاً ځانګړې بحث او تعریف لري چې وروسته به شرحه شي.

---

(1) Helgard Ernest. R.

(2) Robinson. E.S.

(3) wood worth.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلرم څپرکی

## د شعور جوړونکی ښوونځی[1]

ویلهیلم وونت[2] الماني په ۱۸۷۹ کال کې ارواپوهنه د مستقل علم په توګه وپېژاندنه او خپل لابراتوار یې جوړ او جوړونکی ښوونځی یې په ارواپوهنه کې عملاً رامنځته کړ. د ده مرکزي ټول لیاره یې د احساس او خیال په انعکاسنت او څېړنه لاس پورې کړ. وونت په ۱۸۹۲ کې ویلي دي « د ارواپوهنې کار، څېړنه او پلټنه د هغه شي په باره کې ده چې موږ هغه ته باطني او نفسي تجربه وایو. د باطني او نفسي تجربې څخه مقصد همغه حس ، د فکر جریان، اراده او تصمیم دی چې د خارجي تجربې په مقابل کې قرار لري. د خارجي تجربې مطالعه او څېړنه د طبیعي علومو موضوع ده»

وونت د دې ، څلور کاله وروسته د خپل کار عنوان بدل او د لوړنۍ « باطني او نفسي تجربې» پر ځای یې ، د « مستقیمې بلا واسطه تجربې» نوم ورکړ. په دې ترتیب د هغه د ارواپوهنې په تعریف کې د انسان ټولنیزه تجربې چې په ښتیا سره د ارواپوهنې په برخه کې شامله شوې، داځکه نفسي چې موږ پر ځینو باطني افکارو ، احساساتو خبر یو ، همدغسې په خارجي شیانو هم پوه او خبر یو.

---

(1) Structuralisme

(2) wilhelm wundt.

ودنت په لومړي مرحله کې د نفس، درک ته آګاهي یا شعور[1] ووایه او د بهرني نړۍ درک یې د طبیعي علومو موضوع وګڼله. بیا وروسته ودنت د نړۍ پوهانو په اتفاق سره، د خارجي نړۍ درک ته «اګاهي» او د نفسانیاتو درک ته «خود اګاهي» او د دواړو مجموعې ته «شعور» ووایه.

اوس نو شعور، په انسان کې د انعکاس عالي شکل دی، چې د انسان د معرفت سبب جهان او چاپېریال ته ګرځي او په همدې توګه د انسان هدفمنده سلوک اداره کوي.

انعکاس د اجسامو یا مادي سیستمونو هغه استعداد دی چې د هغو اجسامو یا مادي سیستمونو چې ورسره مقابل کیږي، مادي خصوصیتونو ته بدلون ورکړي او په شکل یې څرګند وي. هغه بل شکل معنوي د تصوراتو، مفاهیمو، احکامو او انتزاعي استنتاجونو په شکل افاده کیږي.

انعکاس د مادې عمومي خاصیت دی او د مادې د تکامل سره سم، د انعکاس خاصیت یې هم، کیفي تکامل پیدا کوي. انعکاس کیدای شي ډیره ساده لکه د آیینې غوندې انعکاس وي. کیدای شي د کشش یا تروپیزم[2] په شکل وي لکه د نباتاتو کشش د نور خواته یا د رفلکس[3] په شکل څرګند شي، لکه د ارګانیزم غیرارادي عکس العمل د خارجي اغېز په مقابل کې او یا د غریزې[4] په شکل چې یې د مثل، ناخود اګاه او ابتدایي څرګندونې شمېرل کیږي.

---

(1) Consciousness. (2) Tropism.

(3) Reflex (4) Instinct.

او یا په دې عالي شکل چې د انسان شعور دی څرګند شي. (طبري ۱۹۸۰: ۱۸)
په دې ترتیب سره په اروا پېژندنه کې د واړو برخو یانې داخلي او بهرني تجربه
شامله شوې ده .

کله چې د اروا پېژندنې اصلي موضوع شعور انتخاب شو . نو د اروا پېژندنې علم د کیمیا له سره ورته والی پیدا کړ . نو همداسې د شعور د عناصرو کشف او د دوی ترکیب او تلفیق یې د بل سره هم د کیمیا د علم د طریقې او روش سره ورته والی پیدا کړ .

وونت عقیده درلوده چې زموږ ټولې تجربې یکه د خارجي اشیاوو درک، تېرې خاطرې، هیجانات، اهداف، پېچلې او مرکبې مسلې دي چې باید په علمي توګه یې په تجربه او تحلیل شي . همدغه تحلیل او تجربې وونت د شعور د عناصرو په شکله سره ورسوله. نو احساس یې د شعور اصلي عنصر او ماده وشمېرله او په دوو اصلي طبقو یې وویشله لومړی همغه احساسونه دي چې داسې بریښي چې موږ ته له بهر څخه راځي یانې منشه یې زموږ د بدن څخه د باندې ده .

دوهم همغه احساسونه دي چې تصور کړو، چې زموږ په بدن پورې تړلي او متعلق دي او منبع یې زموږ په وجود کې ده . د اساده او لومړني احساسونه څو یې لرل شتا نو چې هغه سره ستر اوګان لري، لکه منبع شرحه کړې دي . لکه د رنګ تولید . د تېغ اوریدل، د منځه شکل جلب احساس او داسې نور،

د اصالت جمل او روا پېژند وګړ د دې عواملو پېښېدنه کې تولای

شي چې د اهم بیان کړي چي څنګه منځ اوړو او یا څنګه شیان وینو.

دا لومړي احساس نه د دې اروا پېژندونکو لپاره چې د اروا پوهنې د ترکیبي سېستم بل بیان دي، په دې خاطر ډېر مهم دی چې کولای شو د ممکنه ساده تجربې او د ذهن د انفعالي[1] حالاتو تر عنوان لاندې حساب کړو انفعالي حالت، احساس او ادراک داسې تعقیبوي لکه چې سیوری جسم پسې روان وي. له ساده حسونو څخه، مطبوع او نا مطبوع حسونه یعنې لذت او الم[2] هرچا منلي ور. خو وونت دوه جهې نور هم پر هغو ور زیاته کړل. یوه جهه یې د تحریک او کرارۍ د راستې، او بله جهه یې د خواشینۍ د انحطاط، او خوشالۍ[4] احساس دی. دا حالات امکان لري په بېلا بېلو اشکالو او طرحو یې له بل سره ترکیب او نوې حالات منځته راوړي. د بېلګې په توګه هیجان یوه پېچلې او مرکبه تجربه ده چې د ذهني انفعالاتو او احساساتو څخه چې د بدن له بېلا بېلو برخو څخه سرچینه اخلي ترکیب شوې دی. میل او اراده په لحظه کې د هیجان انفعالي حالت دی چې د تصمیم نیولو په لحظه د نفسي حالت په قطع او ناڅاپي تغییر کې مشخص کیږي. څنګه چې لیدل کیږي د وونت هدف په دې حالاتو کې دا دی، څو هغه شیان چې انسان یې واقعاً احساسوي شرحه کړي، نه هغه اعمال چې انسان یې سرته رسوي په بل

---

(1) Passive. (2) Pleasant_unpleasant.

(3) To stimulate and peace or Tranquillity.

(4) Depression and pleasure.

عبارت د وونت په عقیده د انسان د اعمالو شمېرل او را پېژندنه نه ده،
بلکه د رومبا نه شعور، د محتویاتو شرحه د ارواپوهنې هدف او منظور دی.
«د نفساني منتجه یا د ترکیب اصول»، یې له هغې په زړه پورې قوانینو څخه دي
چې وونت یې وړاندې کړي دي. کولای شو دا قانون داسې هم بیان کړو:
«د څو نفسي عملیو ترکیب بېل بېل نوي خاصیتونه پیدا کوي چې ترکیبو
نکي اجزاو یې نه درلودل». د دې قانون څخه مراد کولای شو د اصالت
ندا چې د سلوکیانو په تعلیماتو کې له وونت څخه او د گشتالت په ارواپوه
هنه کې وروسته له وونته هم پیدا کړو. (وو دورانت د ۱۳۴۸: ۶۳۸، ۷)

څنگه چې مخکې هم یادونه وشوه د دې سلوکیانو ملي یانو د ارواپوه
هنې موضوع شعور[1] یا د خود اگاهۍ تجربه شمېرله او د دوی په عقیده د
داخلي مطالعې[2] له طریقه کولای شو د شعور یا خود اگاهۍ د تشکیل طرز
تر مطالعې او څېړنې لاندې ونیسو.

د دوی په عقیده شعور د احساس[1]، تخیل[2]، عواطفو او تفکر[3] څخه تشکیل
شوی دی. دا ټول چارې د داخلي اصولو یا روش له طریقه کولای شو تر
کتنې او څېړنې لاندې ونیسو. د ذهني پېچلو عملونو د ساده عملونو څخه
جوړې او د تحلیل او تجربې له لارې کولای شو هغه تشخیص کړو.

اد وارد براد فورد تیچنر[4] انگلیسي پوه لومړی د وونت سره په څېړنو
بوخت شو او د هغه تر اغېز لاندې و. بیا وروسته امریکې ته ولاړ او د

---

(1) Sense (2) Image (3) Idea

(4) Edward Brad ford Titchener.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړنلو په پوهنتون کې د عمر تر پایه په اروا پوهنه بوخت و .

## کلاسیک ښوونځي یا د تیچنر د عقایدو

# اصــــول

د المان د لایپزیک په ښار کې د تجربي اروا پوهنې د ښوونځي لــه پلویانو څخه، د وونت او وو (v)، تنو زده کوونکو زیات ویست چې پــه امریکا کې د اروایې تجربي لیاره لابرا توارونه جوړ کړي . تیچنر تر ټولو معروف، بااستعداده او انګلیسي نژاده ځوان و چې په ۱۸۹۲ کال یې وکړنل د پوهنتون د اروا پوهنې د لابراتوار مسؤلیت ومانه. د ده د مهمو اقداماتو څخه یو دا و چې د ده د وونت د اروا پوهنې د شعور جوړونکي ښوونځي څخه، د اصالت عمل"(1) د اروا پوهنې په مقابل کې چې په دې وخت کې په امریکا کې رواج درلود پلوي وکړه .

تیچنر کاروونده مفاهیم یا په بل عبارت د عمل او ترکیب رجوړونکي اصطلاح ګانې ، په ۱۸۹۸ او ۱۸۹۹ کال کې طرح او وړاندې کړل. د دې دوو اصطلاحګانو طرحې او په یوه وخت کې د تیچنر له خوا چند ان تعجب او حیرانتیا ورنه دي . او د اصالت عمل د ښوونځي سره د ده مخالفت بیځایه نه لري. ځکه کله چې غواړو د یوه ماشین په هکله خبرې وکړو کولای شو چې هم د ماشین د جوړښت یا ترکیب او هم د دغه د فعالیت او استعمال څخه وغږیږو . په همدې ډول د سترګي په بحث کې کولای

(1) Functionalism.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چې هم د سترګو د جوړښت او هم د هغې د فعالیت او استفادې څخه خبرې وشي.

په بیولوژي کې هم علم د جوړښت (اناتومي)، او هم د دندو علم (فزیولوژي) لري. د تشریح علم یا اناتومي د جوړښت او ترکیب علم دی او فزیولوژي د دندو او عمل علم دی. په کلي ډول هدف د جوړښت یا ترکیب د یوه جهان یا سیستم دا دی، چې څنګه ترکیب یا جوړ شوی دی اما د دنده دا ښکاره کوي چې هغه سیستم یا عضو څنګه کار کوي یا د څه لپاره جوړ دی. دا دواړه علمه مهم دي، ولې داسې ښکاري چې جوړښت باید مقدم وي، ځکه چې څو یې سیستم او جوړښت یې معلوم نه وي نو د هغه د کار او عمل په هکله به څنګه څېړنه وشي.

د تیچنر په عقیده وجدان یا شعور د ارواپوهنې اصلي موضوع تشکیلوي. د بدن او نفس (اروا)، اړیکې موازي او هم آهنګه دي یو د بل سبب نه کېږي او د دوی ترمنځ د علت او معلول ارتباط نشته.

تیچنر د وجدان یا شعور د تجزیه لپاره درې لاندې جریانونه مهم ګڼي. هغه احساسات، تصورات او انفعالات دي. دا ارواپېژندنکي دغه جریانونه ته د شعور یا وجدان یا هغه بنیادي جوړونکي توکي وايي او په لاندې ډول یې شرحه کوي:

۱- احساس یا حسي ادراک د حواسو په مرسته د شي په موجودیت یا حضور کې تشکیلېږي. دا درې عامله لري یو یې بهرنی او بل یې عضوي اغېز دی. او وروسته له دې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدموخڅه په مغزکې انعکاس پیداکیږي چې نوم یې احساس دی. د بېلګې په توګه د غږ په شکل د هوا ارتعاش، خارجي تحریک او حرکت چې په غوږ کې واقع کیږي، عضوي اغیزه ده. وروسته له دې د ورمقدموخڅه په مغزکې انعکاس پیداکیږي چې هغه ته احساس وایي.

مجرده احساس او بدني تاثرات په تنهایي سره معرفتي ارزښت نه لري، ځکه چې په ذهن تاثیر کوي، معمولاً د نورو نفسي فعالیتونو په واسطه احاطه کیږي او د مغز په مرسته تعبیر او تفسیریږي، د مقام نیسي او مانا پیداکوي.

۲- تخیل، تصور یا ذهني تصویرونه چې پرته د اشیاوو له حضوره څخه په ذهني جریان کې پیداکیږي، د تیرو خاطراتو او یا راتلونکو خیالونو سره اړیکې لري.

۳- انفعالات د عواطفو خصوصیات دی. دا انفعالات د داسې تجربو لکه مینه، نفرت، خفګان او خواشینۍ په اثر څرګندیږي.

د کلاسیکي اروا پېژندنې، کلي طرحې د دې ترکیبي، عناصرو، پر بنا ولاړې دي. د قاعدې پر اساس، دا دیر ساده سیستم دی او د ډیرې پېچلې نفساني مسئلې له پرېرته اجزاوو څخه تشکیل شوې دي.

فعل وانفعالات د دې طرحې، هغه اجزاوې دي چې د شعور پېچلې حالات لکه تفکر، عاطفه، ادراک او تخیل منځته راوړي. او ویل کیږي چې د نفساني چارو صراحت او اهمیت د مغز د تسجیلونو تر اوبد لوتړلي دي.

د تیچنر په عقیده د ذهن محتویات، شعور یا نفساني چارې په دوه

برخه ونیسي کېږي. چې ځینې له مغزه څخه په مرکز او کانون کې واقع او خاصه برجسته ګي لري او ځینې له مغز څخه په څنګ واقع دي او صراحت یې لږ وي.

تیچنر په دې عقیده دی چې په ټولو علومو کې د شیانو عمومي طبیعت او قوانین مشاهده ده. داخلي او نفسي کتنه په ټوله یو ډول مشاهده ده داخلي کتنه یا د وجدان د محتویاتو مشاهده ممکنه ده. د طبیعي علومو له مشاهدې څخه توپیر ولري، خو په اصل کې دا د ټولو طریقو یوه ګډه طریقه ده.

داخلي کتنه د علمي او روانپوهنې او فلسفي او روانپوهنې د بېلوالي حد د حد فاصل، او د هغه فکري طریقې ځای نیونکی دی چې پخوا به په فلسفه کې د روح او ذهن د پېژندنې لپاره په کار یده.

تیچنر د اروا پوهنې په ځینو مطالبو اصلاً ستړې پیدا کړې. د مثال په توګه ذکاوت د انسانې موضوع چې امریکایانو ته ډېره مهمه وه او د فردي اختلافاتو د توپیر لپاره به کارېده له نظره غورځوله. د طبیعي او غیر طبیعي ځانانو او روانپوهنې ته یې پام ونه کړ. له مرګه د تاریخ، ادبیاتو او کاتولیکي ځینو څخه یې سترګې پټې کړې او سلوک یې هم ونځ یې سطحي وګاڼه.

د عصبي دستګاه په میکانیزم کې د بې خبرۍ له کبله یې د دغې دستګاه په فیزیولوژیکي څېړنو کې هم د پام وړ پرمختګ ونه کړ. د حیواناتو د روزنې مسلې یې هم د اروا پوهنې له قلمرو څخه بهر وګڼلې.

همدا سبب شوی چې د دې سبوونو په د پوهانو لږه پاملرنه جلب کړه. د دغو سبوونو عملي او اجرایي اړخ نه لاره. د امریکایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارواپوهانو د بې علاقه ګۍ سبب ښوولی. (اراسته ۱۳۴۸ : ۱۲۳).

خو د تیچنر د ښوونې اهمیت په دې کې دی چې ارواپوهنه یې علمي میتود ته داخله کړه، د متافزیک او عامه عقایدو څخه یې جلا کړه. زیاری وکیښ چې تجربي طریقې د هغې د مطالعې په اصولو کې داخله کړي. په دې کې شک نشته چې د حواسو، احساساتو او ادراکاتو تشریح کول ستر خدمت و. که څه هم د ده کار مقدمات نه وای برابر کړي نو ګمان نه کیږه چې علمي ارواپوهنه به تجربي ساحه کې دومره پرمختګ کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعمل د اصالت
## سبنوونځي

د عمل د اصالت (۱) نظریه د لومړي ځل لپاره په 1896 کال کې د جان دیوي (۲) په واسطه طرحه شوه . دیوي په یوه مقاله کې چې د «انعکاس (۳) د قوس مفهوم» تر عنوان لاندې د «ارواپوهنې د څېړنو» په مجله کې لیکل شوې وه ، «زده کړه» په ذروي «اتمي» شکل چې د تداعي کړانو او سلوکیانو طریقه وه تر انتقاد لاندې ونیوه ، او دا یې هم سپکاره او تصریح کړه چې زده کړه یوازې د محرک ـ ځواب په طریقه هم نه حاصلیږي . بلکې زده کوونکی او یا ماشوم د کل په توګه اهمیت لري ، نه یوازې ذهني محتوا یا د محرک ـ ځواب میکانیکي اړیکې .

د عمل د اصالت نظریه څخه تر دې چې تجربي ارواپوهنه منځته راشي د 1830 کال راهیسې په امریکا کې فرهنګي او تدریسي اهمیت درلود . د نفسي فعالیتونو موضوع په ارواپوهنه کې د اساسي او اصلي مسئلې په عنوان پېژندل شوې وه . د هغه زمان د ارواپوهانو هدف د داسې اصطلاح د ټاکلو څخه داو چې د عمل د اصالت دارا

(۱) Functionalism . (۲) Dewey Jahn.

(۳) Reflex are concept.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهني، افکارو او اصولو ته په امریکا کې بسیط او اشاعه ورکړی.

د عمل د اصالت سنوونځی په حقیقت کې د جرېښت د اصالت د سنوونځي په مقابل د اعتراض څرګوچې هغه یې بې ارزښته او بې اعتباره معرفي کړي.

د عمل د اصالت د سنوونځي له ځانګړنو څخه یو دادی چې د نورو سنوونځیو برخلاف پر دې عقیده دي چې اروا پوهنه د بېلو څېړنو او مضمونو ترکیبونو څخه نه ده ترتیب شوې، بلکه یوه انتخابي او التقاطي نظریه ده چې په خلاص لاس یې د اروا پېژندنې د نورو اصولو او ضوابطو څخه ګټه اخستې ده. د دې سنوونځي په تشکیل کې نامتو څېړونکي لکه جیمز انګل[2]، هاروي کار[3]، رابرټ ووډورث[4]، اډوارډ رابنسون[5] او ترټولو مهم جان ډیوي[6] برخه درلوده. په دې څېرکي کې یو ازې د دوی کسانو نظرونو ته په لنډه توګه مطالعه کوو.

( د جیمز انګل څېړنه )

جیمز انګل په ۱۹۰۶ کال کې په امریکا کې د اروا پوهانو د انجمن په ریاست وټاکل شو. او د لومړي ځل لپاره یې د عمل د اصالت اساسي اصول په خپل خطابیه نطق کې اعلام کړل او په رسمي توګه د جرېښت د اصالت سنوونځي په مقابل کې معارضې ته راووت. د جرېښت د اصالت پلویانو ټول نفساني حالتونه د باطني او نفسي طریقې له مخې د اهمیت، ورپېښ او په دې عقیده وو چې د ذهن جوړونکي توکي عبارت دي له: حسي تجربې، ذهني صورتونه او احساسونه. د دې توکیو د ترکیب څخه یې بیا سره هیجان، ادراک او معلومات حاصلیږي. د جرېښتونه

(1) Eclectic (2) Angell. J. R. (3) carr. H. A

(4) wood. d. worth. (5) Robinson. E.S. (6) Dewey, John.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خاصه توګه د حسي غړو په فعالیتونو پورې تړلي دي. که موږ وکولای شو چې د ذهني جوړښتونو ماهیت په ښکاره توګه مشخص کړو نو باور کولای شو چې د اروا پوهنې اوږده کړې په کم وکیف پوهیدلي یو او د هغه اصول موږ زده کړې دي.

خو انګل بر خلاف د دې طریقې وړاندیز کوي چې د اروا پوهنې اصلي دنده داده چې د ذهني جوړښت د تجزیې او تحلیل په ځای باید د ذهني فعالیتونو تجزیه او تحلیل وشي، ځکه داکار با ارزښته او ښه پایله لري، په سلوکي ځیړنو کې باید کار او دندې ته د جوړښت په پرتله پاملرنه وشي.

انګل د پراګمتزم د فلسفې پر اساس همیشه زیار ایسته چې عملي پایلې د نفسي یا رواني فعالیتونو بنسټ وګرځي. (ځکه چې د انګل د پراګمتزم فلسفه داسې یې فکر دی چې حقیقت، د فکر په سنجش، د واقعیت او عملي پایلو سره معلومېږي).

انګل د اروا پوهنې رول یا نقش د شعور یا ذهن د توکیو په تشخیص او پلټنو پورې نه محدود دي. بلکه زیار باسي څو رواني یا نفسي علل پیدا کړي. دی، عصبي فعالیتونه د اروایي فعالیتونو اصلي او ټاکونکي عوامل ګڼي.

نو ځکه فزیولوژي په اروایي فعالیتونو کې لازمي شمیري همداسې انګل په دې عقیده و چې د ذهن یا اروا یوه مهمه دنده داده، چې ژوندي موجود ته د محیط سره په سازګارۍ او جوړښت کې مرسته وکړي.

د عمل د اصالت منونکي پلویان لکه چې د مخه وویل شو د ذهن په تجزیه او تحلیل کې څه علاقه نه ښئ دله . خو اړوالي فعالیتونه او د بیولوژۍ نقش دارو او پوهنې د مسلې په بیان او شرحه کې مهم او کارساز شمیرل کیږي . دا نوی برداشت یا فکر، د ښوونې او روزنې یا د دې منونکي د مهمو پرمختګونو څخه د شلمې پېړۍ په پیل کې شمېرل کېږي . دا ځکه چې په دې ځای کې، زده کوونکی یا کوچني د زده کړې په مرکز او کانون کې ځای نیسي تر دې وخته د زده کړې موضوع د ذهني ورزش(1) په اطراف څرخیده او د زده کوونکي فعالې برخې چندان اعتبار نه درلود، زده کوونکی به یوازې په پوښتنه کې د کسبي او آزمایښتي معلوماتو سره اشنایي پیدا کوله . خو د عمل د اصالت د منونکي له نظره د کوچني خپله تجربه د زده کړې او د هغه د سلوک اصل جوړوي . په دې اساس انګل درې اصول چې تر هغه وخته یې کوم اهمیت نه درلود او فاقد د ارزښت و، پام لرنه وکړه :

۱- د انسان زده کړه او سلوک، د شخصي، حسي او حرکتي دستګاه د هماهنګه فعالیت سره اړیکه یا رابطه لري .

۲- سلوک او زده کړه د حیاتي د ندو او بدني اړیکو په سبب مطرح کېږي .

۳- سلوک او زده کړه یو تطبیقي عمل یا فعل وانفعال دی چې عملي پایله یې د اهمیت وړ وي .

---

(1) Mental discipline

# د ژوند د بقا اصل

په ۱۳۰۴ کال کې انګل، د عمل د اصالت ښوونځي، بنسټ په فعالیت[1] بنا کې، او هغه یې د ټولو انواعو د توافق (سازګارۍ)، او ژوند کړې لپاره یو ضروري حکم وشمېره. انګل د ژوندیو موجوداتو له مشاهدې او د ژوند د مختلفو پدیدو څخه داسې نظریه او اعتقاد په لاس راووړه دغه په نظر ژوند بې له حرکت څخه د اړتیاوو او غوښتنو لړ ته بل څه نه دي. یانې ژوندی موجود د خپلې بقا لپاره تل په چاپېریال کې په حرکت، فعالیت او اکتشاف بوخت وي. علم الحیات یا د بیولوژیک پېښانو دا خاصیت چې د محیطي محرکاتو د تغیر معلول دی. تروپېزم[1] یا د ژوند بقا نوموړی دی.

نو د ژوند بقا یو سلسله ضروري حرکتونه دي چې ژوندی موجود یې د ځواب یا غبرګون (عکس العمل)، په عنوان د چاپېریال محرکاتو ته ورکوي او خاص فزیولوژیکي دندې ایجابوي، لکه د ځینو نباتاتو حرکت او تمایل د لمر خواته د دې مدعا ښه ثبوت دی. په کلي توګه د ژوند بقا، انسان یا بل هر ژوندي موجود حرکت او فعالیت ته اړ باسي. د دې فعالیت بیلګه په انسان کې د ذات ساتنه، له خطرونو او تهدید څخه ګرېوالی، احترام او دوستي له نورو سره، د عزت النفس په ساتنه کې زیار ایستل او داسې نور دي.

څنګه چې د عمل د اصالت ښوونځی د علم الحیات (بیولوژي)، پر بنسیاد

(1) Tropism.

استوار دی. نو د ژوندیو موجوداتو او انساني افرادو د توافق ترمنځ ورته والی په ښه توگه تشخیصیږي. د عمل د اصالت ښوونځی په دې باور دی چې د توافق کلي قوانین په خاصه محدوده کې د تعمیم او بیان وړ دي، یوازې یو توپیر د ټیټو ژوندیو موجوداتو او انسانانو ترمنځ وجود لري او هغه د انسانانو اگاهانه یا شعوري فعالیتونه دي.

د عمل د اصالت ښوونځی د ژوند د بقا اصل، د سلوک په تعین کې د غریزې[1] پر پرتله ډیر پرمختللی او مهم گڼي.

د جوړښت د اصل پلویان، خصوصاً تیچنر، د غریزې کارنده رول د سلوک په تعین کې ضروري گڼي. خو د عمل د اصالت پلویان، هغه رده وي، او په اروا پوهنه او ښوونه او روزنه کې هغه یو ساکن[2] عامل شمیري او په مقابل کې یې، فعالیت او تحرک بنسټیز اصل او ځیرونکی عامل په سلوک، روزنه او زده کړه کې معرفي کوي. د دې ښوونځي پلویان په دې عقیده دي چې فعالیت له یو تعداد مرموزو او پیچلو داخلي عملیو څخه سرچینه اخلي او په زده کړه کې ډیره اغېزه لري.

انگل په «مقدمه د اروا پوهنې»[3] کې څرگندوي چې «د انسان یوه پله یا ځیني غریزې خپله نېرو د بدن له ضرورتونو څخه اخلي او بله پله یې په عمده یا اختصاصي توگه د ټولنیز قدرت او نفوذ تر سلطې لاندې وي». په دې ځای کې د انگل هدف د غریزو څخه دا دی چې د چاپیریال د محرک له اغېزو څخه را منځته کیږي. په دې ډول که په انسان کې یو عامل د غریزې په

---

(1) Instinct (2) Static
(3) James. R. Angell. Psychology.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان هم مشخص کړ. نه شو کولای هغه د چاپېريال له اغېز څخه خالص وساتو. پارسا (۱۸۲).

## د جان ديوي د څېړنې طريقه:

جان ديوي د عمل د اصالت ښوونځي يو نامتو لارښود او استاد دی.

جان ديوي د دې ښوونځي د نورو ښوونځيو په نسبت اينيس ډېر نوي ونکو غوندې، د شعور د تشکل او جوړښت په ځای د شعور اهداف او د کار طريقې تر مطالعې لاندې نيسي دی عقيده لري چې د انسان شعور يا وجدان نه يوازې دا چې د نفساني يا ارادي حالاتو څخه تشکيل شوی دی بلکې ټول هغه اعمال چې د عکس العملونو تر عنوان لاندې د خارجي محرکاتو په مقابل کې سر ته رسيږي، هم په شعور کې شامل دي.

جان ديوي په دې عقيده دی چې د انسان ښکاره شعور يو فرعي پديده نه ده. بلکه پخپله د يوه خالص علت په توګه د ژوند د بيولوژيکي بقا لپاره يو علت دی. هر حس ممکنه ده د يوه حرکت د پيدا کېدو يا برعکس د يوه حرکت د ودرېدو (توقف) سبب شي، ځکه د شعور يا خود اګاهي عمليې د جسمي او حرکتي له پلوه چاپېريال سره پيوستون او اړيکې ګري. بهرامي (۱۳۴۸، ۴۶).

اوس نو دا راپورته شي موضوع د جان ديوي له نظره "د فرد انطباق له چاپېريال سره" دی. د دې ښوونځي د پلويانو له نظره د فرد انطباق له چاپېريال سره دا دی چې د ژوند په جريان کې، نفسي او بدني عوامل يو له بل سره مرسته کوي او د انسان د ټېر عوامل د عادت په شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګند او بې له اګاهۍ او خبرتیا څخه سرته رسیږي . د دوی په نظر ویره، غضب او نور عواطف د انسان د بقا له پاره لازمي دي. دا دول عواطف انسان له خطرونو او نورو موقعیتونو سره اشنا کوي د خوشالۍ او یا د خواشینۍ احساس چې د عاطفي ژوند پایله ده د ژوندي موجود له هدفونو سره مخامخ اړیکې لري .

که د انطباق په بهیر کې زموږ نفساني فعالیتونه بې له کوم خنډ او ځنډ څخه پر مخ ولاړ شي ، د خوښۍ احساس کوو، خو که دا فعالیتونه کوم خنډ سره مخامخ شول او پرمختګ څخه یې وډرول نو په دې صورت کې د خواشینۍ احساس په موږ کې پیدا کیږي .

د عمل د اصالت ښوونځي پلویان ژیات باسي چې د دوی څېړنې عملي ګټې ولري او په خاصه توګه په ښوونه او روزنه کې ګټورې وي جان ډیوي سربیره پر دې چې د لوړ مقام فیلسوف دی ، د دې تر څنګ د ښوونې او روزنې د علم بردارانو څخه هم دی. د ده په عقیده د ښوونې او روزنې نوې طریقه باید د پوهې او سلوک او د کوچنیانو د شخصیت پر اساس ولاړه وي .

د مادونو ویل دا چې علم فی نفسه او علم د عمل لپاره د تمدن له پیلوه مړې دورې څخه تر اوسه د پوهانو د پاملرنې وړ و او ده. لومړی د دې پر اساس فیلسوفان او د علم او ادب مشران په دوو برخو ویشلای شو . په کلي توګه د هرې علمي رشتې د رشد په لومړیو مرحله کې هر علم د پوهانو په نظر کې وي . خو وروسته مرحله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی علم پراخه کیږي، د دې علم عملي اړخ د افرادو پاملرنه ځانته جلبوي. په بل عبارت د هرې علمي رشتې مخکښان لوړ معرفت حقیقت پسې ګرځېدل او ډېرو لږو یې د خپل کار عملي اړخ ته پاملرنه کوله او ډېرو له دوی څخه به په خپله رشته کې د څېړنې او تتبع مشتاق وو.

د اروا پېژندنې رشته هم د دې تکاملي سیر څخه بې برخې نه وه. لومړني اروا پوهان یوازې د ذهن د محتویاتو په پېژندنې پسې ولاړل. چې د تیچنر ښوونځی د دې ډول فکر ښه نمونه ده. تیچنر د عملي اروا پوهنې څخه بېزاره وه او دومره په علم في نفسه کې ډوب و چې د خپل کار پایلو ته یې هم پاملرنه ونه کړه.

د شلمې پېړۍ په پیل کې کلاسیک ښوونځي خپل رونق له لاسه ورکړی و، ټولنیز بدلونونو او د اروا پوهنې په هره رشته کې علمي پرمختګونو نوي ښوونځي زېږی ورکاوه. د هرې دورې او عصر د افکارو تنظیم داسې یو چاپېریال غواړي چې د هر ډول تعصب څخه خالي او د زړو او دودیزو ادابو او کړنو په قید کې نه وي. دا ډول چاپېریال په هغه وخت کې د شیکاګو ښار پوهنتون برابر او اماده کړ. پوهان او فیلسوفان یې لکه جان دیوي، ویلیام جیمز، جیمز انګل او داسې نور راوبلل چې د پوهنتون علمي مرکز ته رونق ورکړي.

نو ځکه د شیکاګو پوهنتون چې په وخت کې د امریکا د خلکو او ټولنې د اړتیاوو مولود و، د نویو څېړنو او مطالعو مرکز وګرځېد

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د عمل د اصالت[1] نوی ښوونځی یې په اروا پوهنه کې رامنځته کړ. د دې ښوونځي په رامنځته کېدو سره امریکا لومړی مبارز د کلاسیک ښوونځي په مقابل کې د اروا پوهنې په میدان کې وړاندې کړ.

د دې مذهب پلویان په لومړي سر کې د نفس فعل او انفعالاتو ته پاملرنه کوي او د ذهن محتویاتو ته دومره ارزښت نه ورکوي. سربېره پر دې، دې ښوونځي غوښتل چې د ذهن د فعل او انفعالاتو انتفاعي جنبه او اړخونه تر څېړنې لاندې ونیسي.

د جان ډیوي د فلسفې هدف لکه د نولسمې پېړۍ د پای او د شلمې پېړۍ د پیل پوهانو غوندې، د داروین له عقایدو اغېزمن او لا تدریجي تحول یې د خپلې فلسفې بنسټ منلی و. د جان ډیوي د فلسفې اصول د «انسان د سلوک او طبیعت سیر» کې په بشپړ ډول څېړل شوي چې عصاره یې دا ده: «انسان د عادت او سایقو مخلوق دی نه د عقل.»

جان ډیوي د انسان ټولنیز اړخ ډېر مهم شمېري. په دې برخه کې د مفصل بحث څخه وروسته او همداسې د دې مطلب توضیح چې ذهنونه یې له بل سره په مقابله کې وده کوي. انسانان د افرادو ترمنځ اړیکو ته متوجه کوي. مداوم تغییر او تحول د فرد او ټولنې د کمال سبب شمېري. د همدې اصولو او نظریو پر بنا، ډیوي خپل عقاید د کوچني په هکله څرګندوي او ادعا کوي چې کوچنی یو ټولنیز موجود دی چې د ژوند په هره ګړۍ کې د ټولنې لپاره ژوند کوي او زیار باسي چې د هغې سره

---

[1] (Funczionalism)

(c) ketabton.com: The Digital Library

توافق وکړي. بیا د ذهن جریان او د بدن دستګاه ته پام راګرځوي او ادعا کوي چې ذا دوه خوځښتې د انسان وسیله ده چې د هغې په واسطه او مرسته زیاړ باسي چې د چاپیریال سره موافق او ځانته انطباق ورکړي.

د دې عقایدو اساسي بیولوژي او په خاصه توګه د داروین عقاید او تولیږ هغه تشکیلوي او لومړی بنسټ یا نې بیولوژی (علم حیات)، ته په فردي سلوک کې ډیر اهمیت ورکوي.

د انسان د ذهن توجیه او تحلیل استقرائي او علمي اړخ یې د جان ډیوي او د هغه د پلویانو، خاص نظر او عقیده وه. ذ دې لپاره چې اروا پوهنه په دې برخه کې موفقه وي، په کار دی چې د نفساني چارو له حریم څخه بهر شي او اړیکې یې د نورو مسایلو سره تر مطالعې لاندې ونیسو. د ژوندي مرجع ذاتي د بدن دستګاه اندازه کړو د انسان پیچلې جوړښت د طبیعت او نړۍ په پیچلي صحنه کې مطالعه او وڅیړو.

په مشخصه توګه د دې ښوونځي تر منځ د پخواني کلاسیک ښوونځي سره چې د ورځې په اوضاع مسلط و په لنډه توګه داسې خلاصه کیږي:

لومړی تر منځ یې دا دی چې د عمل د اصالت ښوونځي پلویان لکه خرد ګرایانو (د عقل پلویان)، د اروا پوهنې کارنده رول د ذهن یا شعور د عناصرو په لټون کې محدود نه بولي، بلکه په دې عقیده وو چې نفساني عمل و پلټي او عصبي فعالیتونه د رواني هڅو اصلي او پاکونکي عوامل پیژني او وایي چې د شعور یا ذهن یوه مهمه دنده په دې کې ده چې ژوندي موجود سره چاپیریال په توافق کې مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسې حال کې چې :

د جرمنت د سبوونځي پلويان لکه الماني وونت او انګليسي تيچنر د ذهن د محتويا تو جوړونکي عناصر ته داسې پاملرنه کوله ، چې کاملاً يې د نفسانې چارو په هکله ، ستا تيک[1] بحثونو ته کش کړل ، او دا بحثونو دومره ورته په زړه پورې وو چې د ذهن يا شعور ډيناميکه[2] برخه يې هيره کړله او له څېړنې څخه يې وغورځوله .

د عمل د اصالت پلويان په دې عقيده وو چې نفسي جريان بايد د ذهن د ترکيبوونکو عناصرو په منظور ونه څېړل شي . بلکې څېړونکي په دې پوه شي چې د انسان د ذهن او نفساني جريان عملي پايله څه ده ؟

د شيکاګو په پوهنتون کې د اصالت عمل د سبوونځي پلويان د نفساني چارو د جريان د عملي پايلو په هکله زيار باسي چې ارواني چارې په طبيعي او رښتيني قالب کې وپلټي ، خو د کلا سيک سبوونځي پلويان چې د محض او في النفسه علم پلويان دي ، نفساني چارې له واقعي علم څخه جلا کوي ، او د هغه په ارزې د څېړنې او مطالعې موضوع ګرځوي .

دا دوه فکتې پلانې علم په ارزې د علم په خاطر او علم د عمل لپاره د دې دوو سبوونځيو سبکارمه او بارز توپيرونه دي .

د عمل د اصالت سبوونځي پلويان هروخت دا پوښتنه طرحه کوي چې د نفساني يا رواني چارو جريان په طبيعت يا نړۍ کې څه په کار راځي او څه

---

(1) Statics (2) Dynamics.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گټه ورڅخه اخستلی شو ؟ خوتیچنر له دې پوښتنې څخه بېزاره وا ونگه علم په حریم کې دا پوښتنه پرځای نه شمېرله .

خوجان دیوي چې تربیتي نظر درلود ، ذهن یې همیشه دروستنۍ پوښتنې لور ته ځیرشوا وتربیتي چارې یې دا روا پوهنې پر اصولو کې پلټل او په پای کې علمي ارواپوهنې ته متمایل شو . دا مطلبونه د دې دوو ښوونځیو ترمنځ بې غټ توپیر وشمیرل شو .

د عمل اصالت ښوونځي پلویان عقیده لري چې په ټولو طبیعي چارو کې دا استمرار حالت وجود لري یانې د استمرار حالت د محرک او غبرګون ، عکس العمل ، ترمنځ د مقدم او موخر ترمنځ ، د ټوند موجود او چاپېریال ترمنځ او داسې نور .

جان دیوي د بدن او ذهن دا پیکو ترمنځ خاص نظرلری او مسئله په تازه رنګ تر بحث لاندې نیسي . د دیوې په طرحه کلاسیک نظریه د ثنویت ، د بدن او نفس په هکله له منځه ځي .

ذهني او جسمي تجربې دواړه مني ، خو دغه د منظمو او ځانګړو حوا دثو په څېر یو له بل څخه نه بېژني .

د جان دیوي په خیال د احساس او حرکت یا افکارو او اشیاوو ترمنځ واټن وجود نه لري . نو هغسې چې په واقعي توګه د محرک او عکس العمل ترمنځ واټن نه شته ، په همدې ډول د ذهن او بدن ترمنځ واټن ته قایل نه و .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ادراک :

جان لاک د انګلیس معروف پوه او د تجربي نظريې مخکښ دلوړې ګل لپاره اعلام کړه چې د انسان ذهن يا نفس لکه سپينه لوحه ده چې د شخص انګار او معلومات په هغه کې نقش او تصوير يږي .

لاک په دې هم معتقد دی چې د داسې معرفت اونږ ده کوم اکتسابيانږې د تجربې له لارې حاصليږي او بس . داسې قبلونې د ديوي په ډير اثار کې ليدل کيږي . د ديوي په عقيده زده کوونکي خپله د ادراک وسيله ده او تجربې چې هره ورځ په لاس راوړي له يوې خوا څخه زده کوونکي د نړۍ په واقعاتو او د هغو پر ځانګړو خبرو د هغو زده کړه او پر مه زياتوي او له بلې خوا هغه ته د تفکر عادت د نويو زده کړو لپاره ورکوي . په همدې خاطر جان ديوي «انسان ته مخلوق دعادت وايي نه دعقل» .

جان ديوي د خپلې اروا پوهنې له اصولو څخه د وسيلې په توګه په تدريس کې استفاده وکړه او په دې باور شو چې د زده کوونکو ذهني جريان په هيڅ صورت د موجوده شرايطو او د هغو پايلو څخه نه شو جلا کولای . دا نو البته نه هدف نه ته څه وي او پايلې ترې لاس ته راځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ویلیام جمیز اروا پوهنه :

ویلیام جمیز[1] یو جامع او په خپل ژوند کې هر وخت په زده کړه ، څیړنه او تتبع بوخت و . دی په ۱۸۴۲ کال کې وزیږیدلی او په ۱۹۱۰ کال کې مړ شو . نوموړی د ارواپوهنې لومړی تجربه ځای « د هارورډ په پوهنتون کې تاسیس کړ . ویلیام جیمز سربیره په طبابت په فلسفه او حکمت کې هم پوره معلومات او پوهه درلوده . د ده فلسفي شرحه د ده فکر خصوصیت لري . له یوې خوا د ده مطالعاتو په طبیعي علومو خصوصاً طبابت کې دی ، د مادي فلسفي مذهب ته متمایل کړ او له بلې خوا دیني عقاید د ده مادي فلسفي اړخ تعدیل یداوه . همدغو مطالعاتو دی د فلسفې خاصې طریقې ته وکشاوه او پراګماتیسم[2] بنبوونځی یې رامنځته کړ .

د ویلیام جمیز د پراګماتیسم فلسفه داسې یو فکر دی چې غواړي حقیقت د فکر د تطابق له کبله واقعیت سره ، اندازه او سنجش کړي او د هغه عملي پایلې څرګندې کړي . د دې فلسفې فرضیه په حقیقت کې دلاندې عناصرو ترکیب :

(۱) د کانت عقلي فلسفه (۲) د داروین د نسب د بقا فرضیه د (۳) انتفاعي یا د سود فلسفه چې ټولې نیکې د ګټې په ترازو سنجوي .

(۴) تجربي او استقرایي طریقه : پازارګاد ( : )

ویلیام جمیز د تجربي اروا پوهنې او « وونت » برخلاف احساس او تصور د نفساني چارو د جوړونکو واحدونو په عنوان نه منې .

---

(1) William James (2) Pragmatism.

مکلیر خلاف د دغه نظر خبرې کوي . دی وايي چې «صرف تجربه» د نفساني نړۍ او شعور اصلي ماده ده، صرف تجربه داسې تعریفوي: «د ارګانیزم بې واسطه جریان له چاپېریال سره د تفکر مواد جوړوي».

د ویلیام جېمز په عقیده اروا پوهه باید په لومړي سر کې د عصب وپېژني او د اعصابو د سلسلې د فعل او انفعال په هکله معلومات ولري. د عادت په مفهوم پوه وي. عادت داسې توجیه کوي: «د تجربې اثر د اعصابو په سلسله د عادت بنسټ جوړوي او هره تجربه د انسان سلوک ته بدلون ورکوي او د وروستي سلوک لاره اسانه کـــوي او هغه پرانیزي».

ویلیام جېمز د اروا پوهنې موضوع داسې بیانوي: «اروا پوهنه د نفسي د رواني، ژوند علم دی، چې څېنې پدیدې او شرایط څېړي». د ویلیام جېمز په عقیده پدیده، د اروا پوهنې موضوع، طبیعي علوم پورې تړي او مطلب یې دا دی چې نفساني چارې مستقیماً په بدن ـ مخصوصاً د مغز دستګاه پورې اړه لري. د هغه له نظره د بدن دستګاه، د ذهني ژوند شرائط برابروي او د اروا پوهنې د علم مهمه برخه تشکیلوي. اوس نو ویلیام جېمز اروا پوهنه د علم الحیات (بیولوژي)، له دریځه وینې او شعور د هغې مرکزي مسئله شمېري خو د شعور په داسې جریان چې د سیلاب څخه جلا وي، قانع نه دی او هغه نه مني. ویلیام جېمز د شعور یا خودآګاهي د جریان په هکله وایي: «شعور لومړی خصوصیت دا دی چې دا فردي جنبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري یانې هر فکر د فردي شعور جز دی .

دوهم خصوصیت یې دا دی چې تل په تغییر او بدلون کې دی . له دې بیان څخه مطلب دا دی چې د نفس یا شعور په جریان کې تشابه ممکن نه ده . هغه وایي : هغه څه چې دوه کرته له نظره تیریږي یې په بېرته خپل پورنې اړه لري ، هغه دلیل چې جیمز یې په دې برخه کې اقامه کړی دا دی : چې هر نفسي جریان ، د بدن د دستګاه په خاصه توګه د اعصابو د سلسلې تابع وي . څنګه چې د اعصابو د فعالیت شرایط هر کرت یو له بل سره توپیر لري او برابر نه وي . نو ورته (مشابه) بدني جریان هم نه ممکنه کیږي . نو په پایله کې نفساني ورته جریان هم غیر ممکن وي .

دریم خاصیت د شعور یا خود اګاهۍ چې ویلیام جیمز د هغه یادونه کړې ده دا دی ؛ چې د شعور جریان او د افکارو سلسله استمرار لري او د غه استمرار موږ حس کوو . مطلب له استمرار څخه دا دی چې د خود آګاهۍ یا شعور جریان د ویشلو وړ نه دی . د افکارو سلسله یوازې هغه وخت قطع او خود اګاهي متوقف کیږي چې زماني واټن انقطاعاً واقع شي . د خود اګاهۍ د استمرار مطلب دا دی چې که د زماني فاصلې له کبله د خود اګاهۍ جریان متوقف شي ، د هر نسبیاً څخه وروسته فرد احساسوي چې کولای شي خپل احساسات د خود اګاهۍ پخواني جریان سره وصل کړي او دواړه برخې سره وتړي .

د ویلیام جیمز په عقیده د خود اګاهۍ څلورمه خصیصه دا ده چې شعور یا خود اګاهي د درک وړ موضوعاتو ته پاملرنه کوي او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترخیرنې او مطالعې لاندې ونیسي . (راسته ۱۳۴۸ : ۷۴ - ۷۱)

ویلیام جیمز په دې باور دی چې دا روا پوهنې موضوع تر دې هم پراخه ده د وحشیانو ، اطفالو ، حیواناتو او لیونو اروا پوهنه هم په کې داخل دی .

ویلیام جیمز یو نکته سنج پوه او علمي ذهن یې درلود او د علمي طریقې پلوی وه لومړی طریقه چې هغه یادوي « داخلي او باطني » طریقه ده ، خو د وونت او تیچنر د عقیدې برخلاف چې هغوی به د دغه طریقې د خطا څخه خالي بلله ، خو ویلیام په دې عقیده دی چې دا طریقه د خطا امکان هم لري او ممکن ده چې خطا هم نه شي ، نو موړی دا پوره ول مشاهده شمیري . که څه هم ویلیام جیمز ته د تجربتي اروا پوه پلوی نه شو ویلای خو په تجربتي طریقه عقیده درلوده . د دې سیستم اروا پوهانو او پلویانو په خپلو څېړنو کې د تجربتي طریقې څخه ګټه پورته کوله د دې صحت او اعتبار به یې په احصایې سنجاوه او وسطي حد به یې لاس ته راوړ.

ویلیام جیمز « مقایسوي طریقې » ته په اروا پوهنه کې رواج ورکړ او هغه یې په « باطني او تجربتي طریقو » کې وکاروله ، د ژوو ، کوچنیانو او لیونو د ذهني چارو مقایسه کار اسانه کوي . د دې طریقې صحت او اعتبار احتمالي وي او د پایلو تفسیر یې اسانه کار نه وي . د دې طریقې څخه باید په ډېرې څېرکه استفاده وشي . بله موضوع چې د ویلیام په اروا پوهنه کې ډېر ارزښت لري د بدن او روح ترمنځ رابطه یا د بدن او ذهن ثنویت دی . د دې عقیده لري چې د اروا پوهنې کار له روح سره چې له بدن او واقعي نړۍ څخه جلا او پورته او ما بعد الطبیعه عالم پورې اړه لري ، نه دی . (پېړنۍ اثر ۸۰ - ۷۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## دسلوک د اصالت ښوونځی

### د واټسن سلوکي[1] نظریه :

جان بي واټسن[2] ( ۱۸۷۸ - ۱۹۵۹ ) په ۱۹۰۳ کال کې د ( Ph.D ) شهادتنامه دشیکاګو له پوهنتون څخه ترلاسه کړه . واټسن یوازې یکایي استاد او پوه دی . دی دسلوکي نظریې منځکښ او لومړی سړی دی چې د جوړښت له نظریې او دباطني او نفسي طریقې سره خپل مخالفت ښکاره کړ . په هسدې دول دعمل د اصالت له ښوونځي سره په ځنګه دول چې ویلیام جیمز او دشیکاګو نور او ارواپوهان معرفي کړي و مخالف و .

واټسن د تاراندیک څخه ډیر کلک په دې عقیده و چې د ارواپوهنې علم باید دفزیک او کیمیا د علومو پر اصول بنا او استوار وي .

د واټسن د نظریې پر اساس نه یوازې ذهن ، ذهني او انتزاعي مفاهیم په عملي څیړونکې ځای نه شي پیدا کولای بلکې د ارواپوهنې اصلي دندو سره هیڅ دول اړیکې هم نه لري . ده په کلکه سره د انتزاعي او ذهني[3] مفاهیمو سره مخالفت څرګنداوه او په دې عقیده وچې په ارواپوهنه

---

(1) Behaviorism . (2) J.B. watson.

(3) Mentalistic concepts.

کې باید لکه تجربي علوم وغونډې ، سلوک ملاک د عمل دی او له عیني طریقو څخه په څېړنه او مطالعه کې استفاده وشي او هر امر چې محسوس او مشهود نه وي باید د ارواپوهنې له متن څخه وایستل شي. یوازېنۍ سلوک چې عیني اړخ نه لري د ارواپوهنې اصلي موضوع وګرځي. د دغه مطلب له سلوک څخه هر ډول عمل او غبرګون یا فعل و انفعال دی چې له ژوندي موجود څخه سرته رسي. واټسن باید د سلوکي ارواپوهنې مخکښ وپېژندل شي.

د سلوکي ښوونځي له نظره انسان یا بل هر ژوندی موجود د خودکاره سازمان یا تشکیل په منزلت دی چې د اخستونکو او ورکوونکو شبکو یاني حسي[1] او حرکتي[2] اعصابو او همدا شان د فرمان ورکوونکو او هدایت کوونکو دستګاوو یاني مغز[3] او نخاع[4] څخه جوړ او تشکیل شوی دی. دا خودکاره سازمان په سوزېدونکو (معده) او کنټرولونکو (غدې) دستګاوو مجهز دی نو که ژوندي موجود داسې توصیف شي، نو دا هیله نه پاتې کېږي چې بايد ذهني مفاهیمو سره دې سروکار ولري. په واقعیت کې ذهن د انسان نه شي کېدای چې د نفساني ځانګړو خاصیتونو څخه جلا او په ماشین تعریف شي. آیا ماشین د نازکو او لطیفو احساساتو څخه برخه اخستی نشي او د تخیل په میدان کې الوتلی شي!

---

(1) Afferent Nervous. (2) Efferent Nervous.

(3) Brain (4) Spinal cord.

لکه چې وویل شو، سلوکیان « داخلي او نفساني طریقه » او همدا سې د شخص مفتح، حال او احساس پر اساسه او ناسم ګڼي . د بېلګې په توګه د وه - اشنایان یو بل سره روغ بړ وکړي نو داسې به یو له بل څخه پوښتي :

السلام علیکم ، څنګه یاست ؟

ښکر ، ښه یم ، السلام علیکم .

داسې روغبړ د سلوکیانو او واټسن له نظره بې معنی او د اروا پوهنې له ارزښتونو خالي دی . دا ځکه چې دا یې ډول داخلي او نفساني موضوع ده نو د نا مشهوده نفساني او باطني حالتونو، پلټل صحیح کار نه دی د دوی په عقیده روغبړ باید داسې سرته ورسېږي :

السلام علیکم ، تاسې خو جوړ او ښه ښکارئ ، زه څنګه یم ؟

السلام علیکم ، تاسې هم نو ښه او ښه ښکارئ .

د واټسن په عقیده خبرې کول یو ډول فکر کول دي چې په حسي او حرکتي سلوک استوار دی او داخلي او باطني حرکات د تفکر اساس دي . دوی خلک په لوړ ږغ فکر کوي ، ځینې خلک چې د خبرو په څنګ یا ضمن کې حرکتونه ښکاره کوي . د هغوی د تفکر غښتې نښې دي هغوی معتقد دي چې انسان په ټول ټبرونو کې فکر کوي . په کوچنیانو کې ، فکر کول لومړی په لوړ اواز سرته رسېږي . وروسته چې غټېږي په نجوا او بیخ بیخ کولو او په پای کې چې لویېږي نو په نا مریي او بې ږغه صورت سرته رسېږي . په دې مرحله کې تفکر په ټیټ اواز او بې ږغه ښکاري . شعاري نژاد ( ۱۳۷۰ : ۲۱۱ ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

واټسن د وراثت سخت مخالف دی ، هغه په خپلو اثارو کې د محیط کارنده رول ته ډیر ارزښت ورکوي او د ذکر و عقلي شخصیت ، اخلاقي تمایلنو او عاطفي تکوین ته اشاره کوي . واټسن غواړي وراثت ته چې یو درونی او غیر عیني امر دی د محیط پر پرتله چې مشهود اړخ لري لږ ارزښت او لږ اهمیت ورکړي . خو نن کافي علمي مدارک او تجربې په لاس راغلي چې واټسن نه شي کولای خپله ادعا ثابته کړي .

واټسن د ورنت او نورو تجربتي پوهانو زیار د اروا پوهنې په هکله د « واقعي علم » تر عنوان لاندې یوازې په دې خلاصه کاوه چې دوی صرف د شعور کلمه د « روح » پر ځای چې یو فلسفي کلمه د قرون وسطی وه وپیژندله او نور څه اهمیت نه لري .

واټسن وایي : « چې د سلوک د اصالت پوهنې ، پلویانو په نظر - اروا پوهنه د طبیعي علومو یوه برخه ده چې کاملاً تجربي او عیني ده او نظري هدف یې اتکل او د سلوک کنترول دی ». هغه وایي چې اوس د دې وخت را رسیدلی چې اروا پوهنه د شعور موضوع یو ځل نه پرېږدي . او ځان پر دې موضوع و نه غولوي . ولې چې د اروا پوهنې د مطالعاتو هدف د نفساني پدیدو حالاتو څېړنه ده .

د واټسن د پلویانو په عقیده د جوړښت د اصالت او د عمل د اصالت ښوونځي تر منځ تر پیر چندان روښانه نه بریښي ځکه چې د دواړو ښوونځو د پلویانو سرو کار د احساس ، ادراک ، عاطفې ، هیجان او داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو مجردو مفاهيمو سره دی خو د سلوک د اصالت پلوبيانو نور تعقراتي سي ونه کړ او داسي مفاهيم لکه شعور، نفساني حالات فکر، د ذهن محتوا، اراده، تخيل او تصوراتو پسي نه ولاړل او دهغوی پرځای يې له داسي مفاهيمو لکه انگيزه(۱)، خراب، د عادت تشکيل او د عادت تلفيق څخه کار واخيست.

انگيزه معنی داخلي عواملو ته وايي چې د يارونې (برانگيختگی)، او اضطراب سره تړلي او د فرد سلوک يا کلي هدف ته رهبري کوي. دا تحرک او اضطراب د هدف ترسيدو او د خاطراتو رضايت دوام کوي لکه: لوږه، تنده، مينه او داسي نور.

واټسن په ۱۹۱۹ کې د نامتو پوهانو او مشاهده کوونکو ترګرار شاتو وروسته ومنله چې يو انسان کولای شي خپل شخصي سلوک تر کتنې لاندې ونيسي او هم ګزارش ورکړي. د بېلګې په توګه زه په ليکنه بوخت يم، حرارت مې لوړ دی او توديم او نور.

واټسن د خپل ژوند په شرحه ليک کې (۱۹۳٦) داسي داخلي کتنې چې شخصاً سرته رسولي وي ليکلي دي: ما استفاده وکړه... ما نه غوښتل چې ترک يې کړم. ما د وجدان له مخې داسي فکر کاوه، زه تر اوسه هم په دې عقيده يم...

دا طبيعي ده چې د انسان په داخل کې ډيرې پېښې واقع کيږي چې له بهرڅخه په عيني توګه د مشاهدې وړ نه دی، خو اوس نو داسي

(۱) Motive.

حرکات لکه د امعا او احشا حرکت، د بېلا بېلو غدو ترشح د بېلا بېلو

عضلاتو خفیف او لږ انقباضات، عصبي تحرکات چې په داخل د اعصابو

کې جریان لري، کولای شو دا ټول د سلوک تر عنوان لاندې راولو

خو دا حرکتونه باندي(1) او ښکاره سلوک نه جوړوي، خو د باطني یا

داخلي او پټ(2) سلوک اجزا جوړوي دي.

د « پټ » سلوک د مفهوم په قبلولو سره په واقعیت کې واټسن(3)

له خپلې لومړنۍ ادعا څخه چې هره مساله په اروا پوهنه کې باید عملاً

د کتنې وړ وي، تېر شو او له بلې فلسفې له غوښتنې سره مل شو.

یانې په اروا پوهنه کې باید هره مساله په « بالقوه » توګه د مشاهدې

او کتنې وړ وي. اوس نو ټولې پدیدې چې ارګانیزم په داخل کې پېښیږي

په پټ سلوک پورې تړاو لري او په نظري لحاظ په فزیکي وسایلو

کیدای شي چې د کتنې او روایت وړ وګرځي.

د واټسن په کارونه کې، هغه څیړنې چې هغه د حیواني اروا پوهنې او

کوچنیانو په هکله سرته رسولي د پام وړ او بارزې بېلګه دي او دا ویلي

شو چې واټسن د کوچنیانو په تجربتي اروا پوهنه کې یو بې نظیره او محکم

پیه و. همغسې چې وړاندې ویلي وو چې « د شعور یا خود اګاهۍ تجزیې

پېچلې مسالې دي، باید هغه په ساده حسونو او ارتسامونو تجزیه کړو

واټسن هم عقیده درلوده چې « سلوک پېچلې او غامضه مساله ده باید

په ساده واحدونو انګېزې او ځواب یا غبرګون تجزیه شي چې دې ته راو

(1) Overt behavior (2) Implicit behavior

ته رفلکس[1] وايي . همداسې واټسن وايي « غبرګونه او عادت هم له همدې
مقدماتي رفلکسونو تشکيل او ترکيب شوي دي ولې د غبرګون نوعې او
طرحې او نظم او ترتيب ارثي ده ، خو په عادت کې فرد نوي صفتونه
په خپل ژوند او تجربو کې کسب کړي دي .

د واټسن په عقيده د سلوک او روانپوهنې د مطالعې او څيړنې څو
مشخصې طريقې لري ، چې مشاهده يې له دغو طريقو ده . علمي
مشاهدې د وسايلو په مرسته او بې له وسايطو له مرستې امکان لري .
ازموينه يو بله عيني طريقه ده چې کيداى شي د ارواپوهنې د څيړنو
وسيله وګرځي . ولې بايد پام وساتل شي چې ارواپي ازموينې د ذکا
وت انفعالاتو او يا ذاتي استعدادونو د اندازه کولو لپاره نه کارول
کيږي بلکې د سلوک د اندازه کولو وسيله ده . سلوکي ارواپوهنه
ازموينې ، د عکس العمل زمانه د محرک[2] په مقابل کې په ګوته کوي .
محرک هر ډول تغيير ته چې په طبيعي يا خارجي نيرو کې واقع او حسي
آخذه فعاليت ته هڅوي ، ويل کيږي . لکه نور چې سترګه او يا ږغ
چې غوږ تحريکوي .

ازموينې د حافظې د ازماينښت د پاره هم استعماليږي په دې
برخه کې د واټسن يو بل ملګري ابينګهوس او د هغه ملګرو د ازموينې په
اساس د تداعي تشکيل ، حفظ او ضعف طريقې مطالعه او څيړنې لاندې
نيولې . د حافظې په هکله تجربې او ازماينښتونه په دې عقيده بنا دي

(1) Reflex . (2) stimules .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې حافظه په هیڅ ډول ذهني مسأله نه ده. یانې د سلوک د اصل د سټرېګې پلویان په دې عقیده دي چې حافظه یوازې تجدید د عکس العملونو ده وروسته د تمرین له دورې څخه.

سلوکي اروا پوهنه انفعالات او تمایلات، د بدن عکس العمل بولي. د بیلګې په ډول که څوک ووايي «خفه یم». نو دغې جملې سره یې د بدن وضع بدلیږي او غوښې مملو مېږي. ښکاره ده چې دا د شرایطو او بدن عکس العمل دی. د وا ټسن له نظره دا ډول احساسات هم په هیڅ صورت ذهني جنبه نه لري.

له پورتني طریقې سربېره د ښېونې یوه ډېره مهمه طریقه د سلوکي ارواپوهانو لپاره د شرطي انعکاس[1] طریقه ده چې د پاولوف او د هغه د پلویانو له خوا رامنځته او په اختیا ورکې شوېدی.

د واټسن له نظره یوازې د زړه کړې ریښه په شرطي انعکاس کې نه ده نغښتې بلکه هیجانونه او عواطف هم په ډول زده کوونکي عکس العملونه دي.

د واټسن په عقیده عاطفي عکس العملونه درې ډوله دي. چې منځ عبارت دي له: ویرې، غضب او مینه.

همدا سې واټسن عقیده لري چې شخصیت هم د تعریف وړ دي او هغه د فرد د څرابېزو او تمایلاتو مجموعه ده چې د عکس العمل په شکل څرګندیږي. خلاصه دا چې د سلوکي ښوونځي دکار اساس څرلاندې ټکي

(1) Conditioned Reflex.

(ĉ) ketabton.com: The Digital Library

دي چې په هغو ډير تاکيد کوي .

۱- دانسان بدن بايد په دقيق صورت وپيژندل شي ، عضلاتو، غدو غړو، وينې او هډوکوته په هغه اندازه اهميت ورکول شي لکه چې اعصابو ته ورکول کيږي .

۲- وراثت ځانګړی ارزښت لري . د دې ښوونځي پلويان په دې عقيده دي چې ټول غريزې او هيجانونه د وراثت له مقولو څخه دي . دوی يوازې ويره ، غضب او مينه ذاتي او باقي مانده کسبي شميري .

۳- په دې ښوونځي کې انساني چارو او هڅو ، رواني او عملي ودې ته خاصه پاملرنه کيږي

۴- په دې ښوونځي کې د کوچنيوالي دورې ته ځانګړی ارزښت ورکول کيږي او باور لري چې دا دوره د شخصيت په جوړښت کې کارنده رول لري او د زده کړو کړنو د عملونو بنسټ جوړوي .

۵- د دې ښوونځي پلويان بدن ، يوه ميکانيکي مجموعه ګڼي او د اجزاوو اړيکې يې په اساني سره پيدا کيږي .

د دقيقې څيړنې وروسته کولای شو له دې ښوونځي څخه لاندې په زړه پورې او نوي موضوعات استخراج کړو :

۱- د اروا پوهنې موخه بايد د انسان او حيوان د سلوک مطالعه وي .

۲- د اروا پوهنې تعريف بايد « شعور » نه بلکې د « سلوک » علم وي .

۳- له پخوانيو مفاهيمو لکه احساس ، ادراک او هيجان څخه ډډه وشي . او پر ځای يې د اسې سلوک لکه محرک يا انګيزه ، ځواب ، زده کړه او عادت تر کار ولا شي . د واټسن په اصطلاح انګيزه او ځواب ته رفلکس وايي .

۴- د اروا پوهنې اصل باید په عیني اطلاعاتو استوار وي او د باطني او داخلي طریقو څخه ډډه وشي.

۵- د روح، د مفهوم په له منځه تللو سره، هغه ضد و نقیضونه چې د جسم او بدن په اړه موجود وې له منځه ځي.

سلوکي اروا پوهان باید مغز ته د یوه طلسم او یا سحر امیزه مادې په شکل و نه ګوري بلکې د اعصابو، حواسو، عضلاتو او غدو د دستګاوو تمپلونه وګڼي . دا ځکه چې د سلوکیانو د پاره یوازې هغه قضیې او مسئلې چې په عیني ډول د مشاهدې وړ وي، اعتبار لري .

د واټسن له نظره سلوک یو محیطي موضوع ده نه دماغي. یا په بل عبارت ووایم سلوک د ارګانیزم یو کلي فعالیت، چې په هغه کې مغز دا دنده لري چې حسي اعصاب او حرکتي اعصاب او عضلات یو بل سره پیوند او ربط یې ټینګه کړي . په دې ترتیب حسي سیستم د عضلاتو سره هم اهنګه کېږي په دې حساب سلوک یو حسي - حرکتي امر دی .

هغه عملیه چې د مغز د ننه سرته رسیږي یې له دې چې هغه د سلوک جز وګڼو په ډول نه توجیه کیږي .

## د سلوک علم د سکینر له نظره :

ب، ف، سکینر[1] (۱۹۰۴ - ۱۹۹۵) د پنسلوانیا په لیوه سنان ګونتې کې وزیږید او په ۱۹۸۱ کال کې یې خپله دوکتورا په اروا پوهنه کې د هارورډ له پوهنتون

---

(1) Burrhus Fredric skinner.

څخه واخست.

سکینر په خپله علمي تجربو کې د ارګانیزم سلوک د وسیلې په توګه پیژني نو ځکه د غه طریقې او نظریې ته د سکینر وسیله یې سلوک هم ویل کیږي داډول سلوکي نظریه په واقعیت کې د تارندایک د ارتباطي ارواپوهنې او واټسن د سلوکي نظریې، یوه نوې څانګه ده..

تارندایک سلوک ارتدادي د بدني او رواني، دواړه په زده کړه کې مهم بللي. اما څیړنې یې د انسان په برخه کې، ډیره ماشیني بڼه لري او د رواني خصوصیتونو څخه خالي دي.

واټسن هم د انسان په مطالعه ماشیني طریقې څخه کار اخست او څیړنې یې په ژوندي موجوداتو پورې تړلې وې.

سکینر هم لکه تارندایک او واټسن ژوندي انسان ته د ماشین یا خنثی موجود په توګه کتل او د هغه سلوک به یې قالبي او ماشیني تلقي کاوه. ارواپوهنه یې فقط د سلوک علم باله، علم یې په استقرایي طریقه مطالعه کاوه د ارواپوهنې د نده بیان یې دا وه چې د ارګانیزم د سلوک اټکل او کنټرول وکړي د خپلې څیړنې محسوس او مشهود سلوک ته محدود دي کړې وي. د سکینر پیاوړه هغه معلومات معتبر دي چې د مشاهدې له طریقه حاصل شي. د هغو ارواپوهانو سره چې په قدرت، اراده، احساس، تصور، سایق او غریزه بحث کوي، مخالف دي.

## د طبیعت او انسان اړیکې له علم سره

د سکینر د علمي نظریې بنسټ دا دی چې په طبیعت او له مخې جملې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان په سرشت او سلوک کې نظم او ترتیب وجود لري. د علم دنده دا ده چې دا نظم او ترتیب په واقعي بڼه او صورت کشف کړي.

د سکینر په عقیده علم هغه قوانین څیړي او کشفوي چې پر طبیعت مسلط دي. له دې قوانینو څخه خبرتیا، نه یوازې زموږ علمي اټکل د پېښېږي بلکې د دې سبب گرځي چې هغه عوامل او متحولونه چې د دې پدیدو د پیدایښت موجبات برابروي، هم په خپل تسلط او اختیار کې راولو. دا اوس هم په اروا پوهنه او هم په فزیک کې او کیمیا کې صدق کوي. نو له دې کبله انسان د قوانینو او د هغو د علمي سازمان له طریقه په دې توانیږي چې په موثره توگه د خپل چاپیریال او نړۍ سره چال چلند وکړي.

همداسې سکینر عقیده درلوده چې دا تصور دې ونشي چې د بنیادي سلوک توضیح، له علمي روش څخه پرته، خاصه فردي طریقه ایجابوي. د اروا پوهنې متحولین لکه د نورو علوم د متحولینو غوندې باید د طبیعي واقعیاتو په توگه توصیف شي. د سکینر په اروا پوهنه کې تابع متحول په هر موقعیت کې هغه سلوک دی چې له ژوندي موجود څخه څرگندېږي او مستقل متحول هغه محیطي شرایط دي چې هغه بالقوه د عکس العمل، سلوک حسابېږي. یانې په هر زماني او مکاني موقعیت کې د شخص څخه په دې سبب معین سلوک رامنځته کیږي. تر څو هغه پایلې چې د محیطي شرایطو مطلوب دی منځ ته راوړي.

د اروا پوهنې قوانین لکه د نورو علومو قوانین صریح او روښانه دي. سکینر دا معروفه خبره: «د چې آس د اوبو سر ته راوستی شو خو په اوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چينلو يې نه شو مجبورولی، ردوي . دی عقيده لري چې د اروا پوهنې د قانون پر اساس او شديد مجبوريت له کبله کولی شو چې اس او بېرچينلو ته مجبور کړو . په همدې قياس سره کولی شو چې پر انسان کې مطلوب سلوک مينځته راوړو .

مماغسې چې په طبيعي علومو کې مشخص قوانين په لاس راغلي، سکينر - نيابا سي چې په اروا پوهنې کې هم داسې اصول را مينځته کړي چې د انسان د سلوک د اټکل او کنټرول درجه په ښکاره توگه څرگنده کړي . سلوک پېژندونکي احتمالي سلوک څېړي او هغه شرايط چې په هغه نظارت کوي کشف کړي، او د لازمو اطلاعاتو تر لولو له طريقه د هغو ځوابونو د تکرار په هکله چې په څوا واقع شي کولی شي د احتمالي ځوابونو په هکله په راتلونکي زمانه کې د نظر څرگندونه وکړي. د ځواب تکرار د احتمالي ځواب د پيښېدو دليل دی .

د سکينر په عقيده د انسان له مهمو خصوصيتونو يو دا دی چې غوا ړي پوه شي د سلوک بنسټ يې څه دی او کوم عوامل په دغه سلوک اغېز لري . د دې عواملو پېژندنه او تحليل او تجزيه موږ ته دا توان راکوي چې د سلوک نوعه اټکل کړو .

د سلوک په علمي تحليل او تجزيه کې هغه اطلاعات چې د تجربې له طريقه لاسته راځي د پيښېدو احتمالي او د ځواب د تکرار اساس او پايه جوړوي څو د داسې پوښتنې په ځواب کې چې ډېر مهم او په ژوندکې يې واړ پېښيږي او نه شو کولای د تکرار په حساب يې وڅېړو، لکه ازدواج، طلاق، کور اخيستنه او داسې نور، په داسې حالت کې څه بايد وکړو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسکینر حساب دا دی چې د انسان سلوک باید د هغه جنیټیکي اجزاوو د محیطي تجربو او طبیعي جبر پر اساس تحلیل او وڅیړو. پارسا (۱۳۷۰: ۲۴)

## دجبر او سلوک رابطه دسکینر له نظره:

دسکینر اروا پوهنه دطبیعي جبر[1] پر بنسټ استواره ده. دهغه په عقیده دانسان دسلوک علمي توصیف د قضیې یوه اړخ او د فرد دآزادۍ فلسفه دقضیې بل اړخ دی، دا دواړه ځانګړي بحثونه ایجابوي.

د بنیادم، دبني ادم، سلوک له علمي نظره د علمي جبر تابع او منونکي دي. په علمي جبر کې هر سلوک علت لري او دا یوازې هغه دول سلوک دی چې کیدای شي څرګند شي.

سکینر په تاکید سره وایي هغه جبر چې د ماشین په کار کې معتبر دی دانسان دسلوک په مکله هم صدق کوي. نن دورځ ماشینونه داسې جوړ شوي دي چې په یو دول دانسان له سلوک سره ورته والی لري. لنډه دا چې انسان ماشین دځان په شکل جوړ کړی دی. علمي جبر د دې واقعیت ښکارندوی دی. چې چاپیریال لا د هغه موجود په بدلون او جوړښت کې چې هغه ځینې چاپیریال ته بدلون ورکوي کارنده رول لري.

دسکینر په عقیده په ټوله عالم، تکه بل هر ډول ورځنې ځنځیرې محصول د ځانګړې تاریخ دی او هم دانسان په پرمختګ کې ډیر مهم او کارنده نقش یا رول په غاړه یا ضمه لري. خو په دې څرګند حقیقت اعتراف

(1) *Naturalistic determinism.*

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چې لا پرته او پټ هم په مطلقه مانا آزادي نه لري . پرمه د پدېده خط سره سمه چې طبیعت تعین کړېدی منګاره کوي او نشي کولی په هغه مسیر کې مداخله وکړي . نو په دې خاطر پرمه د طبیعي چاپېریال او جریان او د ژوند په چاپېریال کې د انسان د سلوک توضیح ده .

سکینر د چارلز او انهیانا د پوهنتونونو د استادی وروسته د رلوده د 1930 په لومړیو کلونو کې د دې نوي سټروګي په رستاخېزکې د یاد ونه ور مرستې کړېدي . په 1931 کې سکینر د سلوک د مطالعې لپاره یو پروګرام د انمایسټ کمونکي له نظره وړاندي کړ ، ده وویل ، هغه کار چې انمایسټ کوونکی کولای شي دا دی چې له پېښندل شویو انګېزو څخه کار واخلي او د ارګانېزم ځوابونه د دې انګېزو په مقابل کې یاد داشت کړي . په دې طریقه قوانین چې سلوک د انګېزې - ځواب په اصطلاحاتو توصیف او شرحه کړي . سکینر وړاندیز کوي چې انګېزه - ځواب باید په لویه مانا د رفلکس تلــــقي شـــي ،

د لرغونو او سنتي اصطلاحاتو سره سم رفلکس یوازې اکتسابي او غیر ارادي ځوابونو ته محدود و . خو سکینر وړاندیز وکړ چې دا محدودیتونه باید یو خوا ته شي او انګېزه - ځواب باید د واحد یا نوم رفلکس په نامه ونومول شي په دې مانا سره هر سلوک د واحدونو او رفلکسونو څخه تشکیل شوی وګیا .

رفلکس د اجسامو او سیستمونو هغه استعداد دی چې خپل مادي بدلون سره د بعضو اجسامو او سیستمونو چې له هغه سره متقابل عمل کړي . مختصات په بل شکل څرګند او منځته راوړي . دا بل شکل معنوي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصوراتو، احکامو او نتیجو په استنتاجونو په صورت افاده کیږي.

د سکینر په عقیده د تجربي ارواپوهنه، د ارګانیزم له مشهود او ځرګند سلوک سره پیوستون او تماس لري او د سلوک داخلي او باطني میکانیزم او همداسې په هیڅ وجه د فزیولوژی د رفلکس قوس او یا د عصبي مرکزونو د سیناپس سره سروکار نه لري.

د سکینر په عقیده د ازمایښتي انګیزې سربیره، ازمایښتونکی د تجربې نور شرایط او موقعیتونه هم کنټرولوي. د ازمایښتونکي کار او دنده داده چې د ځواب (تابع متحول یا سلوکي متحول) او انګیزې (مستقل یا تجربي متحول) او هم د نورو متحولونو سره د اړیکو ځرګوالی پیدا کړي. په بل عبارت د ازمایښتونکی ټول کار دادی چې د دې فورمول اړیکي یا رابطه روښانه او ځرګنده کړي:

$$R = f(S, A)$$

په دې فورمول کې (A) هغه شرایط او موقعیتونه دي چې ازمونکي له خوا کنټرولیږي او په دوه ډوله دي چې په دې ترتیب تجربي متحول حکم لري. لکه د شخص سابقه، او د هغه خصوصیتونه، عمر او پخوانۍ تجربې. د دې شرحې او بیان په اساس د ځواب بدلون د معلومې انګیزې (S) او نورو تجربي شرایطو (A)، تر تاثیر لاندې وي او د سلوک قوانین چې جوړیږي دا قوانین د ریاضي په اصطلاح د تابع جنبه یا شکل لري او تر هغه ځایه معلومات او اطلاعات اجازه ورکوي د ریاضي کمي (کمیتي) جنبه یا اړخ لري.

تر دې ځایه د سکینر په نظریه کې کوم نوی شی نه و. مبایي د رفلکس نوی تعبیر وي چې د سکینر په عقیده د انګیزه - ځواب تړل واحدونه په مغه کې داخل شي. نوی مطلب، مغې نوې او ساده معما امیزه جعبې پورې تړلې دی چې تر اوسه د سکینر د جعبې په نامه شهرت موندلی دی. دې نوې ازمایښت، منځ ظاهري خلا، چې د پاولوف د شرطي رفلکس او د تارندایک د فرضیې د ازمایښ و اشتباه، ترمنځ وجود درلود درکه کېږه او د داسې یوه پله، حکم لري چې مغه دواړه سره تړي او یا پیوندوي.

د دې جعبې په وسیله زده کړه اسانه او ډېره چټکه وي خو هیرول[1]، یعلت او بطي رفلکس دی.

له مغه تاریخ څخه را په دېخوا ټول ازمایښتونه په دې جعبه سرته رسیدلي او د هیرولو رفلکسونه یې ورې چې په مختلفو شرایطو کې سرته رسیږي تړلې دي.

دې د ولاړ ازمایښتونو سکینر ته دا امکان ورکړ چې خپل رفلکسونه په ځواب ورکوونکو[2] او عمل کوونکو[3] رفلکسونو ووېشي.

په یوه ځواب ورکوونکي رفلکس کې، یوه معلومه انګیزه یو ټاکلی ځواب تحریکوي او په عمل کوونکي رفلکس کې معلومه انګیزه وجود نه لري، خو دا ارګانیزم له خوا ظاهراً په اتوماتیک او غیر ارادي ځواب ورکول کیږي. په دې ځای کې هم یوه داخلي انګیزه د بیلګې په توګه:

(1) *Extinction* (2) *Respondents* (3) *operants.*

هرډ، لوږه، تنده او داسې نور وجې دلته چې څو دا زمونږ له نظره معلومه انګېزه، نه وي، داځکه چې هغه انګېزه نه ګڼو وي او هغه نه مشاهده کېږي بلې ځای کې انګېزه د زمونږ له کنترول نه بهر وي. په همدې خاطر د تجزې نو متحول د حکم لاندې نه راځي. یانې د زمونږ کار یوازې د A له متحول سره وي. تابع چې په دې شکل په لاس راځي له دې ساده شوي فورمول

$R = f(A)$ څخه پیروي کوي .

ښکاره ده چې زمونږ، انګېزې مختلفې راوړي، کله چې مونږ ځانګړې هغه میله چې د غذا محفظې پورې تړلې فشار وارد کړي. هغه انګېزې چې د دغې میلې له مشاهدې څخه راپیدا کېږي، حیوان ته ښکاره کوي چې په کوم ځای کې فشار وارد کړي .

دا هدایت کوونکې انګېزې دي او محرکه نه دي دا به عاقل نه وي چې ووایو، هغه وخت چې مونږ وږی وي، میله یا جعبه خراب د فشار ورکولو راوباسي. څو سکینر زیار باسي چې د ارګانیزم د داخلي وضعې له تعبیر څخه ډډه وکړي او یوازې هغو مسلو سره چې د مشاهدې او - حساب وړ وي سروکار ولري. په همدې خاطر سکینر وایي چې د اخراب یانې په میلې فشار، یوازې د ارګانیزم له خوا ورکړل شوی، یا داچې دا- خراب، د هغو انګېزو په واسطه چې د میلې او نورو شیانو څخه راپیدا ته شوی، رهنمایي او هدایت شوی دی .

عمل کوونکی رفلکس بل خاصیت هم لري چې د هغه په تعریف کې نغښتی یېږي، څو د هغه په نامه کې پټ دی، دا رفلکس د چاپېریال په مخ عمل کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور له دې کبله د وسيلې(۱) خاصيت هم لري . د سکينر په جعبه کې داعمل کوونکې رفلکس د غذا په برابرولو تماميږي .

ځواب ورکوونکي رفلکس لکه د پاولوف په تجربه کې، ارګانيزم د هغه څه لپاره چې ممکن وروسته واقع شي، لکه د لاړو ترشح لپاره اماده کوي څو محيطي تاثيرات نه توليدوي . څو چې د ځواب منځ په بڼه د محيط يا چاپيريال حساب نه کړو .

سلوک او رفتار غالباً د عمل کوونکو رفلکسونو څخه جوړ شوی او مطالعه د عمل کوونکو رفلکسونو شرطي کيدو او صيبيدو په هکله احتمالاً بهترينه لاره او طريقه د سلوک د فهم او درک لپاره وي .

د سلوک او فعاليت په هکله مطالعه د هغه اکتساب، هدايت او صيريدل د تجربې او ازمايښت په اساس د سلوک پېژندنې اساسي موخه ده .

سکينر دا تابيا او قصد نه درلود چې لمپله او وابهنه يوازې موږک او جعبې ته محدود کړي، که څه هم هغه داروش د کار د څېړنې لپاره اصلي او ممتازه لارګښله .

د هغه په عقيده کولی شو چې د انسان لفظي او شفاهي سلوک هم، د شرطي کيدو او تقويت د قوانينو لاندې راولو .

---

(۱) Instrumental.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

# د گشتالت ښوونځی

**مکس ورتهايمر (۱۸۸۰ - ۱۹۴۳):**

مکس ورتهايمر(۱) په المان کې وزیږید دکتورا يې په فلسفه او ارواپوهنه کې د ورتزبورگ له پوهنتون څخه په ۱۹۰۴ کال کې واخيسته او د خپلې څيړنې نتيجه يې په ۱۹۱۲ کې د فای(۲) د پدیدې په نامه نشر کړه او د شهرت موجب يې وگرځيد.

ورتهايمر د خپلو دوو تنو ملگرو په مرسته چې کافکا(۳) او کوهلر(۴) نوميدل علمي څيړنې سرته ورسولې او د گشتالت د ارواپوهنې بنسټ يې کېښود.

**د گشتالت څرنگوالی او ارزښت:**

د گشتالت اصطلاح په المان کې د وضعې، شکل او کل په مانا کارول کيږي او د ارواپوهنې د دې رشتې اصلي عنوان دی. پيژندل شوی او د کلي ساختمان تصور ته هم گشتالت وايي.

دا نظر چې له شی کولای هر شی يا وضعه د هغې د اجزاو له کتلې په ښه صورت درک او وپيژنو، نوی فکر نه دی. دا ډول فکر او نظريه

---

(1) Max wertheimer (2) Phi-Phenomenon.

(3) kurt koffka (4) wolfgang köhler.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لرغوني یونان کې لا پخوا د سقراط څخه لیدل کیږي چې یو شمیر فیلسوفان او متکلمین د هغه وخت د نړۍ او کائیناتو د څېړنې او پېژندنې لپاره بهترینه لاره او طریقه دا بلله، چې د خلقت کلي نظامونو او قوانینو ته په ځیر وګوري نه د هغې اجزاوو او جزیو ورکوټو توکیو ته. د دوی په مقابل کې ځینې داسې متکلمین هم وو چې د عالم (نړۍ) درک او پېژندنه یې یوازې د هغې د اجزاوو او جزیو ورکوټو عناصرو له طریقه ممکنه ګڼله. د لومړۍ ډلې ته کولی شو د ګشتالت د ښوونځي مخکښان او د دوهمې ډلې ته د اصالت د سلوک د ښوونځي مخکښان ووایو.

په فلسفه پېړۍ کې د ورتهایمر څخه د مخه یو ډېره د ګشتالت په مکله قاطع او صریح نظر څرګند کړی. هغه الماني ارنست ماخ (۱۸۳۸-۱۹۱۶) و. ماخ په دې عقیده و چې مادي او نفساني (رواني) جهان په اصل کې یو دي څو ارواپوهنه باید هغه احساسونه چې د شخص لپاره او یا فزیکي واقعیت سره مطابقت، سمون او اړخ نه لګوي هم له پامه ونه غورځوي او تر څېړنې لاندې ونیسي. هغه، د هغه غیر فزیکي احساس ته ارتباطي احساس وایه. د مثال په توګه څوک درې نقطې د یوې پاڼې پر مخ وویني ممکن دی د هغه په ذهن کې یو تصویر د مثلث ترسیم شي.

په دې نقطو کې هیڅ شبه یا اثر د مثلث نه لیدل کیږي. څو دا ارتباط احساس او یا د هغو کلي ترکیب له یو بل سره داسې تصویر منځته راوړي

کرستیان فن اهرنفلز"(۱) (۱۸۵۹-۱۹۳۲) په ۱۸۹۰ کال کې د ماغ
د افکارو په مکلّه په مطالعه او څېړنه بوخت شو. د هغه په عقیده په
ادراک کې داسې ځانګړي ښکارندې یې چې د فزیکي محسوس او ظاهري اوضاع
څخه اوچته او کارنده نقش یا رول په عهده لري. شخص زیاتره باسي چې
مادي موجودات د کل په صورت او بڼه درک کړي یا هغو ته مانا او مفهوم
ور وبخښي، هغه څه چې وېني، سازمان او نظم ورکړي او هغو ته وحدت
ورکړي. د دې دوو پوهانو د نظر په اساس نوی ښوونځی په المان
کې د ګشتالتي کیفیت"(۲) تر عنوان لاندې منځته راغی چې د ګشتالت د اروا پوهنې
علمي بنیاد او بنسټ یې کېښود. په واقعیت کې هغه څه چې په اروا پوهنه کې
ډېر اهمیت لري، د رابطې په ادراک او پېژندل دي چې د مانادار سلوک
سبب ګرځي. دا مسله یا اصل د فای د پدیدې په وسیله په ښه توګه
پیداکولی شو.

## د فای پدیده یا ادراکي حرکت:

څرنګه چې د دې څېړنې په پیل کې وویل شو. د ګشتالت ښوونځی د ورتها
یمر په علمي ازمایښتونو تحقق وموند. مخصوصاً په هغه ازمایښت چې
هغه د حرکت د درکولو په برخه کې سرته ورساوه. دا ازمایښت د
ګشتالت د پیرو ازمایښتونو بنسټ وګرځید. د ورتهایمر د مهمو
ازمایښتونو څخه یو د فای پدیده ده. په دې ازمایښت کې حرکت په اسانه
او ښه صورت درک کېږي: ورتهایمر په دې تجربه کې د پوښتونو په

---

(۱) Chistian von Ehrenfels. (۲) Gestaltqualitat.

(c) ketabton.com: The Digital Library

واسطه د زماني فاصلې په تنظيم سره په عمود او په منحني خط د سپينې پردې پر مخ انځور یا انځ منعکس کاوه . دا ازمايښت په پايله کې څرګنده وایښل چې که زماني فاصله د عمود او منحني خط د منعکسولو ترمنځ له $\frac{1}{15}$ ثانيې څخه زياته وه، لومړی عمود خط او بيا منحني خط د پردې پر مخ ليدل کېدې . خو که زماني فاصله له $\frac{1}{30}$ ثانيې څخه لږه وه دواړه خطونه په يو وخت يا په همزمان ډول د پردې پر مخ ليدل کېږي . او که زماني فاصله د $\frac{1}{30}$ او $\frac{1}{15}$ ثانيې ترمنځ وي داسې احساسېږي چې عمودي خط پر خپل ځان څرخېږي او منحني معلومېږي . څرګنده شوه چې درک د حرکت د فای پدیده له دوو خطونو او يوه مشخص زماني عامل څخه پيدا شوېده . دا پديده په زړه پورې ازمايښتونو او د سينما د پرمختګ سبب او د ګشتالت داروا پوهنې بنسټ وګرځيد . له دې څخه څرګندېږي چې ټول حرکتونه چې د سينما په فلم کې ليدل کېږي، معلول د يو شمېر فلمونو دي چې هر يو يې د يوه حرکت خاصه برخه ښکاره کوي . څنګه چې فلمونه په يوه معينه زماني فاصله کې يو بل پسې راځي نو ليدونکی حرکت وينې يا په بل عبارت ادراک د حرکت کوي او په واقعيت کې هيڅ فلمونه، پرته د بې حرکته تصويرونو بل څه نه دي .

د فای پديده په نورو ازمايښتونو کې لکه دوه نوراني نقطې چې له 15 څخه تر 25 سانتي مترو فاصله لري مشاهده کړل شوې . د دې تجربې طرحه داسې ده چې دا نوراني نقطې که په متناوب ډول سره سره د تياره، او روښانه شي بيا د يوې رڼا نقطې په ډول ليدل کېږي . همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خپله سبابه ګوته د ۲ سانتي مترو په فاصله د خپلې څنګه لرې ونیسو او خپلې سترګې په تناوب ډول وازې او پټې کړو و به وینو چې زموږ ګوته حرکت کوي. په داسې حال کې چې په عمل کې هیڅ حرکت وجود نه لري. دا او داسې نورې ډېرې بېلګې د اړیکو او ادراک توضیح کوي د امسالې د محرک ځواب په اړوا پوهنه کې د توجیه او تعبیر وړ نه دي.

## د شکل او ځمکې نقش د ګشتالت پــه اړوا پوهنه کې:

څنګه چې د ګشتالت ښوونځي بنسټ په ادراک ولاړ دی او ادراک هغه وخت تحقق پیدا کوي چې عوامل یې لکه پاملرنه، احساس، پخوانۍ تجربه او مانايي شرایط برابر کړي. خو ادراک په لومړي سر کې د تصویر(۱) او زمیني(۲) د ځمکې، سره کلکې اړیکې لري لکه چې په نقاشۍ کې د بڼه تجسم او بڼه ښکارېدو لپاره تصویرونه یا رسمونه په بنسمیدان او منظره کې تنظیم او رسموي. کافکا یو د ګشتالت د اړوا پوهنې طرفدار یا پلوی عقیده لري چې ځمکه یا میدان د تصویر یا شکل بنسټ دی او د شکل په څرګندولو کې ټاکنده رول او تاثیر لري.

د ګشتالت اړوا پوهنه دې دوو عاملو یا فې تصویر او زمیني ته ځانګړې پاملرنه کوي او زده کړه په اول قدم کې د دې دوو عاملو محصول ګڼي. په کلي توګه زمینه هغه شیزونه دي چې د شخص مادي او محسوس چاپېریال جوړوي په بل عبارت زمینه هغه شیان دي چې

---

(1) Piqure . (2) ground.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصویرته په زمان او مکان کې ، واقعي مفهوم ورکوي .

باید پام ونه کړو چې دګشتالت په اروا پوهنه کې ، ادراک د شخص په انډامونو یا طبیعي ودې پورې اړه او پیوند لري . د ورتها یمر په عقیده ادراک هغه وضعه یا حالت نه دی چې ځانګړو اجزاوو پورې تړلی او د تجربو او واقعاتو مجموعه منځته راوړي . بلکه د وګړي اشنایي له تجربو او د نمونو او طرحو ، اصلي مفهوم او معنا ده .

جهان او تړه په دې علت د یک کیږي ، چې انسان کولی شي هغه متناسب او هم آهنګه اعمال او حرکات چې د بیلا بیلو اجزاوو په واسطه مشخص کیږي ، وپیژني او پوه شي .

نو له کبله کل له مجموعې د تشکیلوونکو اجزاوو څخه ډیر مهم او غټ دی . البته هغه اجزاوې چې خپل متمایز صفات او اعمال یې له اړونده کل څخه اخستي وي .

په دې شکل کې د تصویر او ځمکې رابطه په دوه ډوله لیدل کیږي که ګلدان ځمکه تصور شي ، تصویر په دوه نیمایي مخونه د یوه سړي وي چې د ګلدان مخامخ دي . او که ګلدان اصلي تصویر ومنل شي نو سپینه فضا به ځمکه وي چې مرتب د ول موضوع بدلیدلی شي

# د ګشتالت د ښوونځي قوانین

د ګشتالت ارواپوهان عقیده لري چې په ګشتالت یا هیات کل کې خاصه قوه یا نیرو موجوده ده چې مسایل په خاص طرحو، شکلونو او ټاکلو قالبونو کې تنظیموي او د درک او بصیرت اساس او بنسټ جوړوي. په خاطر تشکیل[1] او سازماندهي د سلوک او فعالیتونو د خصوصیاتو څخه حسابیږي او له لاندې قوانینو څخه جوړ شوي دي.

د تعادل هـ فراګیرۍ. جامعیت، قانون.

د ګشتالت له مهمو قوانینو څخه یو د جامعیت[2] قانون دی مطلب یې دا دی چې ارواییز تشکیل او سازمان یا ادراکي تجمع، تل د کمال او شایسته ګۍ خواته میلان لري. د دې قانون پر اساس زموږ حافظه او د احساس او ادراک نیرو او قدرت، طبیعي جوړښت ته متمایل وي چې د باید او مطلق خیر له اصل څخه متابعت او پیروي کوي. د دې قانون خصوصیتونه نظم و ترتیب، تقارن، ساده ګي، تناسب، استواري، پایه داري او داسې نور دي.

په ارواپوهنه کې لکه فزیک د تعادل حالت کارنده رول لري د جامعیت قانون باید د تعادل قانون ونومول شي د نمونې په ډول کله چې مایع په نا هموار سطح کې واقع شي نو د متعادلې وضعې خواته

---

(1) Organization (2) Low of pregnans.

(3) Low of equilibrium.


(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ اړوي . په همدې قياس ، ناکامه شخص زيار باسي څو خپل نفسي تعادل بيا پيدا کړي . همدلته ده چې له نورو څخه بخښنه غواړي . يا بيا په ازمېنه چې نه دي بريالي شوی ، شرکت کوي ، څو بريالی شي . او خپل تعادل او کمال په لاس راوړي . د گشتالت د نظرېي پلويان دې حالت ته مطلوب گشتالت وايي .

د مجاورت قانون :

د مجاورت قانون[1] د يوه ميدان جوړونکي عوامل څرگندوي چې د نږدېوالي په سبب يو بل سره يوه دسته يا ټاکلي قطارونه جوړوي . هر څومره چې دا واحدونه يو بل سره نږدې وي د هغو د ترابط احتمال ډېر وي په دې قانون کې نه يوازې مکاني فاصله او د عواملو نږدېوالي د ځانگړو دستو د ايجاد سبب گرځي . بلکه دا خبره د زماني فاصلو په هکله هم صدق کوي . ږغونه او الفاظ چې نږدې يو له بل سره ادا شي هم صوتي مستقل واحدونه جوړوي او هغه الفاظ چې يو له بل څخه لرې بيا دا خصوصيت نلري .

کافکا عقيده لري ، کله چې فاصله ډېره وي هيڅ ډول وحدت د هغو ترمنځه نه جوړېږي ، او که هر څومره د دوی ترمنځه فاصله لږه او يو بل ته نږدې وي . نو هم متشکل او ثابت واحدونه منځته راوړي .





په دې شکل کې نقطې او خطونه متشکل واحدونه جوړوي .

(1) Low of Proximity .

## د ورته والي (مشابهت) قانون:

د مشابهت[1] په قانون کې د ځانګړو خصوصیتونو له کبله لکه شکل، رنګ، اندازه او داسې نور، چې لري، ګډ ګروپونه رامنځته کیږي. خو په دې شرط چې د مجاورت د قانون ضوابط په هغوی حکمفرما او مسلط نه وي. په بل عبارت د مشابهت قانون سره سم هغه شیان چې د شکل او رنګ په لحاظ ورته او مشابه دي ک شي د مشخصو او ځانګړو ګروپونو په حیث سازمان ورکوي.



( ) په دې تصویر کې، ښي خوا ته د مشابهت قانون سره سم دایرې او مثلثونه او چپ خوا ته سپینې او تورې دایرې په عمودي ډول نه په افقي ډول منګاري.

## د پیوستون قانون:

د پیوستون[2] په قانون کې د ګشتالت ارواپوهان زیار باسي چې څرګنده کړي چې د پیوسته سطحو یا کامله شکلونو وضعه د خلاصو سطحو یا ناتمامه شکلونو په پرتله، ثابت او مطلوب وي. دا خبره ښایي په دې خاطر وي چې پیوسته تصویرونه نسبتاً اسانه شکلونه جوړوي. په انسان کې دا تمایل وجود لري چې هر وخت چې نیمګړي شکلونه یا تصویرونه، کامل کړي. د ساري په توګه ناقصه دایره، د مکملې دایرې په بڼه رسم کړي.

---

(1) the law of similarity . (2) The law of closure.

حقیقت دا دی چې اوضاع ته ورکول او یا د نقص له منځه وړل، انسان ته خوښېږي او رضایت ورپه برخه کوي. خو نا تمامه کار یا وضعه د نارضایتي او خواشیني اسباب جوړوي.

## د نېک پیوستون قانون:

د نېک پیوستون (1) په قانون کې، هغه سازمان یا تشکیل چې د شکلونو یا د اشیاوو یو ځای کېدو څخه منځته راځي او درک کېږي، هغه متقارن تصویرونه او زمینې دي. د بېلګې په توګه یو مستقیم خط ته د مستقیم خط په بڼه او دایره شکله تصویر د کاملې دایرې په بڼه ادامه موجي که څه هم د نورو شکلونو احساس هم شته دی.

## زده کړه د ګشتالت له نظره:

د ګشتالت په ارواپوهنه کې زده کړه د یوه کلي هڅیات په توګه مطرح کېږي نه د اجزاوو د تحلیل او ترکیب په توګه.

په دې کې شک نه شته چې د هرې مسئلې په څېړنه کې پخوانۍ نمونې او د اړیکو کشف او پیدا کول شامل دي او زده کړه هغه بدلون دی چې د نمونو او بنا ماناګانو په ځواب کې په لاس راغلی وي. د مثال په توګه کله چې زده کوونکی د یوې نوې مسالې سره مخامخ شي. نو پخوانو طرحو او نمونو ته مراجعه کوي څو د مسالې په حل کې مرسته ورسره وشي.

(1) The low of good continuation.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسې ز ده کړه کې يوه کلي قاعده د قياس[1] په ډول د زده کړې اساس او بنسټ گرځي او مطالب له هغه څخه کسب او درک کېږي .

خو که نمونه يا بېلگه د زده کړې بنسټ وي يانې ادراک او زده کړه د جزئي څخه کل ته رسيده او ياحاصليده ، نو دې ته استقرايي[2] طريقه وايي .

د گشتالت په شيوه او طريقه کې ، د زده کړې اساس او بنسټ ، ادراک بصيرت او د مسألې حل دی . په دې طريقه کې زيات استعمال کېږي چې مسالې ته د کل په توگه پاملرنه وشي ، اجزا او اړونده اړيکې يې وپېژني او نو موړې مسئله حل کړي . په دې لحاظ بايد په زړورتيا ووېل شي چې زده کړه د گشتالت له نظره ، ادراک ، بصيرت او د مسئلې حل سره تړلې ده .

## د ادراک اهميت په گشتالت کې :

ادراک يوله هغو موضوعاتو څخه ده چې د گشتالت اروا پوهنې ځانگړې پاملرنه ورته کړې ده ، او عقيده لري چې زده کړه يې له درک څخه نه حاصليږي او ادراک هم هغه وخت تحقق پيدا کوي چې دا عوامل لکه : پاملرنه ، احساس ځواک ، تجربه او د مانا زمينه ورته برابره کړي . کلي بڼه تل د اجزاوو څخه تر هغه درک کېږي . د کل د ادراک څخه وروسته د اجزاوو درک او پېژندنه اسانه کېږي .

د دې اروا پوهانو په نظر ، ډير خلک د هغو شيانو زده کړې سره مينه لري چې د وی ته مانا او مفهوم ولري . په تجربه ثابته شوې

---

(1) Deduction (2) Induction.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چې په ړندو سترګو او یا طوطي واره زده کړه نه یوازې داچې بریالیتوب نه لري ګډوډي ...

دګشتالت د ښوونځي په ارواپوه کاتونا" د ځینو تجربو د تجربو د ساسي نتیجه وا خیسته چې زده کړې د پوهې او ادراک له مخې چټکه، انتقال او تطبیق یې په ورته موقعیتونو کې ډیره او د مطالبو بیا راپاد ول اسانه وي. او که مطالب طوطي وار زده شي، نارسا، بې مانا او ډیر وخت نیسي.

## د بصیرت (بینش) نقش :

دګشتالت د ښوونځي د ارواپوهانو په عقیده په زده کړه کې بصیرت ډیر بنسټیز نقش او اهمیت په عهده لري. ځکه ددوی په خیال زده کړه د نویو بینشونو پیدا کول او یا زړو بینشونو تغییر او بدلون دی. بینش هغه وخت حاصلیږي چې شخص د خپلو موخو داهداف، د رسیدو لپاره نه یوازې نوې لارې د استفادې، د محیطي عواملو څخه، پیدا کړي، بلکه د خپلو بدني امکاناتو د کارولو لپاره هم نوې وضعه ولټوي. په واقعیت کې د ګشتالت په ارواپوهنه کې زده کړه، د نوي بینش اوملتا پیدا کول دي چې بیا اکتسابي عمل شمیرل کیږي.

## د سلوک او زده کړې اړیکې :

دګشتالت د ارواپوهانو په نظر هر ډول تغیراو بدلون په فرد او چاپیریال او یا دواړو ترمنځ اړیکو ته، سلوک ویل کیږي.

(۱) katona.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دگشتالت له مخې په نفساني سلوک کې هدف او ذکاوت (هوښیاري) شامل دي، خو بدني حرکت سره اړیکې نه لري. په دې نظریه کې نفساني سلوک په مستقیم ډول ښکاره او مشهود نه دی بلکې یوا ستنباطي عمل دی. خو سلوکین دې برخه کې کاملاً متفاوت نظر لري. د دوی په نظر سلوک هر ډول عضلاتي محسوس فعالیت او دغدو ترشحات دي چې د بدن د غړو د حرکاتو په واسطه د اوښکو، خولو، لاړو او یا داسې نورو څرګند یېږي. د تداعي له نظره زده کړه او د مشهوده سلوک بدلون یو بل سره تړلي دي. خو دګشتالت پلویان وايي: داسم نه دی چې ښکاره سلوک، زده کړې سره مترادف وګڼو د دوی په عقیده بدلون په بصیرت کې ډیر مهم دی، نو زده کړه د بصیرت بدلون دی. کورټ لوین[1] الماني پوه، څیړونکی او د امریکا استوګن، د ساحوي معرفت نظریه د محرک ـ ځواب او همداسې د تداعي ګرانو د نظرې په مقابل کې وړاندې کړه او د دوی په مخالفت کې راپورته شو. د یوه د ساحوي معرفت نظریه[2] د ګشتالت د ښوونځي په چوکاټ کې په نسبتیز بنسټ مطرح کړه. نسبیت یا نسبي اصل[3] دا څرګندوي چې هیڅ شي په یوازې توب، داحساس او ادراک وړ نه دی، مګر د نورو څیزونو په ارتباط او اړیکو پیژندل کیږي داعبارت دا مانا لري چې هر شي رموز په ذهن کې، د تصویر او زمینې په حیث، له یوه خاص جهت او زاویې نه تشکل موي. په بایله کې نسبیت د فزیکي او عنیت له طریقه، بلکې په ادراکي او رواني لحاظ توصیفیږي.

---

(1) Kurt Lewin (2) Field or cognitive field theory.

(3) Relativism.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ترتیب سره ژوانی واقعیت عبارت له هغه ذهني طرحې او بیدا ییښت څخه دی چې فرد یې له خپلو شاو خوا حواسو په مرسته پلاس راوړي. خپله هغه شی او چاپېریال یې پېژني او د کارولو څخه یې ګټه اخلي

ساحوي نظریه پر دې فکر بنا شوې ده چې د انسان ټول روانی فعالیتونه په یوه ساحه یا میدان کې واقع کېږي او دا ټول عوامل یو له بل سره په متقابل ډول اړیکې لري. په دې نظریه کې زده کړه - هغه نسبي عملیه ده چې فرد په کې نوی بصیرت یا بینش کسبوي او یا دا چې په خپل پخواني بصیرت کې بدلون راولي.

په لنډ ډول ویلای شو چې بینش هغه احساس ، ادراك ، نسبت او پیوند دی چې ډېره وسیع مانا او مفهوم لري . د بینش رښتنی مفهوم هغه احساس او ادراك دی چې انسان ته د ژوند په شرایطو او موقعیتونو کې حاصلېږي .

په ټولیزه توګه ساحوي نظریه ، د بصیرت وده او زده کړه او هغه بدلون ته وايي چې د ژوند د فضا په معرفتي جوړښت کې منځ ته راځي .

د فرد مجموعي بصیرت او بینش د ژوند د فضا معرفتي جوړښت جوړوي . معرفتي جوړښت د هغه پېدا ښت او ادراك په مانا ده چې فرد یې له خپل رواني ، فزیکي او اجتماعي جبنو څخه حاصلوي په داسې چاپېریال کې خپله فرد او ټول هغه اړونده واقعیتونه چې په مفاهیمو اعتقاداتو او امیدونو پورې اړه لري ، شامل دي . نو ځکه د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فضا، معرفتي جوړښت د ژبې د ودې، عواطفو، ټولنيزو اړيکو او سلوک په برخه څرګندېږي.

## د ژوند فضا:

د ژوند فضا[1] يوه کلي نمونه د هغو موثرو عواملو ده چې په ځانګړې لحظه کې په سلوک اغېز اچوي او د فرد رواني نړۍ منځته راوړي. په کلي توګه خپله فرد او د هغه رواني چاپېريال په کې داخل دي، مطلب د رواني چاپېريال فزيکي او ټولنيز محيط دی. د ژوند فضا کې هم مادي او فزيکي شيان او هم نمادي[2] او عملي[3] (وظيفوي) روابط او اړيکي داخل دي. د ژوند په فضا کې نه يوازې هغه شيان چې په اوسني زمانه کې ادراک کيږي بلکې داسې مواد لکه حافظه، ژبه، هنر، افسانه، دين اتکل، او اميد ونه شامل دي.

د رواني جهان مجموعه معمولاً د فرد د ژوند د فضا له ګڼو فصلونو څخه تشکيل شوېده. د دې رواني جهان کې ممکنه ده احکام او استعدادونه، شخصي معلومات او ګروهې، تېر او راتلونکې لړليد مجرد افکار او عيني شيان هم شامل دي.

لوين خپل اصلي فورم د ژوند فضا په هکله په دې ډول طرحه کوي:

$$B=f(P.E)$$


په دې فورمول کې B سلوک، f تابع، P رواني حالت او E رواني

(1) *Life space* (2) *Symbolic* (3) *functional*

(c) ketabton.com: The Digital Library

محیط بنیي . د دې فورمول په اساس دژوند فضا له فرد او د هغه د خاص رواني حالت او چاپېریال څخه جوړېږي . د دې مانا دا ده چې دژوند فضا یو فعال او خوځند[1] کل (مجموعه) دی، چې د هغې برخې بدلون په نورو برخو هم اغېز کوي او هر بدلون ټولې وضعې پورې تړاو لري . په بل عبارت داسې یو کلیت دی چې د ژوند له مسئلو څخه یې ریښه اخیستې ده .

شخص او رواني محیط یې یو له بل څخه جلا او انحصاري حالت نه لري بلکې هر یو یې، د کل یوه برخه د رواني میدان یا د ژوند د فضا جوړوي .




پورته جوړښت یو پوټکی د بهرنی پوستې[2] په نوم احاطه کړېده . د ژوند د فضا خارجي پوسته ، هغه فزیکي او ټولنیز حالت د چاپېریال ته وایي چې فرد یې په هغه ځانګړې لحظه کې هیڅ ډول رواني حالت نه لري ، خو د درک نهایي قوه (نیرو) ور سره وي .

---

(1) Daynamic.                (2) foreign hull.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند فضا له یو شمیر منطقو، مکانونو، اشیاوو، کارونو او ډول ډول سلوکونو چې هر یو یې ځانګړی ارزښت لري جوړه شویده.

دا منطقې نه د مادي له نظره بلکې له معنوي جهته توصیفیږي او داسي فعالیتونه لکه موټرواني، د دوستانو کتنه، ډول ډول سرګرمیګانې، مسافرت او بیلابیلې پدیدې منځته راوړي. په نوره پوړۍ مثبت ظرفیت او ویره ونکي او بیزار ونکې منطقې منفي ظرفیت لري.

شخص او د هغه چاپیریال چه یو وخت د ژوند په فضا اغیز کوي، د ماهیت او وظیفې په بنسټ یو بل سره تړلي دي. فرد، چاپیریال او د ژوند د فضا خارجي یو ستره ممکنه ده په لوړ رتنه منډ سي تشکل کې وښودل شي.

د ژوند فضا په خاصه توګه یوه رواني پدیده ده. ټولې رواني حادثې لکه عمل کول، فکر کول، زده کړه، خوب لیدل، هیله کول او داسي نور فعالیتونه دي چې له فرد او چاپیریال څخه نه جلا کیږي او د ژوند له واقعیتونو سره کلک پیوند لري. لنډه دا چې د ژوند فضا یوه فني اصلاح ده چې د فرد ټولې وضعې لپاره وضع شویده.

## رواني چاپیریال

رواني چاپیریال هغه شی دی چې شخص د هغه له مادي او ټولنیز چاپیریال سره تړي. په دې اساس رواني چاپیریال هر امر او ماناداره موقعیت دی چې له شخص څخه بهر او د هغه له کبله شخص کولای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل رواني حالتونو ته تبدلون ورکړي.

فزيکي چاپيريال په کلي توګه مادي وسايلو او شرايطو ته وايي چې شخص يا شي په کې شامل دی. اما ټولنيز چاپيريال هغه اوضاع او حال دی چې د شخص اطراف او چاپيريال يې نيولی دی او په هغه کې نظر ونه اوګرځي ديوې ټولنې يا يو ملت شامل دي. که څه هم فزيکي او ټولنيز چاپيريال ديوې ګروپ دافرادو رواني محيط له پاره زمينه او شرايط برابروي خو بيا هم په ځانګړې توګه داچې هم له رواني محيط سره بنکاره توپير لري. د بيلګې په توګه په يوه ټولګي کې د زده کوونکو فزيکي چاپيريال ظاهراً يو دول ښکاري. ولې د هريوه رواني چاپيريال له يو بل سره توپير لري. په دې مانا چې ممکنه ده يو زده کوونکی جسماً په صنف کې حاضر وي اما رواني حضور ونه لري. (پارسا ۱۳۷۲ : ۳۳۲).

هرگز وجود حاضر غايب شنيده اي

من در ميان جمع و دلم جاى ديگراست.

«سعدي»

# اووم څپرکی

## د روانکاوی پېژندنه

کله چې د عمل د اصالت پېژندنه په امریکا کې جوړه شوه نو په اروپا کې د رواني تحلیل[1] تر عنوان لاندې پېژندنه رامنځته شوه. که څه هم د دې پېژندنې بنسټ فروید کیښود، خو شارکو[2] او ژانه[3] فرانسوي پوهانو په خپلو څېړنو سره د دې پېژندنې په رشد او پراختیا کې ستره ونډه واخیسته. ادلر[4] او یونګ[5] په اول سر کې د فروید سره هم عقیده وو، خو وروسته تر یې وخته یې د فروید سره د نظر توپیر پیدا شو، خو د دې پېژندنې د پراختیا په برخه کې یې ونډه درلوده.

فروید[6] (۱۸۵۶-۱۹۳۹) د رواني تحلیل د پېژندنې رهبر، طبیب اروا پوه، د اعصابو متخصص او په عین حال کې فیلسوف او انسان دوسته عالم په دې عقیده و چې هر څه چې د انسان په هکله ویل کیږي باید په علمي توګه وڅیړل شي. فروید د اروا پوهنې موضوع او طریقې ته بدلون ورکړ. ده په اروا پوهنه کې د احساس، ادراک، تفکر او ذکاوت پر ځای د هغو رواني جریانونو پر بحث وڅېړو چې مبهم شعور، «ناخودآګاه ذهن» پورې مربوط وو، پیل وکړ. ده عقیده

---

(1) Psychoanalysis (2) chorcot (3) Janet.

(4) Adler (5) ung (6). Freud.

(ċ) ketabton.com: The Digital Library

درلوده چې د داسې څېړنو او مطالعاتو لپاره ان ماېينتي طريقې يا لابراتواري کار او همداسې باطني مطالعه[1] مناسبه نه ده بايد بله طريقه وکارول شي.

فرويد عقيده درلوده چې بايد د ټولو رواني بې نظميو او اختلالاتو منبع د شعور په ناخود آگاه برخه کې وپلټل شي. د دې منبع د کشفولو لپاره هغه د «خوب د تحليل او د مريض د افکارو د تسلسل» له طريقې څخه استفاده کوله. فرويد د ناروغانو د علاج په ضمن کې داسې ناروغانو سره مخامخ شو چې د جنسي ناراحتيو د بحث په هکله او يا د هغو تجاربو په هکله چې دوی درلودې، شرمېدل. د همدې اصل له مخې فرويد جنسي تمايلات چې په کلي توګه، ميل، خوښي او لذت دی، د افرادو د کړو وړو محرک باله. فرويد دې ته پام ساته چې د جنسي تجاربو يا د ول، تذکر، اسانه کار نه دی بايد ناروغانو سره مرسته وشي چې دا تجربې بيا په خاطر راوړي او له دې طريقه نظم او روحي ارامتيا مجدداً کسب کړي. د تيرو واقعاتو بيا راياد ول او د ذهني يا شعور په اګاه يا نه بنانه برخه کې وارول، د شخص د کړو وړو د کنترول او د اروايي بې نظميو د خلاصون لپاره، د يوه مهمې وسيله ده.

فرويد په دې وګړو سره مرسته کوله څو شاته وهل شوي تمايلات خاطرې او يا حافظې ته راولي، هغه زيار ايسته څو داسې فرصتونه برابر

---

(1) Introspection

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي چې فرد په آزاده توګه څه چې په خپل ضمیر، وجدان او ذهن کې لري، بیان کړي او په دې ډول وکولای شي د ناراحتیو منبع او ریښه پیدا کړي. فروید به د مغزو تجربو یا تمایلاتو چې شاته وهل شوي، د پیدا کولو لپاره وقایع د ورکتوب تر دورې تعقیبوي، ځکه چې هغه په دې عقیده و چې منشأ د ډیرو ناراحتیو چې شاته وهل شوي د ماشومتوب په دوره کې دي.

فروید به د بې نظمیو د منبع د کشف لپاره، د خوبونو د تحلیل او تعبیر له طریقې څخه کار اخیست. هغه په دې باور و چې په خوب کې شاته وهل شوي تمایلات په بله بڼه څرګندیږي. د فروید په نظر د جنسي وقایعو د مطالعې لپاره کولای شو چې له ټولو نښو او علایمو څخه استفاده وکړو، هغه به ځینې نښې د جنسي وقایعو وسیله بلله.

فروید عقیده درلوده چې جنسي غریزه لومړی خولې ته متوجه وي د خولې خوځول یا حرکت په کوچني کې د لذت سبب ګرځي. بیا وروسته دا تحریکات د بولو محل ته پام ګرځوي او ماشوم د بولو کولو څخه خوند اخلي، په تدریج سره جنسي غریزه اشیاو او اشخاصو ته پام ګرځوي په کورنۍ کې ماشوم د پلار او مور له مینې خوند پورته کوي.

لکه چې وویل شو فروید عقیده لري چې د ذهن ناخبره برخه د انسان په ژوند کې ګارنده ونډه لري. د هغه په عقیده د ذهن باخبره برخه موږ د بهرنۍ نړۍ سره مربوطوي او تر یوې اندازې مو پر خپله وضعه خبروي. خو ډیر قوي عوامل د ذهن یا شعور په ناخودآګاه برخه کې دي چې په کړو وړو او افکارو پوره واکمني لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې کبله د سلوک د پوهیدلو پاره باید د دې عواملو کشف ته ځانګړې پاملرنه وشي . دا عوامل د ځینو تمایلاتو د شاته رمطولو له کبله، د شخصیت په نا اګاه برخه کې فعالیت کوي او د ډیر و غیر عادي سلوکونو، منشأ او منبع ده د شاته وهلو د توضیح لپاره با دانسان د شخصیت جوړښت د فروید له نظره مطالعه شي . احمد اردوباري د : ۹۱-۹۶ ،.

ددې بحث پایله دا ده چې د رواني اساسي عمل دادی چې په نارو غ کې امکان د خود آګاهۍ له ناخود اګاهۍ څخه منځته راوړي.

ځکه چې نهایي علت د ټولو ناحوالو په تن لزل د شخصیت کې دی چې له ناخود اګاهۍ څخه سرچینه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی

## د اروا پوهنې دریم قوت

د دې اروا پوهنې بنسټ ایښودونکي هر یو کارل راجرز[1]، ماسلو[2]، رالومې[3] الپورټ[4] او نور دي چې ټپلو ډول ډول څېړنو و توانېدل چې د دې نوې پدیدې لاره چې د اروا پوهنې دریم قوت[5] نومېږي اواره کړي.

### هیومنیزم : ( د انسان مینه یا بشر دوستي )

هیومنیزم[6]، د انسان مینه یا بشر دوستي ډېر اوږد تاریخ لري چې لرغونې زمانې ته ور رسېږي. خو خوځون اوار یې په شلمه پېړۍ کې د ژان پل سارتر[7] له خوا هو مل وخت څه انګازې وکړې. هغه څه چې په دې برخه کې د دې فیلسوف ته ارزښت لري: د موجودیت یا هستۍ[8] پېژندنه ده. په دې فلسفي نظریه کې فرد آزاد دی چې خپله خپل موجودیت او د ژوند لاره او طریقه وټاکي. سارتر د ګشتالت د ښوونځي هغه پدیده[9] چې د کل پر

(1) Rogers, C.R. (2) Maslow, A.H (3) May. Rolla

(4) Alport. (5) Third Force (6) Humanism.

(7) Sartre. Jean. paul. (8) Existentialism.

(9) phenomenological.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنا استوار وي په اروا پوهنه کې معنی او اهمیت ورکوي . د هغه په عقیده حیات کل هغه وخت درک کیږي چې فرد ازادانه ، د میل او اختیار له مخې د یوې واحدې ، مجموعې په شکل ، د چاپیریال په ارتباط عمل وکړي. د سارتر دا بیان ډیر مشهور دی چې وايي « زه د خپل ځان انتخاب یم» پوره عبارت د هغه ، مقصد په دې ځکه څرګند وي. د اکلیت هم د ازادۍ مسوولیت ، واقعیت او قدرت الزام لري .

البورت ډیر معروف اروا پوه هم په دې عقیده دی چې «هستي» یا د « وجود اصالت » د انسان د ژوند شرایطو ته مانا او ژوره یا ورکوي او د لومړي ځل لپاره د «بشري اروا پوهنې» د پرمختګ لپاره لاره پرانیزي

## بشري اروا پوهنه :

بشري اروا پوهنې د «موجودیت فلسفې» ته په پاملرنې سره ډیرې خیړنې سرته رسولي او له سلوکیانو سره یې د مخالف ذریځ غوره کړ . د دوی په عقیده « د مشهود سلوک طریقه نشي کولای د انسان سلوک د لابراتواري حیوان د سلوک په اساس توصیف کړو ››

په واقعیت کې هماغسې چې جان ډیوي د شلمې پیړۍ په پیل کې د سنت پرستانو پر ضد قیام وکړ او د هغه زمان د زده کړې نظام یې تر انتقاد لاندې ونیو او هغه یې ناتوان ، غیر موثر او صرف نمایشي وښود ، د شلمې پیړۍ د دوهمې نیمایي بشر دوستانو هم د سلوکي پوهنځي د پلویانو په مقابل کې را پورته شول . او اعلام یې کړه چې د دوی طریقې بشري ټولنه بې روحه او بې معنی کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او لا ممکنه ده چې د ډېرو نړیوالو جګړو موجبات برابر کړي او بشري تمدنونه تباه کړي. او ممدا سې دا یې هم په ګوته کړه چې یوازې سلوک ته پاملرنه د انسان د طبیعي علومو د اصولو او اړیکو تابع ګرځوي. او دا بنکاره تېروتنه او تعاون، د ټولو افعالو انسان په انګېزو او طبیعت د او پایله یې پرته د انسان شخصیت له پېژندنې بل څه نه دی. نو ځکه د سلو-کي طریقو کارول د انسان په مطالعه، نارسا، نامناسب، خام او سطحي دي. د تجربي علومو طریقه یوازې د سلوک مخه محسوس اړخ-مطالعه او څېړي، خو د متفاوتو شخصیتونو، پیچلو اړیکو او ټولنیزو نه شي مشخصولی.

بشري او روانپوهان تجربتي څېړنو سره مخالف نه دي، خو داسې علم او پوهه غواړي چې انسان په صورت کل سره مطالعه کړي، او وکولای شي په اطمیناني پوره او نوې او جامع طریقه انساني واقعات روښانه کړي.

په نفساني او رواني نظر هم لازمه ده چې د ورځنۍ حوادثو او پېښو ته لکه تجربه، احساس او ادراک، مانا او د انسان خُلق او خوی ته هم پاملرنه وکړي. د داسې مسئلو څېړنه نوي فن او طریقې ته اړه لري چې د طبیعي علومو په ضابطه کې وجود نه لري د دې بیانونو څخه دا پایله لاس ته راځي چې:

په بشري او روانپوهنه کې اصلي ټکي دا دي چې هر ماشوم ذاتاً عاقل او واقع بین دی. که د غوښتنو له مداخلې پرته مخه ازاد او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خود مختاره پر یښودل شي خپل ظرفیت سره سم پرمختګ وکړي. په دې مانا چې فرد هغه څه چې باید زده کړي د هر مسؤولیت یې په خپله غاړه اخلي. نو باید ازاد او په خپله رهبر وي.

بشري اروا پوهنه افر ښنده ګي، هنر دوستي او خپلواکي ته ځانګړې پاملرنه کوي. که د زده کړې په نظام کې د غه مناسب شرایط برابر شي او زده کړه په خپله خوښه او رهبري سرته ورسیږي او د زده کړې چاپیریال بې له ویرې او ترهې څخه ایجاد شي، سالمه او روغه فضا رامنځته شي او فرد د ښوونځي له حقایقو سره اشنا او مطابقت پیدا کړي، په ارزښتناکه علمي ازمایښتونو او تجربو لاس پورې کړي. یوازې همدا طریقې دي چې دافرادو لپاره که ښوونکي وي که زده کوونکي مدیر وي یا مسؤول د زیار او تجربو له کبله د پرمختګ او لوړتیا لپاره بهترینه زمینه او فرصت برابروي.

د بشري اروا پوهنې له نظره د یوه پرمختللي اموزشي نظام نهایي موخه دا ده چې ازمویلي او پوځان روانکي افراد وروزي او روزنه ورکړي. دا هدف په لاس نه راځي څو چې په موجوده تربیتي او روزنیزو طریقو کې بدلون رانه وستل شي. ځکه چې د اموزشي نظام هدف له روزنې څخه تر عالي تحصیلاتو پورې باید د ټولنې په خوځند طبیعت، پر تحول او بدلون، نه سنتي ښکون او تحجر استواره وي. په دې نظام کې باید داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې فضا رامنځته شي چې د فرد په پر مختګ او وده تمامه شي. نوښت او ابتکار د ویرې موجبات برابر نه کړي. بلکې د هغه له ابتکاري توان او استعداد سره مرسته وکړي.

نوځکه پوازې اساسي او صحیح بدلون د ښوونې او روزنې په نظام کې کولای شي چې د نښي فرهنګ غوښتنې او اړتیاوې پوره کړي.

اوس نو که غواړو خپلې بقا او دوام سره مینه ولرو باید د ښوونې او روزنې هدف د زده کړې تغییر او بدلون ته معطوف کړو. د دې موخې په وسیله یو تربیه شوی انسان زده کوي چې څنګه زده کړه ((۱)) وکړي. او دا هم ورته ثابتیږي، چې هر ډول معلومات سره څینې اشتباه ګانې هم تړلې وي. څو کمال دا دی چې تیروتنې کمې شي.

په واقعیت کې څیړنې او د نویو معلوماتو راټولول دا ډول منه لاره ده، چې د زده کړې او زده کوونکو د وضعې بهتري او ښه والی تضمینوي.

(۱) Learn how to learn.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځونه

اتوکلاین برگ ، روان شناسي اجتماعي ( مترجم : علي کاردان ) ، شرکت نشر اندیشه ، با همکاري موسسه انتشارات فرانکلین ، 1956 ، ایران .

ارا ستو .

احسان طبري ، بنیاد اموزش انقلابي ، ۱۳۵۰ .

پارسا ، محمد ، روان شناسي یادگیري بر بنیاد نظریه ها ، موسسه انتشارات ، چاپ رودکي ، ایران ، ۱۳۷۲ .

شعاري نژاد ، علی اکبر ، روان شناسي عمومي .

سیاسي علي اکبر ، مباني فلسفي ، وزارت اموزش و پرورش ، شرکت سهامي طبع و نشر کتب درسي ، ایران ، ۱۳۴۵ .

ردوث ، مکتب های روان شناسي ( ترجمه : رضا بهرامي ) ، ۱۳۴۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انګلیسي اخځونه:

(1) James. w. The Principles of psychology 1990. N.Y : Holt.

(2) Hilgard. E.R. and Brown. G.H. Theories of learning. (3 rd). New york. Appleton century. Croft. 1966.

(3) lewin. kurt. principles of Topological Psychology. Newyork. MC Graw Hill. 1936.

(4) Rogers. clark R. Freedom to learn columbus, ohio. charles E. Merll Publishing Co. 1969.

(5) Rogers. clark. R. Freedom to learn. columbus. ohio.

(6) Skinner. B.F. Science and Human. Behavior. 1953.

(7) woodworth. R.S.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ختیځ د بیا رغونې اداره (کور)

## Khatiz Organization for Rehabilitation (KOR)

د ختیځ د بیا رغونې ادارې (کور) د خپرونو څانګې تر اوسه خپاره کړي دي:

۱. د سند باد پېښې، د ماشومانو لپاره په زړه پورې مصورې کيسې
۲. د طرابلس زمریان ، د لیبیا په مظلوم ولس د ایټالیایي یرغلګرو د ظلم انځورونکې قصه
۳. ولسي ملغلرې، د پښتو متلونو او ولسي قصو مجموعه
۴. لنډۍ، د ۴۰۰۰ په شاوخوا کې لنډۍ، راټولونکی سیدا ګل غریبیار
۵. د خوب نړۍ، خوب د ساپوهنې له نظره
۶. د سینې ناروغي او توبرکلوز، د طب د زده کوونکو او ډاکټرانو لپاره طبي کتاب
۷. تشخیصي راډیولوژي، د طب د زده کوونکو او ډاکټرانو لپاره طبي کتاب
۸. جراحی اعصاب (جلد اول)، کتاب طبي برای محصلین طب و دکتوران جراح
۹. رهنمای عملي کاربرد دواها، کتاب رهنما برای نسخه نویسي درست ادویهٔ اساسي
۱۰. د کمپیوټر اساسات، وینډوز او کمپیوټري محاوره د کمپیوټر په اړه بشپړ معلومات
۱۱. The Ethenic Composition of Afghanistan
۱۲. اوښکې د ښو په سر، د ډاکټر محمد یونس مروت شعري ټولګه
۱۳. رهنمای عملی طبابت اطفال
۱۴. د جزا قانون شرحه، لومړی کتاب، د کلیم الله ملکزي لیکنه او څېړنه
۱۵. د درملو د استعمال عملی لارښود، ډاکټر مالتې وان بلومردر
۱۶. د اپینو لار، تاریخي قصه، استاد عبدالغفور برېښنا
۱۷. د اروا پوهنې ښوونځي، د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي درسي کتاب

چاپ ته چمتو:

نغورې او نغوتې (ولس نامه)، لطیف جان بابي

د خپلو کتابونو د تصحیح، ټایپ، ډیزاین او چاپ له پاره زمونږ سره په دې پتو په تماس کې شئ:

Dr. M. Farid Bazger
G.P.O. Box 607, Peshawar, Pakistan
Tel. +92-91-841280. 845637, 45504 یا 844202 Fax. +92-91-841089
E-mail Dr Farid Bazger: ora.peshawar@altavista.net

او یا د دعوت د خپرونې له لارې: C/O M.Tariq Bazger

P.O.Box 289, 2001 Lillestrom, Norway
Phone: 63875971
Fax: 63875971
E.mail: bazger@c2i.net, Website:http:/home.c2i.net/dawat

(c) ketabton.com: The Digital Library

ARIC
B
6.40
HAK
8865
Cop - 2

Ministry of Higher Education
Kabul University
Faculty of Education

# SCHOOLS OF Psychology

Prof. Gul Rahman Hakeem

Published by: Khatiz Organization for Rehabilitation(KOR)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library